


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# إهداء

هغه عزتمن انسان ته چې :

د وحي په رڼا کې يې د دارينو دسعادت لاره موندلې ، د ژوند په ټولو چارو کې يواځې دالله ( برحق معبود ) بندګي منلې ، په الهي امر دبشريت حقيقي نيکمرغئ لپاره د طاغوت (باطلو معبودانو) د نابودولو ملا تړلې او تر هدف يا شهادت پورې له خالق سره په ژمنه لکه پامير ټينګ پاتې شوی ، ددې ورې هڅې زيار اهداء کوم .

( ژباړن )

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دپامیر په لمنو کې

ليکوال : دکتورنجيب "ګيلاني".

ژباړن: عبدالصبور "غفورزی" .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دکتاب پیژندنه :

دکتاب نوم: **د پامیر په لمنوکې**

لیکوال: دکتورنجیب «گیلاني»

ژباړن: عبدالصبور «غفورزی»

کمپوز: مولوی نورمحمد

دپښتی ډیزاین: فیهاش

دچاپ تاریخ: ۱۴۲۷ هجری قمری ـ ۱۳۸۵ هجری لمریز

تعداد: ۱۰۰۰ جلده

خپرونکی: **میوند خپرندویه ټولنه اومطبعه**

کابل: دفارمیسی دریاست ترخنگ، مطبعهء معارف ته مخامخ

ټیلفون: ۲۱۰۳۵۶۹ موبایلونه: ۷۰۲۸۴۹۵۴ ، او ۷۰۲۹۵۲۱۴

اودصدارت څلورلاری، دسبا کتابخانه، ټیلفون: ۲۲۰۰۴۵۵

موبایل: ۷۹۳۲۰۳۶۶ ، پوست بکس: ۱۲۷۸

**E-Mail maiwand@asia.com**

دچاپ ټول حقوق محفوظ دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دژباړې سریزه

الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین محمد وعلی آله و أصحابه أجمعین وعلی‌من اتبع هداه إلی یوم الدین ... وبعد :
شرقي ترکستان چې اوس مهال تقریباً (۷۱۰ر۱) زره کیلو متره مربع مساحت او (۱۵) میلونه وګړي لري ، په (۹٦) هـ ق کال داسلامي فاتحانو نومیالي سالار قتیبه ابن مسلم الباهلي په لاسونو فتحه او داسلام رڼا ور رسېدلې ده.
چینایانو دغه ټاټوبی په (۱۸۷۸) م کال هغه مهال ښکېل کړ چې سلطان یعقوب بېګ (۱۸٦۳ –۱۸۷۸) م پرې واکمن وو، او ترڅیولو وروسته د شرقي ترکستان نوم یې په (سنکیانګ) بدل کړ چې د (نوې مستعمرې) په معنی ده ، ددغه ملک مسلمانانو د پردیو یرغلګرو خلاف بار بار پاڅونونه وکړل او په سلګونو زره پکې شهیدان شول ، دمبارزې په اوږدو کې یې لومړی خل په (۱۹۳۳) م کال ترکستانی جمهوریت تأسیس او اعلان کړ، مګر لږه موده پس د استعمارګرو له خوا رنګ کړای شو ، او په دوهم خل په (۱۹۴۵) م کال یې جمهوریت بیرته اعاده کړ چې په (۱۹۴٦) م کال کې مسلمانانو د روسانو په سخت فشار د چینایانو له سروال جنرال (شانګ کای شیک) سره د ذاتي استقلال په بدل کې سو له وکړه خو چینایي حکومت پخپلو ژمنو ټینګ پاتې نشو او ښکېلاکګر پوځونه یې په (۱۲- ۱۰- ۱۹۴۹) م تاریخ شرقي ترکستان ته ور ننوتل.
ماووئیستي کمونستانو هم (۱۹۴۹- ۱۹٦۵) م دخپلې واکمنۍ په دوران کې لکه د خپلو اسلافو په څیر ډیرې ناخوالې پر دې کړیدلي اولس راوستلې ، شاوخوا (۱۲۰) زره دعلم ، فن او فرهنګ خلک یې ترې شهیدان کړل ، اسلامي املاک ، مؤسسات او شتمنۍ یې مصادره کړې ، دانقلاب ضد عناصرو دټکولو په نا مه یې ټولې اسلامي ډلې او ټولنې تر یرغل لاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ونیولې او له یوه سره یې نابودې کړې ، د ترکستاني مسلمانانو دهویت د له منځه وړلو او د نړۍ له نقشې څخه ددغه اسلامي ملک د محو کولو په موخه یې دچین له مختلفو سیمو څخه دبودایي چینایانو په اجباري کډونې او په شرقي ترکستان کې په میشتونې پیل وکړ .

په شرقي ترکستان کې په (۱۹۴۹) م کال د بودایانو له اجباري میشتونې مخکې مسلمانان ۹۵٪ او بودایان ۵٪ ول ، چې له میشتونې وروسته د بودایانو فیصدي ۴۷٪ ته لوړه ، او د مسلمانانو فیصدي ۵۳٪ ته را ټیټه شوه ، چې ښایي په راتلونکي کې تر دې هم را ټیټه شي څکه دچین لوړ پوړو چارواکو په څرګنده ویلي : ( دغه مسلمانه سیمه د ۲۰۰ ملیونو چینایي بودایانو د مېشتېدنې ظرفیت لري ! ).

دچین مشهور انقلاب (۱۹٦٦- ۱۹۷۵) م کلونو په دوران کې چې په فرهنګي انقلاب شهرت لري د ملک ټول مساجد وتړل شول او مسلمانان له مذهبي شعایرو منع کړای شول ، ټول اسلامي کتابونه ممنوع اعلان شول ، په عربي ژبه او حروفو لیک لوست بند او چینایي ژبه پر مسلمانانو تحمیل او لازمي شوه.

شرقي ترکستان د لوی اسلامي جسد یوه برخه ده ، لکه اندلس ، فلسطین، کشمیر او .......چې د اسلام د دښمنانو له خوا غصب شوېده ، او د اسلام حنیف دین چې پدې خاوره کې د تاریخ په اوږدو کې فعال حضور درلود، اوس د له منځه تلو او محوکیدو په حال کې دی.

مونږ مسلمانان چې ددیني اصولو په اساس مکلفیت لرو په ستونزو کې خپلو ورونـو ته د مرستې او ږغورنې لاسـونه ورکـړو ، د عربي نړۍ نامتو ادیب دکتورنجیب ګیلاني هم ښایي همدې مسؤلیت ته د پاملرنې ، عقیدوي او انساني تړاو په بنسټ دشرقي ترکستان دغه لویه غمیزه دقیقه تر غور لانـدې نـیولې او بـیایې د اوږدو مبارزو دلړیو دیوې برخې هنري

(c) ketabton.com: The Digital Library

انځور پدې موخه چې غميزې ته د مسلمانانو مخه ور واړوي او له اسلامي بدن څخه تقريباً ديوې غوڅې شوې ټوټې د اعادې په فرائضو کې د يوه ګام په اوچتولو سره ونډه اخستې وي ، د ادب په ډګرکې پخپلو وتليو حساسو ګوتو دغه ارزښتناک انځورکښلی وي.

دژباړې موخه هم تر دې بله نده چې پښتون غير تې قوم دخپلو کشالو د اوارولو تر څنګ د اسلامي نړۍ له نورو کشالو خبر او په اوارولو کې يې ونډه واخلي ، او لدينه چې داسلامي امت دکړاوونو شپې يو بل ته سره ورته دي ګوندې د دغه غملړلي داستان لوستل زما د قوم په سياسي بصيرت کې اضافه راولي ، ديني احساسات يې لا ژوندي کړي او ايماني غيرت يې لا پياوړی کړي چې له روان دردوونکي حالت نه دوتلو لار تشخيص کړاي شي او مناسب تصميم ونيسي ، داسې تصميم چې کم تر کمه د اندلس د نورو خويندو دزيږيدو مخه ډپ کړي! باذن الله .

په پای کې بايد ووايم چې له محترم ورور مولوي نور محمد څخه د زړه له کومې منته کوم چې د خپلو ډيرو مصروفياتو سره سره ددې کتاب دکمپوز کار يې په ډېر اخلاص تر سره کړ ، او همدا رنګه طارق جان غفورزي ته له الله نه قوي ايمان ، پراخ نافع علم او له باطل سره د مبارزې په ډګر کې ثبات غواړم چې په تنکي عمر يې د املا يې تصحيح او ترتيب چارې په ډيره مينه سرته ورسولې ، نور نو دا تا سو او دا مو د پامير لمنې .

په درنښت
عبد الصبور"غفورزی"
پيښور - هجرت کلی .
۱۳۸۵/۵/۵ش .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دداستان شخصيتونه :

- حاجي خوجه نياز ( دكومل متدين درووند مشر ) .
- دكومل امير .
- شهزادګۍ ( داميرلور ) .
- نجمه ( داميرپه كوركۍ خادمه ) .
- مصطفى مرادحضرت (داميرد كور محافظ ) .
- منصوردرغا ( دمصطفى مرادحضرت مجاهد ملګرى ) .
- جين شورين ( دچين تولواک ) .
- دكومل چينايي حاكم .
- شين سي ساى ( چينايي كمونست مشرچې دجين شورين په خلاف يې كودتا وكړه ) .
- خاتون ( تركستانۍ ميرمن چې تيرى پرې شوى )
- چين لي (چينايي قوماندان ) .
- جنرال شريف خان ( دمجاهدينوقوماندان ) .

دداستان دوومي شخصيتونه .

- حاجي سيد ( دمركزي استخباراتو مسئول ) .
- باودين ( چينايي برغلګر ضابط چې له نجمې سره اړيكې لري ) .
- جنرال عثمان باتـور ( دتركستاني جهــادپــه يوه مرحله كې د مجاهـدينو امير ) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



(١)

دمکې مکرمې مقدس ښار دبیت الله له حاجیانو خوټیږي ، د کعبې شاوخوا ته ډېر لوی مخلوق راټول شوی چې بېل بېل رنګونه لري او له مختلفو هېوادونو راغلي ، تور رنګي له افریقا، سپین له اروپا او امریکا، ځانګړي ژېړ رنګونه له لېرې پرتو آسیايي هېوادونو راغلي ، عرب او عجم په ځپاندو ډلو روان دي، تکبیرونه او تهلیلونه وايي، دبیت الله طواف کوي ، د صفا او مروا تر منځ سعي کوي ، په مقام ابراهیم کې لمنځونه کوي ، او یا هم زمزمو ته په ځان رسولو کې یو تر بله مخکې کېږي ...
دلته پدې مبارک ځای کې خلک له هرې خوا راټولېږي یوله بل سره د وروری په فضا کې چلن کوي ، ژبې یې بېلې،رنګونه یې بېل، مګر یو شی چې دوي سره راغونډوي هغه پر الله ، رسولانو اوکتابونو ... ایمان دی...
دماسپخین تر لمانځه وروسته په مکه مکرمه کې د هستوګنځي په لور وخوځېدم ، د لارې په تنګو کوڅو کې چې واړه واړه دکانونه یې لرل سوکه سوکه روان وم .... هلته تسبېح ، جاینمازونه ، خولی ، د ماثوراتو واړه کتابونه او داسې نور شیان ... پلورل کېدل ، په یوه واړه دکان کې کېناستم، د دکاندار مخ ته مې وکتل د عمر په اوومه لسیزه کې ښکارېده، دمخ له رنګ ، نښانو ، او خبرو وپوهېدم چې عرب ندی ... څو جوړه ښکلې تسبېح مې په لاس کې وې چې ورته مې وویل:

- "تره! له کوم وطنه یې؟ ..."

له غم او درده په ډکو سترګو په خیر راوکتل ویې ویل:

- "د الله تعالی له پراخ وطنه ...."

- "پوهېږم .... مګر بیا هم ...."

نېغ شو، په اُښلنو سترګو یې په جګ آواز وویل:

- "له ترکستانه ...."

- "دالکه چې د ترکیې په ګاوند کې کوم هیواد دی؟..."

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نهیلیو شونډو یې ملنډنې مُسکا څرګنده شوه ویې ویل:

- "مسلمانان خپل ملکونه، نه پېژني!؟ .... څه کاره یې؟ ..."
- "داکتر یم ، د مصر یم. .."
- "دازهر شریف له ملکه یې او ترکستان نه پېژنې؟! خیر، حتماً امام بخاري ، امام ترمذي فیلسوف رئیس ابن سینا ، فارابي او لوی عالم البیروني ... خو پېژنې ؟ ..."
- "هو ، پېژنم یې...."
- "هغوی زما له وطنه دي. ..."

سړي شروع وکړه ، خپل نوم یې راوښود (مصطفی مراد حضرت) ترکستان یې رامعرفي کړ ، په لېرې شمال کې پرته ده ، استعمار ګرو په دوو برخو: شرقي او غربي وېشلې ده ، روسانو غربي ترکستان نیولی او د شوروي، له جمهوریتونو سره یې یوځای کړی ، او شرقي ترکستان چینایانو نیولی له خانه سره یې یو ځای کړی او ( سنکیانګ ) یې نومولی چې دنوې مستعمرې په معنا ده ، کمونیزم د ترکستان پر شرق او غرب وزرونه خواره کړي ... په دې توګه یو اسلامي ملک له لاسه و ووت ، چې په مدني ، تاریخي او رزمي لحاظ د الله تعالی یو له لویو ملکونو څخه وو .... دوهم اندلس یې بللای شو ... دمسلمانانو یو لوی عیب دادی چې له خپل تاریخه نا خبره د ي ، او دخپلو مسلمانو ورونو او اسلامي ملکونو په هکله ډېر کم معلومات لري ...

داسې ویناوې یې کولې او سپینه ږیره یې رپېدله ....بیا یې را وکتل او ویې ویل:

- "چای چښې ؟..."
- "بده نده .... مګر تېوله قصه به راته کوې..."

دچای پیاله یې له واړه هلکه چې لمسی یې ښکارېده اخیستله ، او ویل یې:

- "قصه ډېره اوږده غمیزه انځوروي .... حاجیان هر کال مکې ته راځي ، مناسک تر سره کوي ، بیا پر هغو روان شي چې پرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغلي وي ، آیا حج همدې لپاره پر مسلمانانو فرض شوی چې راشي او لاړ شي؟! داسې ګومان نه کوم چې وجیبه یې یوازې همداوي ... داسې څوک شته چې له مانه ددې بدمرغه مسلمان اولس چې په لور اوختک توکړې توکړې شول ، دغم داستان ، ددې مقدسې خاورې زائرینو ته ورسوي؟! هو کې .... کېدای شي ما ښام سره و وینو،ځیني کتابونه به هم درته راوړم ، خپله تولة قصه به هم درته وکړم ، قالب مې دلته دی خو قلب مې دپامیر په لمنو کې ، زه دلته یم خو نظر مې پر هغو تور سرو چې بورقې یې په زوره له سره پورته کړای شوې .... ولاړ دلته یم خو سوچ مې له هغو خپل شویو ښخوده شویو ځوانانو سره دی چې د الحاد ښودنې په موخه مکتبونو ته وړل کېږي ، هلته ورته لاديني ، درواغ او رنګ رنګ بې لارېتوبونه ورښودل کېږي چې خپل دین او تاریخ هېر کړي ، داسې انګېرم چې د مسجدونو پرګنبځو او منارو مې سترګې دي ، جسم مې دلته خو روح مې له هغو مستضعفینو سره دی چې د سایبېریا په شاوخوا په سینه څنېږي د ظالمانو په ستغو سپورو او د تعذیبونو په اور سوځي ، زه د شرقي ترکستان یم .... دادی قصه مې له اوله واوره ..."

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (۲)

دا ۱۹۳۰م کال دی ، د کومُل په ولایت کې اوسېږم ، چین دا ولایت په همدې کال لاندې کړ ، پس له نیولو منطقه د چینایي قوماندان په لاس پرېوتله ، هر څه به دهغه په خوښه تر سره کېدل ، لدې امله زړونه له غم او درده ډک وو ، او د هر چا په سترګو کې له ورایه ښکارېدل ، د کومُل بې وزلی امیر پخپله مانی کې اوسېده ، هغه تش په نامه امیر وو ، ما د سر په سترګو لیدل چې ډلې ډلې چېنایي کډوال به کومل ته راتلل ....او کوډاکي حکومت به دمسلمانانو له مغصوبه شتمنیو ښې ډېرې پیسې ورکولې چې خمکې پرې واخلي ، او کورونه پکې ودان کړي ، او هتی پکې ودروي ، زما عمر هغه وخت ۲۵ کاله وو ، قرآن کریم مې په مسجد کې حفظ کړی وو ، لیک او لوست مې په عربي ، او ملي ژبه زده کړي وو، زه په چینایي ژبه هم پوهېږم .... مونږ له چین سره په ګاونډ کې پاتې شوي یو .... او زه کولای شم چې د منګولیا د خلکو په ژبه وغږېږم چې مونږ ته لنډ دي او دروسانو تر نفوذ لاندې دي....

دلته چنګېز خان او اولاده یې اوسېدلې ... او دلته په هر رنګ او فن کې د اتلولی ډېرې قصې دي ....

او له ورځو نه په یوه ورځ ، چینایي واکمن یو فرمان صادر کړ چې له یوې څنډې نیولې تربلې پورې ټول هیوادیې له یوه سره وربېړداوه .. دې فرمان په هر ترکستاني اړینه کړې وه چې خپله لور او خور هغه چینایانو ته ورکړي چې غوښتنه یې کوي ، ولو که عقاید یې سره فرق ولري !....

د ملکونو لاندې کول لنډ مهاله وي ، او یوه ورځ به پای مومي او له دښمن سره به جګړه د ترپ او خرپ وي ... اما دا چې دښمن د وګړو احساسات تر پښو لاندې کړي ، شریعت ته یې په سپکه وګوري په دین پورې یې وخاندي ، دا د زغملو وړ ندي ....

چېنایي واکمن بې وزلی امیر خپل حضور ته وغوښت ، ورته وبې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- "امیره ! زه غواړم ستا زوم شم ، ستا ..."

د امیر رنګ ژیړ وتښتېد ، لاسونه یې په رپېدا شول ، په ضعیف آواز یې وویل :

- "حاکمه! ته پوهېږې چې دا کار نا ممکن دی..."

حاکم په کړس کړس وخندل :

- "امیره ! زه نا ممکن نه پېژنم ..."
- "دا دالله امر ده ..."
- "دا دزړونو کار دی ، نه د الله ... زما ورسره دزړه مینه ده ... "
- "دا یو تاریخي واقعیت دی چې فاتحانو د مفتوحه علاقو د عقیدې درناوی کړی..."
- "دا هغه خرافات دي چې زه پرې عقیده نلرم ... "
- "حاکمه ! دا کار ما لپاره له مرګه هم سخت دی..."

دحاکم مخ سور شو او چیغه یې کړه :

- "خبره یوازې ستا لور پورې اړه لري ..... ورشه خبره یې کړه ... او ته فقط یو څو ساعته وخت لرې ... "

ترکستانی امیر و ووت چې تش کالبد وو او په هېڅ نه پوهېده ... دا هغه سپکه وه چې تر هغې بله نه وه ، لویه مانۍ پرې تنګه شوه ، څمکې څای نه ورکولو ، له مېرمنې او اولادونو سره به څنګه مخ کېږي ؟ ژوند ته نور ارزښت پاته نه وو ، آیا غرونو ته وتښتي چې پانې او بوټې به خوري ؟ له وحشي حیواناتو سره به ژوند پیلوي ؟ چې غمیزه په سترګو ونه وینې؟ او که څه به کوي؟دې وضعې یې وزلی مظلوم امیردېرخواشینی کړی وو ، په رښتیا خواشیني هلته ډېره زیاته شي چې د شان ، واک او دبدبې خاوند امیر له داسې چارې سره مخ شي لکه دا!...

امیر خپلې مانۍ ته ننووت ، لرغوني تورې څوړندې وې ، تش توپک پر دیوالونو لکه دمړو ګډو بدبویه جسدونه ځړېدلي وو ، د نیکونو تاریخونه یې تر ګرډونو لاندې د سر په سر شوو پانو په غېږ کې په خواږه خوب ویده وو ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



مېرمنې يې ورو غونډې وويل :

- "څه درباندې شوي؟ ..."

اوښلنې سترګې يې ور واړولې ويې ويل:

- "د الله د امر په انتظار يم..."

پوه نه شوه ، ويې ويل:

- "څه غمېزه ده؟ زه پدې چينايي کافرانو کې خير نه وينم ..."

- "څوک چې الله نه پېژني ، هغه رحم او شفقت هم نه پېژني ..."

- "رښتيا دې وويل ..."

- "حاکم زما لور غواړي ..."

لکه ليوني يې چيغه کړه :

- "لورې راشه .... زما ګرانې لورې !..."

شهزادګۍ په بيړه راغله د پلار پر مخ روانه اوښکه يې ور پاکه کړه ...

- "زما خوږې شهزادګۍ .... بې عقله سرکوزی چينايي حاکم دې رانه غواړي... دا ناممکنه ده ... ستا راسره خوښه ده ؟..."

وړې شهزادګۍ چې پلار ته يې په غم او حيرانتيا سترګې واړولې وويل:

- "پلاره ! ددې معنی څه ده؟ ..."

ترکستاني امير وخندل ، مخ يې تک سور لکه سکروټه:

- "هو، اوس ډېر شيان شته چې بې معنی دي ، پخپله ژوند نور بې معنی دی ..."

- "مګر پلاره زه يې نه غواړم ...."

- "هغه دې غواړي ...."

- "لعنت دې وربانډې وي ...."

- "لعنتونه همېش پر ماتې خوړليو خلکو وي ..."

- "په کوم دين او قانون کې پېغله بې له خوښې په زور او جبر نکاح کېدای شي!؟..."

- "ګرانې لورې ! د غالب او مغلوب تر منځ نسبت او تړاو ديني بنسټونو او آزادو ارادو ته نه ګوري .. "

(c) ketabton.com: The Digital Library



حیران امیر خپل چار چاپېره وکتل ، ویې لیدل چې فضا دومره تنګونکې ده چې نژدې ساه یې بنده شي ، بې ارادې یې له هرشي سره لوبې کولې :

- "لورې ستا خوښه څه ده ؟ ..."
- "مرګ مې خوښ دی، نه دا ..."
- "ولې ؟ ..."
- "د الله أمر د چینایانو تر امر لوړ دی پلاره ..."

ولاړ شو ، شهزادګۍ یې په غېږ کې راونیوله ، د هغې په سترګو کې وژونکې حیرانتیا څرګنده وه ، لکه د ګلاب تازه مخ یې د ګبراوۍخبرې کولې ، په زګېرویو او ژړا سر شوه :

- "پلاره! ګمان نه کوم .... چې پېغله دې داسې راښکل شي .. ددار ځلۍ ته ورختل تر دې ډېر آسان دي .... "

پلار د لور روانې اوښکې وچې کړې ، په سره بخنو ژېړ چکه پستو وېښتانو یې لاس راښکه ، بیایې په ګلابي مخ په پلرنۍ مینه لاسونه راکش کړه ، بیا ودریده او څمکه یې په پښه وډبوله ، په لوړ آواز یې وویل:

- "دا ناممکنه ده .... "

مېرمنې په لړزېدلي غږ وویل:

- "یکار ده چې له تدبر او حکمت نه کار واخلې ...."
- "پوهېږم ، چینایي واکمن په دومره سادګۍ ماتې نه مني ..."
- "اوحتماً ډېر سخت تدابیر به ونیسي ...او ته چینایي واکداراز ډېر ښه پېژنې ..."
- "آخرین سخت کار چې کولای شي .... هغه څه ده؟ هغه زما د ژوند خاتمه ده ..."

مېرمنې یې په غمجن حالت سر وخوځاوه ...

ترکستاني امیر آواز وکړ :

- " مصطفی مراد حضرت ! ..."
- "امر وکړئ ، صیب !..."

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې حال کې حضور ته ورغلم چې پورته مې نه ورکتل:

- "مصطفی ! .... قلم کاغذ او مشوانی راوړه .... "

امیرکبښناست چینايي حاکم ته یې لنډ غوندې لیک ولیکه چې داسې پکې راغلي وو:

".... دا کار زما تر صلاحیته اوچت دی، څکه زمونږ دین اجازه نه راکوي، بله دا چې زما لور په واده کې رغبت نلري ، او زه هم د انسان په صفت د ګروهي او انساني ارزښتونو تر اثر لاندې یم ، او لرغونی چین هم نه غواړي د ګاونډیو دودونه تر پښو لاندې کړي ، يابې عقاید په پام کې ونه نیسي یا یې په احساساتو ملنډې ووهي ... دا موضوع دچین په عظمت او فاتحانه دریخ پورې اړه نلري ، دایوه څانګړې خبره ده ، د ملک له نیولو او د سیاسي او مادي شهرګونو له تر لاسه کولو وروسته کوم زیان نه در رسوي ، ته باور وکړه چې داسې یو کار به ډېرې بدې پایلې ولري ، چې د دواړو قومونو - چینايې او ترکستاني - تاریخي اړیکو ته به زیان ورسوي ، که ددې فرمان چې _ مسلمانې ترکستانی له چېنایانو سره په واده کولو اړینې کوي - پایلو ته زیر شو ، نو وبه ګورو چې ډېره خطرناکه لوبه ده ، لدېنه مې وېرونه او تهدید مقصد ندی ، بلکې د دوستانو مصلحت او په ملک کې د آرامی او امنیت ټینګوالی دی ، زه ستا په عقیده په هر عظیم او مقدس قسم درکوم چې پدې کې بیا فکر وکړه... ښايي د موضوع ټولې خواوې درته روښانه شي .... "

په درناوي

د کومُل امیر

دیسمبر ۱۹۳۰م

دا خبره په خلکو کې داسې خورېدله لکه اور په وچو خسو کې ، او ددنګې مانی له دیوالونو په چټکی واوښتله ، او د ښځو په منځ کې زمزمه شروع شوه ، نارینه وو په خواشینی او قهر سره تر لاسه کړه ... دهیواد ښکېل کېدل څه وخت لپاره د خلاصون تر مناسب فرصت پورې یو څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زغمل کېدای شي ، مګر د خلکو په خانګړو کارونو کې لاس وهل لکه دا او په عقيده او عزت لوبې کول بېله خبره ده ، چې ډېرې خطرناکې پايلې لرلای شي ...

کله چې چينايي حاکم ليک ولوست ، چې ما ور وړی وو ، په لاس کې يې تاو کړ ، بيا يې ګوزار کړ او لاړې يې پرې تو کړې .... بيا يې ما ته مخ کړ ويې ويل: ورشه بادار ته دې ووايه : " دماشومانو لوبې مکوه .... داد (چن يان چن) د چينايانو د لوی بابا قوانين دي ... او د ځمکې پر مخ داسې زورور نشته چې دهغه قوانين مات کړي ..."

زما مشر په هماغه شپه زندان ته واچول شو ، په هغه شپه ټول ښار وژړل ، لکه پرون يې چې دغزا په شهيدانو ژړل ، پدې شپه خلک پوی شول چې چينايې ښکېلاک د ځمکې له قبضې آخوا نور خطرونه له ځان سره لري...

همدې ته ورته – په نورو اشکالو - وحشتونه په غربي ترکستان کې چې روسانو لاندې کړي وو پېښېدل ، پدې شپه خوب د نارينه وو او ښځو سترګې پټې نه شوې کړای ! وايي چې ، تر ټولو بده غميزه هغه ده چې په يوه وخت کې ژړوونکې هم وي او خندونکې هم ، پېغلو هڅې شروع کړې چې يو مسلمان ته لاس ورکړي واده ورسره وکړي ، مخکې لدې چې ير غلګر پرې لاس کښېږدي او لکه دمردارې يې راکاږي ...

زما خپله يوه خندني قصه ده ... له يوې پېغلې سره مې مينه وه چې د يوه کال راهيسې بې د امير په مانۍ کې چوپړ کاوه .... هيڅ لاره يې راسره نه نيوله ، په واده نه راضي کېدله ، له ما نه يې د جګې پوړۍ سړی غوښته .... زه فقط دمانۍ يو ساتونکی وم ... او مانۍ ته به ډېر لويان راتلل .... خو کله چې امير زندان ته واچول شو ، په منډه منډه راغله چې مخ يې په اوښکو کې ډوب وو :

- "مصطفی !... دادی زه دې په خدمت کې يم ... "

زه په امير خوارکي ډېر غمجن وم ، خان راته له دنيا او دنياوالو پردی ښکارېده، په لوړ آواز مې ورته وويل:

- "نجمې رانه لرې شه . .."

(c) ketabton.com: The Digital Library



- "کېدای شي ما در سره ښه نه وي کړي ... خو زه درسره مینه لرم ... "

د زنداني امیر تصویر مې د خیال په څپو وو ، ددرنو مشرانو زولانه کېدو سوچ قدرې هم ډېر سخت وي ، چې بیا لکه مریانو راښکل کېږي ، یاالهي! دهغه مشهد هېرول د ژوند تر پایه ممکن نه دی ، امیر د چینایي سرېخورو په منځ کې هسکه غاړه روان وو ، پر مخ یې د بغاوت نښې وې په چوپتیا کې یې لوی راز وو ، په تسلیمۍ کې یې طوفان ، په خغلېدونکو کتو کې یې خونړی ویرووونکی غږ ...

زما پخوانۍ معشوقې وویل:

- "مصطفی ولې خواب نه راکوې ؟ دڅه انتظار کوې؟ که سرېخور چینایي راشي او درنه مې بوزي ، بیا به د ژوند تر پایه پښېمانه یې ..."

پداسې حال کې لکه د خپل زخمي غرور او احساس غچ چې اخلم ، ومې ویل:

- "زه داسې بیړنی واده نه کوم ..."
- "نادانه ! ستا دخوبونو دپوره کېدو وخت دی... زما د ژغورنې ، عزت او دین ساتنې وخت ... "

مخ مې ور واړوه ، ګورم چې سترګې یې له اوښکو ډکې شوې ، ومې ویل:

- "مه ژاړه ... مخونو ته نور نشم کتلی ، هرې خوا اوښکې ... دا ژوند نور د زغم ندی ، په ډاګه درته وایم چې څو امیر له زندانه وتلی نه وي ، زه واده نه کوم ..."

غور ته مې نژدې شوه ، ویې ویل:

- "لیونیه !... د امیر زمانه پای ته ورسېدله ، خپل مستقبل په ماضي پورې مه تړه ..."

له مټه مې ونیوله ، ټکان مې ورکړ ، ومې ویل:

- "نجمې دا خیانت دی ... "

(c) ketabton.com: The Digital Library



- "مصطفی ! ته اشتباه کوې ، زه له امیر او دهغه له کورنۍ سره داسې مینه لرم لکه خپل روح سره ... مګر پدې معنې نه چې فرصتونه له لاسه وباسو ، چې پدې به خپله امیر هم خوښ نه شي ..."

بې له دې چې موضوع فیصله کړم ترې روان شوم ، دامیر په مانۍ غم کېږدۍ وهلې وه ،مېرمن یې لکه لیونۍ تله راتله ، د مانۍ په دهلیزو کې بې اختیاره ګرځېدله ، نه خوراک نه څښاک ، زامن ، لونې ، خپلوان یې ترې تاوېدل ، غم ټول وریت کړي وو ، مګر وړه شهزادګۍ دمانۍ د لوی دالان په قیمتي فرش ودریدله ویې ویل:

- "که واده ورسره وکړم ، ویې وژنم خنګه به وي ؟ ..."

خبرې ته یې چا توجه ونکړه ، مګر هغه تاوېدله را تاوېدله ، په موضوع یې فکر کاوه ، په آخره کې موریې په اوږه لاس ور کېښود ، ډېره هوښیاره مېرمن وه ، ویې ویل:

- "خبره لدې ډېره لویه ده ... "

په بله ورځ د (کومُل) لارې کوڅې له بوړنوونکي ویښته سپینوونکې غمیزې ډکې وې ، چینایي پو لیسو پېغلې راښکلې او له چینایي کډوالو او پوځیانو سره واده ته یې مجبورولې ، د ترکستاني نه منونکیو پلرونو شاګانې پر قمچینو سرې وینې وې ، په قونداقونو وهل کېدل ، د سپکاوۍ لغتې یې خوړلې ، ډېر خلک ، درنې کورنۍ له ښاره په تېښته وې چې شپه شي نو غرونو ته به پناه یوسي ، او یا پراخو دښتو ته ، د غم شپې ورځې تېرېدې، زمونږ په ښار کې یو نومیالی متنفذ سړی وو ، چې (حاجي خوجه نیاز) نومېده عالم او متقي انسان وو، په رېښتني نارینتوب مشهور وو ، د کومُل حیران خلک د خان پوهونې لپاره ورتلل ، ده به ویل:

- "د کامیابۍ چارې در معلومې دي .... صبر او زغم ... تر مرګه جهاد ... د رسول الله صلی‌الله علیه وسلم له لیارې او وینا وروسته بله نوې لاره نشته ... وګورۍ... د اوسپنې چاره په اوسپنه کېږي ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



خومره چې زه پوهېږم ، بې دینه او بې عزته قومونه...داسې وي
لکه مړي ، ولو که خوراک څښاک تنفس هم کوي خو هغوي په
مړو کې حسابېږي... یواځې ددښمن په کړو وړو بد مه وایئ ،
مګر پخپل غفلت او تنبلی هم وژاړئ،خپله تسلیمي هم ورتئ ...
پوهېږئ که نه؟..."

مګر د جبر او ظلم لمن پلنېږي ، دچیغو کوکارو آوازونه لا جګ شول ،
متروکې پورته کېږي ښکته کېږي د بر بنډو جسدونو غوښې پرېکوي ،
ښځې د چینایي ظالمانه قانون له مخې پوخ ته بیولې کېږي ، نارینه
دخجالت او ذلت په احساس کې ډوب دي ، چینایي پوځیان خوشحاله
دي، په جګه جګه خاندي ، دښځو پر اندامونو له لاس راښکلو خوند
اخلي ، لکه د خرڅلاو رمه چې پلتي .... دکومُل ښار لکه کتوه خوټېږي ،
له وژونکي غم نه د وتو لار نه مومي ، امیر یې په زندان کې تروحشت او
تعذیب لاندې وختونه اړوي...او زه کمزوری بنده(مصطفي مراد حضرت)
څه کولای شم؟ د ګران ښار درانه مشر حاجي خوجه نیاز وویل:

- "مصطفی! ته خپل امیر ته په زندان کې ورشه ... ورته ووایه
چې... دلارې چارې غم وکړه ..."

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۳)

حق همېشه په دنیا کې حق وي ، هیڅوک یې مخالفت ته زړه نه ښه کوي، مګر کله چې نفسونه د هوی او هوس په خوسا ډنډ پربوزي ، بیا ډېر خله له باطله حق او له حقه باطل جوړېدای شي ، سره لدې چې زه اصلاً پولیس یم ، د مانۍ له ساتونکیو څخه یم ، خو د نرم طبیعت خاوند یم ، ډېره وړه بدي مې غوسه راپاروي ، په وړې سپکاوۍ مې کېنه طوفاني شي ، تر دې چې هغه ساده جینۍ چې مینه یې پرون زما په زړه کې وه ، تر چینایي فرمان مخکې یې په ما پورې خندل ، خو مینې یې زه لیونی کړی وم ، ببرنیو حالاتو یې رایه واړوله ، او هغه چې رایه اړوي ، ایا طبیعت یې هم ورسره اوړي؟ باور وکړه ... زه نه پوهېږم ، هر څه طوفاني او ګډ وډ وو ، په کومُل کې هېڅ شی پخپل حال نه وو ، چینایانو ته زمونږ له لونو سره واده هغه حق برېښېده چې څه باک یې نه لاره ، یو ساده او آسانه غوندې دلیل یې درلوده ، هغه دا چې انسانان ټول سره خویندې ورونه دي ، دین د هغو په ګمان له ټولنیزو کارونو سره کار نه لري ، او بریمن لورې هغوی وو ، دا چې زمونږ لونه یې په جنګ کې نیولیو شویو وینځو په څیر نه بلکې تر یوه قانون لاندې خپلولې خپله یوه مهرباني ګڼله ، دهغو په نظر چې هر څه وو، خو زمونږ ترکستانیانو په نظر لوی ظلم او زیاتی وو ، او که چینایان د الله په قانون فیصله نه کوي نو له جنګه خلاصی نشته .... مطلب داچې د مرګ میدان ته بیول کېدو ... په جنګ کې مو ناکامي په برخه شوه ، دهغه سختو بندیزونو سره چې پر امیر په زندان کې لګول شوي وو ، خو خینو خواخوږو او خادمانو ته د ورتلو او ملاقات اجازه وه ، بنایې مناسب فرصت په لاس ورشي حاکم ته دلور په ودولو رضا شي ، امیر په زندان کې معتکف وو لمنځونه او سوچونه یې کول ، د زمانې نادودو دردولو ، له مانۍ یې زندان ته کوز کړی وو ، او له آمریته یې ما موریت ته غورزولی وو ، دا ټول دیوه کافر له خوا چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله او رسول یې ایمان نه وو ، او د مات شویو امیرانو د غمونو حال احوال له ما و پوښته ... هغوی ډېرې اوښکې نه تویوي ، مګر دردونه په زړونو کې ساتي ، چې بیا وخوټېږي او روان شي ، لکه د اور بې رحمه آتشفشان ...

اریان دریان ورغلم پښې مې رپېدې ...

- "مصطفی بیا څنګه راغلې ؟ ..."
- "بې له تا چېرته په مونږ وخت تېرېږي ! ..."
- "تاسو مه بې حوصلې کېږئ،په دې کي به د الله حکمت وي..."
- "خلک دې غواړي ، زما باداره ...."
- "څنګه مې غواړي؟..."

په حیرانۍ یې راوکتل ، ومې ویل:

- "حاجي خوجه نیاز راته وویل ... "
- "څه یې وویل ؟..."
- "پکار ده چې امیر مونږ ته راو ووځي ..."

امیر په خندا شو ، د تپي شاهین په څېر یې پورته اُفق ته وکتل ، په وینا شو چې دغاړې پړسوب یې ګریبان ورتنګ کړی وو :

- "له ما سره خو د زندان کیلي ګانې نشته ..."
- "زندان دیوالونه لري ، باداره! ...."

امیر په عصبانیت وخندل ...

- "په یوازې خان یې څنګه ونړوم؟..."
- "خوجه نیاز ویلې ...که د زندان کیلي ګانې او د نړولو متې نلرې ... نو دخپل عقل په وزرونو کولای شې بهرته پرواز وکړې... "
- "درسته ده ، ولاړ شه حاجي نیاز ته ووایه ، امیر سبا درځي ..."

امیر په ربښتیا ویلو عادت کړی وم ، دوکه یې راسره نه وه کړې ، نو بهر ته مې منډه کړه ، پیغام مې خوجه نیاز ته ورساوه ، خوجه نیاز له ښاره بېرون له څو تنو مشرانو سره په خبرو اترو ، لمنځونو او تلاوت بوخت وو ، هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبر چې ما ددوی غوږونو ته ورساوه ډېر پرې خوښ شول ، اما پر خوجه نیاز ددېر اهتمام علامې څرګندې شوې ، خواشینی شو ، سترګې یې وارولې . لاسونه یې آسمان ته پورته کړل ، له خانه سره وغومبېده ...

- "یا الله ستا بخښنه غواړو ... یا الله ستا مرسته غواړو ... "

خنکو ته یې دخپلو تجربو خبرې بیا پیل کړې ، و یې ویل :

" لوی موضوعات او خطرناک حوادث په تجزیو نه حل کېږي ... او نه وسط حل مني ، او بریمن لوری مات لوري ته هېڅکله اصیل دکار شی نه ورکوي ، بلکې فضول او ردي شی ورکوي ، او زمونږ مظلوم ولس د دوو دوزخي دکتاتورانو تر منځ محاصره دی ، چې یو روسي او بل چینایي دی ، او مونږ د زهرجنو تورو توپونو ... او اور تر منځ راګېر یو ... دا هڅونې له ډېر لیرې کېږي ... زه په نړۍ کې صلیبي بلندویان او تبشیریان ډېر ښه پېژنم ، هغوی زمونږ له کمزوریو پوره ګټه پورته کوي ، ډلې ډلې په راورسېږي توکمیز او سکتوریز ( قومي او منطقوي ) تعصبونه به پاروي ، هغوی هره وسیله په کار اچوي چې له اسلامه مو وباسي ... پدې پوهېږې ؟ د همدې لپاره هغوی خپل پوخیان او پولیس زمونږ لونو سره د واده لپاره خانګړي کړي دي ، دې لپاره نه چې هغوی د پښتلو له کمښت سره مخ دي ... مګر هغوی غواړي زمونږ ارزښتونه او بنستونه له منځه یوسي ، اوتاسو ښه پوهېږئ چې همدې دیني ارزښتونو زمونږ پت او عزت د تاریخ په اوږدو کې ساتلی دی او مونږ پرې پایو .. "

***************

زنداني امیر پدې پوهېده چې پایله یې مرګ ده ، مونږ د مرګ کلمه څومره په آسانه تلفظ کوو ، یا یې پر کاغذ لیکو ، بې لدې چې زمونږ په نفسونو کې ویجاړوونکي احساسات وپاروي ، زمونږ امیر د مرګ په پوله او درشل ولاړ دی ... دا څه آسانه کارندی ... کله چې انسان ومري ښایسته نیمګړي خوبونه ترې پاتې شي ، د ارمانونو له خوانې څپاندې مینې ډک پسرلي سره مخه ښه وکړي ، او کله چې خان حق ته سپاري نو دخپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوبن واړه ماشوم سترګو ته ګوري ، او په سترګو کې یې د خوندورې قصیدې بیتونه لولي ، بیا نارینه او ښځینه دوستانو ته وګوري .... بیا دا سوچ ورشي چې لېږې ، تیارې ، بې حسه ، بې خبره کندې ته ور روان دی ، او اوږده موده هلته پایي ، ښایي زرګونه کاله .... هلته په قبر کې بې وسه ویده پروت ... شاوخوا ته خوځوونکي درنې پیښې کېږي ، دی پکې هیڅ نشي کولای ... ما شومان به خاندي ، ښایسته ، پستې تور سرې به موسکا کوي، خمکه به زرغونېږي ، باغونه به سمسور وي ، سر کښه ظالمان به په ملکونو ګډېږي ، لوبېږي ، هرڅه به تالا کوي ، مسلمانې نجونې به واده ته اړ باسي ... او هغه ... هغه امیر ...تر تورو خاورو لاندې بې وزله لکه وروست لرګي پروت دی....نو دا ویرونکی مرګ ندی ؟!...

د کومُل زنداني امیر چینایي حاکم ته په بیړه لیک واستاوه ، د څرګند شوي انکار او ممانعت په هکله یې بخښنه وغوښته ، وعده یې ورکړه چې پدې باب به دوهم خل سوچ وکړي ، ښایي ګټوره او نجات بخښونکې لاره ومومي ، حضور ته دملو غوښتنه یې وکړه ...

چینایي حاکم موسکی شو ، سترګې یې یوه شیبه پټې کړې ، د ښکلې شهزادګۍ او د واده دشپې د خوندونو په سوچ کې لاړ ، ګمان یې وکړ هر څه نور دده په واک کې دي ، دا ممکنه نه ده چې نور دې څوک خبره ماته کړي ، دا هغه څه دي چې همېش یې خواکمن بریمن لوری احساسوي ، ولو که د لنډې مودې لپاره وي ، پداسې وخت کې ټول بشریت ته د ترحم او عطف په سترګه ګوري ، دکبرجن سړیخور ترحم او عطف .... او حاکم وویل:

- "امیر دربار ته راولئ چې څه وایې؟..."

بې وسه غمجن امیره! نور خوشحاله اوسه ، دلاسونو او پښو په ولچکو او زولنو مه زوریږه ، او دا چې یوه ډله ناپوه چینایان درنه تاو دي ، په دنګو مانیو نازېږي ، ژېړ مخونه یې آسمان ته نیولي مه خفه کېږه او زړه مه خوره ... د کومُل امیره روان شه ، سترګې پټې کړه چې د سپکاوی حرکات ونه وینې ، ورشه خو په لاره ویښ او بیدار اوسه ، غوړونه بند

(c) ketabton.com: The Digital Library



وساته چې ستغې سپورې دې تر غوږه نشي ، او سترګې وتړه چې پېغوريزې نښانې او حرکات ونه وينې...

- "حاکم صيب ! سهار مو په خير..."

- "اميره ! ښه راغلاست ..."

امير زوړند سر کېناست ، تر هغې چې حاکم خپل اکثر سړي رخصت کړل، کله چې ټول ووتل ، ترکستاني امير د حاکم غوږ ته نژدې وويل:

- "داسې يو کار په زور نه تر سره کېږي..."

حاکم وويل:

- "له مهلت درکولو وروسته بله چاره مې نه ليدله .... او تا پخپله له شهزادګۍ سره زما واده رد کړ ..."

- "صيب !کولای شو له موضوع سره په نرمۍ چلند وکړو ..."

- "هغه څنګه ؟..."

- "له ما سره يوه طرحه ده ..."

- "هغه څه ده؟..."

اميرخپله طرحه وړاندې کړه ، چې دده په خوښې کېدو يې تاکېد کاوه ، چې له ديني عالمانو سره مشورې وکړي ، او خبره ورسره شريکه کړي ، ښايي هغه فتوی تر لاسه کړي چې دا رنګه نکاح ته جواز ورکوي ، او د زړو پخوانيو کتابونو له منځه ورته دلايل را برسېره کړي ، که امير د علماوو له خوا د مهر شوي فتوی په لاسته راوړنه بريالی شي ، ستونزه به حل ، آرامي به خوره او ټول ملک به ښېرازه شي...

حاکم موسکی شو ، په برېتو يې لاس کش کړ ، وغو مبېده :

- "وينم چې سره نژدې کېږو ... فاصلې مو سره لنډېږي ... باور وکړه چې د امارت پر کرسۍ دې پاتې کولای شم ، خکه ټول چينايي مشران مې خبره مني ..."

حاکم ناڅاپه په لوړ آواز وخندل ، چې امير ورته حيران شو ، ويې ويل:

- "فکر کوم ، اوس نو ډېر زيات خوشحاله يې؟..."

(c) ketabton.com: The Digital Library



- "امیره توله خوښي زما ده ، هرکله چې وانګېرم شهزادګۍ زما په منګولو کې ده ... ماشومان به راته وزېږوي ، دا مې دهیلو او خوښیو انتها ده . نژدې ده له خوښۍ لیونۍ شم ... سره یوه خوشحاله کورنۍ به شو...نور به هلته غالب او مغلوب نه وي...."

دده دا پوچه فلسفه چې د وروري او انسانیت تر پردې لاندې پټه ده ... زه ترې سخت نفرت لرم ... زما بې وسې لور دده منګولو کې ؟! زه ورته نژدې کېدای نشم او کانګې راځي ، نو دهغې مسکېنې به څه حال وي چې ددې ځناور په لاسو کې وي ؟! ... زما لور به لدې وحشي ځناور سره څنګه ناسته ولاړه کوي؟ خکه انسان ځانته وینه ، غوښه او رنګ ندی ... بلکې فکر او عقیده هم ده .... هغه مهم او لوی شیان چې انسان پرې ایمان لرې ، هغه مې اړینوي چې ورته وګورم ویې ارزوم ، یا یې ومنم یا یې رد کړم ، فکر دی چې غوښې او هډوکو ته معنی او ارزښت ورکوي ، د منلو وړتیا او شفافیت ورکوي ... فکر دی چې انساني هیکل رانغاړي ، جامې ور اغوندي ... اړینوي یې چې موسکا وکړي ، د وړتیا موسکا، خبرې وکړي . خوږې خبرې ، انسان ترې جوړوي ....

حاکم له ځانه سره وبونګېد:

- "ته دترکستاني او چینایي ترمنځ په توپیر قایل یې؟ ..."

- "هو ولې نه؟ ..."

حاکم امیر ته تروه وکتل:

- "څه وایې ؟ ..."

- "چېنایان بریالي دي .... "

حاکم په زوره وخندل ویې ویل:

- "دا ښکاره خبره ده ، مونږ تل بریالي یو ... دا زمونږ په تاریخ کې څرګند ټکی دی ..."

امیر ځواب ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- "هو ، دافیونو (۱) د جګړې راهیسې او له هغې مخکې !..."

دحاکم مخ سور شو ، داسې یې تصحیح کړه:

- "خو ښکېلا کي برياوې ندي توانیدلي زمونږ شخصیت له منځه یوسي ..."

لږه چوپتیا خوره شوه ، چې بیا چینایي حاکم داسې ماته کړه :

- "علماء وایي چې مونږ هغه قوم یو چې د بریاوو صفات لرو ...."

- "دا څنګه ؟ ..."

حاکم دامیر په طرف راتاو شو ، په ټوله پاملرنه یې تفصیلات ورکول ، چې د وراثت علماوو په اثبات رسولې ، که یو چینایي له یوې اروپایي ښځې سره واده وکړي ، نو اولادونه یې په چینایي صفاتو دنیا ته راځي ، داد هغو جینونو دقوت له وجې چې زمونږ په جسمونو کې دي ....

امیر په حیراني ځواب ورکړ:

---

(۱) د افیونو جګړه (۱۸۴۲ - ۱۸۳۹) م:

چینایانو د اولسمې (۱۷) میلادي پېړۍ‌په پای کې د افیونو استعمالول پیل کړل ، چې له هند او ترکیې ورته راتلل ،بدې تجارت کې غربي حکومتونه خپلو سوداګرو ته د نفوذ په ترلاسه کولو کې پاتې راغلل ، خو کله چې چینایي امپراطورۍ د افیونو په راکړه ورکړه د بندیز فرمان صادر کړ ، برتانویانو په ډېر مقدار کې افیون چین ته قاچاق کړل ، مګر د چینایي حکومت له خوا په (۱۸۳۹)م کال لوی مقدار یې مصادره شو ، برتانویانو دغه واقعه د لوی یرغل پلمه وګڼله او د دوارو هیوادونو تر منځ جګړه ونښتله ، برتانویانو دغه جګړه په ډیره آسانۍ وګټله ، بالآخره د دوارو تر منځ د ( نانکینګ ) معاهده لاسلیک شوه چې تر مخه یې چینایان مجبور ول خپل پنځه (۵) بندرونه د برتانوي تجارت پر مخ پرا نیزي . د جګړو له پایلو څخه دا هم وو چې هانګ کانګ د برتانویانو لاسته ولوېد ، د چین پر اقتصاد بهرنیان مسلط شول، آن تر دې چې داخلي ګډوډیو او د بهرنیانو د فشار په نتیجه کې چینایي حکومتي نظام ډېر زیات کمزورۍ شو او د ملک ټولې دروازې د بهرنیانو د لاس وهنې او استفادې لپاره خلاصې شوې . ( ژباړونکی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



- "او دا جینونه څه ته وایي ؟..."
- "زه هم پرې نه پوهېږم ... خو خلک همداسې وايي.... "
- "یا الهي! ... ولې مو خپلې لونې او اولادونه پلورل؟... "
- "دا کار شوی وو ... خو د ولوږې او سختیو ورځې وې ... نور راته هغه له غمونو ډکې ورځې مه یادوه...."

ناڅاپه د چینایي حاکم وچولی تریو شو ، دبدلون نښانې یې پر مخ را څرګندې شوې را ولاړ شو ، په واړه دهلېز کې څو قدمه مخکې ولاړ ، بېرته را وګرځېد په لاس کې یې دبېکاره شرابو بوتل وو ، په غوسه یې ترې غړپ کاوه په غمجنه لهجه یې وویل:

- "ډېر کلونه مې وپلټله .... "
- "حاکم صیب ! څوک یادوې ؟ ... "
- "خور مې .... "
- "په جنګ کې ورکه شوې وه؟ ... "
- "دافیونو په جنګ کې تښتول شوې وه ... د جاهلانو پر هغو خبرو باور مکوه چې وايي ، مور یې دنورو اولادونو دساتنې لپاره پلورلې وه ، دا درواغ دي ... د،واغ ... درواغ ... "

امیر له ځایه پاڅیده او ويې ویل:

- "حاکم صیب! ته مه وارخطا کېږه ... زه له علماوو سره دسلا مشورې وروسته له داسې احوال سره به درشم چې ښه به پرې خوشحاله شې ، اوس نو دتلو اجازه راکوې؟ ..."

چینایي حاکم بېرته خپل عادي حالت ته راوګرځېد ، د شرابو پیاله یې ښي خوا ته وارتوله ...

- "هو کې ، دکومُل امیره! کولای شې چې آزاد ولاړ شې ... او بیا به د واده په شپه ډېر شراب وڅښو ... وبه نڅېږو ، سندرې به ووایو ... او دغالب صفت لرونکی جنس به هم معلوم شي ... په ختیځ او لویدیځ کې ډېر جنګېدلی یم ، برى به تل زما وو ... مرګ ساده خبره ده ... ما هیڅکله پکې فکر ندی کړی ... ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



- "او دا جینونه څه ته وایي ؟..."
- "زه هم پرې نه پوهېږم ... خو خلک همداسې وایي.... "
- "یا الهي! ... ولې مو خپلې لونې او اولادونه پلورل؟... "
- "دا کار شوی وو ... خو د ولوږې او سختیو ورځې وې ... نور راته هغه له غمونو ډکې ورځې مه یادوه ...."

ناڅاپه د چینایي حاکم وچولی تریو شو ، دبدلون نښانې یې پر مخ را څرګندې شوې را ولاړ شو ، په واړه دهلېز کې څو قدمه مخکې ولاړ ، بېرته را وګرځېد په لاس کې یې دبېکاره شرابو بوتل وو ، په غوسه یې ترې غړپ کاوه په غمجنه لهجه یې وویل:

- "ډېر کلونه مې وپلټله .... "
- "حاکم صیب ! څوک یادوې ؟ ..."
- "خور مې .... "
- "په جنګ کې ورکه شوې وه؟ ... "
- "دافیونو په جنګ کې تښتول شوې وه ... د جاهلانو پر هغو خبرو باور مکوه چې وایې ، مور یې دنورو اولادونو دساتنې لپاره پلورلې وه ، دا دروغ دي ... د،واغ ... دروغ ... "

امیر له ځایه پاڅیده او ویې ویل:

- "حاکم صیب! ته مه وارخطا کېږه ... زه له علماوو سره دسلا مشورې وروسته له داسې احوال سره به درشم چې ښه به پرې خوشحاله شې ، اوس نو دتلو اجازه راکوې؟ ..."

چینایي حاکم بېرته خپل عادي حالت ته راوګرځېد ، د شرابو پیاله یې ښي خوا ته وارتوله ...

- "هو کې ، دکومُل امیره! کولای شې چې آزاد ولاړ شې ... او بیا به د واده په شپه ډېر شراب وڅښو ... وبه نخیږو ، سندرې به ووایو ... او دغالب صفت لرونکی جنس به هم معلوم شي ... په ختیځ او لویدیځ کې ډېر جنګېدلی یم ، بری به تل زما وو ... مرګ ساده خبره ده ... ما هیڅکله پکې فکر ندی کړی ... ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترې وېره نلرم ... زر دفعې ورسره مخ شوی یم ... زه لا دا دی تر اوسه هم جنګېږم او بریالی کېږم ... دا دی د کوم‌ل ټولواک یم زما ټوله خوښي په بریالیتوب کې ده ... تر دې هاخوا په بل څه کې فکر نه کوم ، امیره ! ... تاسو په جنت او دوزخ کې زیات فکرونه کوئ ... "

- "دا خکه چې هغه یو حقیقت دی ... "
- "هغه څنګه ؟ ... "
- "ستا په لاس کې دا اوس دشرابو ډک جام دی؟ ..."
- "هو ..."
- "دجام هغه خوند ،نښه او سرمستي چېرې ده؟ ..."
- "سرمستي؟ ..."
- "هو ، خوند ، سر مستي او سرخوشي چېرې ده؟ ..."
- "دا خو څه ماده نه ده ... پدې باره کې مې د لېنن ، مارکس او انګلز په کتابونو کې څه ندي لوستي ، دشرابو له نښې خکه ندي غرېدلي چې ماده نه ده ...."
- "مګر ته خو یې محسوسوې؟ ..."
- "هوکې ، خکه خو یې چښم ، که مې نه محسوسوله بیا مې نه چښل ..."
- "موجودیت یې ثابت دی؟ ..."
- "هو امیره ، ثابت دی ..."
- "زه غواړم چې لمس یې کړم..."
- "خو نه یې زه لمس کولای شم ، او نه ته .... "

امیر وبنګېده:

- "اصلي خوند او حقیقي نښه د الله تعالی په جنت کې ده ... او زه یې دا اوس بې جامه او بې پیالې محسوسوم ..."

********************

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۴)

امیر مو راغی ، لکه څنګه چې تللی وو ، هغسې نه وو ، ما یې پر مخ شاهانه سترګې ونه لیدې ، ښکلې جامې یې اچولې وې ، ساتندوی ګارډ یې خارنه کوله ، د شرف ګارډ شاوخوا ترې روان وو ، دمانۍ دروازې یې پر مخ خلاصې وې، په ښکلو جامو کې خادمان او نور مانیوال چې له امیر نه راتاو وو ، عقل ورته حیرانېده ، مګر مولا مې لدې ټولو سره سره ډېر خاکساره وو ... مخ یې راتاو کړ په غور کې یې راته وویل:

- "مصطفی !... دا چې امیر یې ، یعنې څه ؟...."

د سوال په معنی یې پوی نه شوم ، وربړدېدم ، ژبه مې دخوځېدونه وه ، په قهر جن غږ یې وویل:

- "خواب راکړه احمقه !..."

ټکنی شوم غاړه مې صافه کړه :

- "چې خلګو ته منلی وې ... دا شاوخوا ټول شان اوشوکت درسره وي ..."

ترخه خندا یې وکړه او ویې ویل:

- "امیر هغه ته وایې چې خپلواک وي ، اوله ځانه راضي وي ... "

مایې پر خبره څه ونه ویل ، په خواشینۍ یې زیاته کړه :

- "نو چېرته ده هغه خپلواکي ، او زه څنګه له ځانه راضي شم ، چې غلیم وینم پر خمکه فساد خوروي زمونږ عزت لوټي ... ای مصطفی !... زمونږ عزت زمونږ دین دی ..."

بیایې هغو لېرې غونډیو ته اشاره وکړه ، کوم چې له ډېر لېرې والي صحیح نه ښکارېدل ، او ویې ویل:

- "هلته په هغو غونډیو کې څه خپلواک باتور شپانه اوسېږي ، د تیري او ظلم څپو لاندې نشو کړای ، تور سري یې په زور ندي نکاح شوي ... هغوی د وزو شیدې چښي خېټه مړوي ، له وړیو یې اوبي او اغوندي ، یواځې دالله بندګي کوي ، او له الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرته بل چانه ، نه ویریږي ... آیا پوهیږې؟ هغوی بې تاجه شاهان او امیران دي ، مصطفی ! زړه مې ډیر زیات پر هغو بایللی دی ... غوارم له هغوی سره یوځای شم ..."

داده مې وویل:

- "هغوی ټول ستا رعایا دي ، باداره!..."

- "مصطفی ! مریان رعایا نلري .... او مریان غیر له زنځیرونو او سپکاوی نور څه نه پیژني ...."

بادار مې مانۍ ته غمجن دلګیر ننووت ، کورنۍ ترې راتاوه شوه ، بیا له هرې خوا د عالمانو ډلې او د قومونو مشران راغلل ، ماښام ته یې یوه تاریخي نه هیریدونکې جرګه راوبلله ، چې حاجي خوجه نیاز هم پکې وو، ټول لویان پټې غاړې ، ټیټ سرونه ناست وو ، زما مشر امیر وویل:

- "درنو حاضرینو! حتماً باید هغه ځای ته وګرځو له کومه چې راغلي یو..."

- "څنګه؟ ..."

دا پوښتنه خوجه نیاز وکړه.

امیر ځواب ورکړ:

- "باید شاهانه او ملکانه لباس او چینې له ځانه وغورزوو او بیرته بزګرۍ، د اوښانو ، ګډو، وزو شپونتوب ته مخه کړو ... او بیا له سره جهاد پیل کړو ، که مړه شو دابه مو عزت وي ... او که بریالي شو او پاتې شو ... نو بیا به ووایو چې مونږ امیران یو اما ، مات شوي امیران ندي ... او پکار هم نده چې په غلامی حکومت وکړي ... دمات شویو په حکومت کولو ځان راته مسخره ښکاري ، زه امیر یم خو کرغیړن چینایي په ما حکمونه چلوي ، آیا دا پخپله لوی ذلت او عذاب ندی؟ !..."

مګر حاجي خوجه نیاز دچوپتیا هغه وریځې ترغې په ترغې کړې چې دمانۍ پر اُفق خورې وې ، ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- "امیر صیب او درنو حاضرینو! پکار ده چې دچینایي حاکم نظر ومنو..."

حاضرین تول هک پک شول او سخت مخالفتونه شروع شول ، خو امیر موسکی شو په آرامه یې وویل:

- "زه له خوجه نیاز سره موافق یم ... واده به زما په مانۍ کې وي او چینایي حاکم به زما ګرانې لور سره واده وکړي ، دکومل د اولس له خوابه دقربانۍ ګډ ( فدیه) شي ، او خلک به له ورانوونکي ویجاړونکي جګړې وژغورل شي..."

د علماوو یو تن چیغه کړه ویې ویل:

- "الله ...."

امیر خواب ورکړ:

- "الله له مونږ سره دی ... یوازې به مونه پرېږدي..."

عالم بیا وویل :

- "چې مونږ یې شریعت تر پښو لاندې کوو ، نو الله به څنګه له مونږ سره وي؟..."

بونګېدل او غومبېدل زیات شول ، حاضرینو پسپسکې شروع کړې، له امیر سره غوړونه جنګوي . بیا خوجه نیاز ته ورخي ، پداسې بڼه چې دلاسونو او شوندو له خوځیدا او په سترګو کې د حیرانۍ او وېرې پرته نور څه نه لیدل کېدل ، په بله ورخ چینایي حاکم ته لیک واستول شو چې پکې راغلي وو :

رامیر دلور په واده له تاسو سره راضي شو ، د واده مجلس به دکومل په مشهورې مانۍ دامیر په هستوګنځي کې وي ، دعوت عام دی ، دچینایي حکومت تولو پوځي او ملکي چارواکو ته د حضور بلنه ورکول کېږي).

چینایي حاکم له ډېرې خوښۍ نژدې وو لیونی شي ، مذهبي نیوکه له مخې لېرې شوه، دامیر اودعلماوو په خلاف دکومل دخلکو سخته غوسه راپارېدلې وه ، خلک د ورو ورو ډلو په بڼه وخوځېدل ، دعلماوو فتوايې ردوله ، امیر ته د نه تسلیمۍ نارې یې وهلې ، خینو لا غوښتل دامیر مانۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تیرو وولي ، دمظاهرو دپراخېدو او دخوخښت دطوفاني کېدو له وېرې دښکېلاک پوځ دمخنیوي کوښښ وکړ ، مګر دامیر په شرطونو چې مراسم باید په آرامی ترسره او خلک واقعیت ته پخپله تسلیم شي دمقابلې او تشدداجازه نه ورکوله..دادی خلک قصر ته پخپل وخت په راټلوشول ... له زغم پورته تورې شپې کومُل راونغاړله ، چې په درنو وګړو یې ډېره سخته وه ، هغه مهال چې شهزادګۍ پلار ته راغله ، نژدې لویه ښېښه را منځته شي وېي ویل:

- "پلاره! هیڅکله واده ورسره نه کوم ، ستا ومنم ... او که دالله؟... الله له مونږ سره حاضر او ناظر دی هر څه مو ویني..."
- "د الله تعالی اراده به همداسې وي لورې ...."
- "د الله ارادې دخیر وې پلاره ..."
- "ښایي ټول خیر په همدې کې وي ..."

شهزادګۍ چې کوکارې وهلې وویل:

- "نور نو له تانه هم خم ... او ستا له ملکه هم ... پرې مې ږده چې لاړه شم ... "
- "لدې لیوانو نه په کومه خوا ځان خلاصوې لورې؟ ..."

کورته دننه شوه ، د ژړا آوازونو یې زړونه سوري کول ، د ورې کوټې ور یې په ځان پورې وتاړه ، مورېې چې هر څه وکړه ، ور یې خلاص نکړ ، مور یې د دروازې له درزه ور وکتل ، ګوري چې خنجر په لاس ده ، اسمان ته ګوري لکه چې په لمانځه وي او له الله نه بخښنه غواړي ، مور یې نور فرصت ضایع نکړ ، امیر ته یې ورمنډه کړه ، ټول حال یې ورته تېر کړ ، له حکمته په ډک چټک حرکت امیر دروازه خلاصه کړه ، مخکې لدې چې خنجر پر سینه ومنډي ، شهزادګۍ یې له لاسه ونیوله ....

************

دچېنايي حاکم ورا له پوځي موزیک ، آتشبازیو او لرغونیو چینایي نڅاګانو سره راغله ، د کومُل شپخان ، زاهدان دښار له زړه وتلي او په تېښته وو ، چې څه په اطرافو کې تر ونو لاندې پټ په سجدو پراته وو ، او څه نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د(عذران) په ساحل کې دعاګانې زمزمه کولې ، او ځینو صوفیانو په پخوانیو مزارونو کې ډېرې په اوښکو لمبولې ... پداسې حال کې چې دلرغونو مسجدونو شمعې او ډیاګانې مړې وې ، خو د امیر مانۍ لا هماغسې پرکېدله ، امیر دغرنیو خلکو یوه خانګړې ډله لرله چې په خانګړو مراسمو کې به یې دشاهي مناسباتو دلاښکلا لپاره را غوښتله - لکه څنګه چې ښکارېدله - زمونږ امیر دکوم احمق دبد تصرف له وېرې چې خوښي به په لوی غم واړوي ، خپل غرنی لښکر دمانۍ دننه او بهر په مهمو ځایونو ګمارلی وو ، او لارښوونه یې کړې وه ، چې دوتو او ننوتو اجازه دې چاته نه ورکوي او ټول تحرکات دې په خیر سره څاري ...
چینايي حاکم د چینايي او ترکستاني لرغونو ملتونو ددوستۍ په ویاړ ښه ډېر شراب څښلي وو ، اولاچښل یې تردې چې نژدې وو یې هوښه پرېوزي ، شروع یې وکړه ویې ویل:

- "کله چې دواړه قومونه له زړو ځنځنو او دودونو وژغورله شي بیا به ومنو چې مونږ عصري شوي یو ... عصري وګړي پخپله دخانونو معبودان دي ... نه آسمان پرې واکمني کولای شي ... او نه یې کوم بل مجهول قوت وېرولای شي ... مور به مې ویل: دا کار مکوه چې الله ناراضه کېږي ، ما به چیغه کړه: چېرته دی دا رب ؟ مسکېږي به ژړل په لاس به یې یا هسکې ته اشاره وکړه... او یا یو واړه یت ته ... ما به په لوړ آواز وخندل او هغه به مې کول چې ښه راېرېښېدل ، او هغې به حیرانې حیرانې را کتلې ... لکه چې کوم لوی جرم مې کړی وي ... ها ... ها ... ها ... وروسته له هغې چې خور مې وتښتولې شوه ، مور مې مړه شوه ، دهغې له مرګه وروسته پر هغو ټولو بتانو چې مونږ کړه وو راخلاص شوم په ډېرو لړو غنمو مې ټول وپلورل ....
ها ترکستاني دوستانو ! راځئ چې د زړو ، بوینو دودونو دلمنځه وړلو په ویاړ پیالې اوچتې کړو ، تاریخ زمونږ دی ... دانسان

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی... دا دی تاسو شاهدان یاست چې خیالي معبودان یو په بل پسې نړول کیږي ، هورا ..."

حاجي خوجه نیاز په ډډه شو ، دیوه عالم وابنې وانې وتښتېدې او سترګې یې شخې ودرېدې ، یو بل سرې هم بې هوښه شو او بهر ته مو یووړ ، یو آواز مو واوریده چې ټوله مانۍ یې خوځوله ... الله اکبر ... الله اکبر ... څلور خله یې وویل ، چې په لږه شیبه کې بیا تورې وپرکېدې ، زړو ټوپکو خولې پرانستې ، جګړه ونښتله ، کومه چې دغرونو خلکو پیل کړې وه ، او له هرې خوا پرې راتوبېدل ، دمانۍ له پورتني پوړه او دځمکې له لاندي او ددیوالونو له سره ، په لږه شبېه کې ، چینایي حاکم ، شاوخوا نور لوړ پوړي چارواکي ، شخصیتونه ، او ساتندویان خواره واره کالبوتونه دمانۍ په ګوټ ګوټ کې پراته وو ، ټول چینایان ووژل شول ، په کومل کې دهیبت اِو وېرې فضا خوره شوه ، سهار وختي خلک راووتل چینایان وژنې او خپلې مظلومې لونې کورونو ته بیایي او نور بندیان له زندانونو او توقیف خایونو را وباسي او آزادوي یې ، دچېنایانو پاتې کسان څوک په تېښته وو او چا په زاریو دځان خلاصولو کوښښ کاوه ، او څوک پر مځکه په سجدو پراته وو بخښنه یې غوښتله او خپل اسلام یې اعلانا وه ... امیر ددې ساحې په منځ کې ودریده دخونړي منظر ننداره کوي ، لور یې تر څنګه ده ، په مینه یې راکاږي او له ځان سره یې پیوستوي او وایې :

- "اوس ویلای شم چې دکومُل امیر یم ... "

شهزادګۍ په خواشینۍ وویل:

- "مګر هغوی مو هیڅکله داسې نه پرېږدي ... "

امیر وخندل :

- "زه به دژوند تر وروستۍ شیبې امیر یم ... مطلب داچې وسله به ونه غورزوم او تسلیمي به بیا ونه زغمم ... که ناکام هم شوم خپل جهاد ته به تر مرګه دوام ورکوم ... همدا یوازینۍ لار ده چې امیر به پایم او امیر به مرم .. او الله ته به مسلمان ورځم ..."

(c) ketabton.com: The Digital Library



( ۵ )

هرې خوا ته د سهار رڼا خوره شوه ، دکومل په ګوټ ګوټ کې دبرې بیرغونه ورپېدل، شاوخوا ښارونو ته دمشروع انتقام انګازې خورېدلې ، کوم چې حاجي خوجه نیاز یې نوښتګر او امیر یې سالار وو...
ما سره لدې چې په دیني او وطني انتقامي روحیې په کلکه برخه اخېستې وه، دامې محسوسوله چې لویه جګړه لا پیل شوې نده ، چینایان مو تر هغې نه پرېږدي څو چې یې زمونږ شینکی ټاټوبی دوحشي عقاب په وینو سورکړی نه وي ... داسې برېښېدم چې په مرګ او ژوند کې فکر کوم... دهر شي لپاره پای شته، د الله تعالی لیدوته لیوال وم ، که دشهید ځای جنت وي بیا ولې دمرګ مېدان ته په زړورتیا نه وردانګو؟ زمونږ علماوو به په مسجدونو کې راته ویل:"تاسو بهترین امت یاست چې دخلکو دژغورنې لپاره را ایستل شوي یاست" بیابه مې پخپل هېواد دچېنایانو استعمار او په غربي ترکستان کې دروسانو استعمار ته وکتل ، خپل ملت به راته ډېر ذلیل او خوار ښکاره شو ، چې انساني کرامت یې دبې ایمانه قوم له خوا تر پښو لاندې شوی وو ...

- "هو ، زه در روانه یم ستا خواته .... "
- "نجمې! ته څنګه راغلې ؟ ..."
- "ته مې روح او ژوند یې ، ومې لیدې چې هرې خوا دې تورې وهلې ، جنرالان دې لاندې کول ، له ډېره شوقه درویلې کېدم..."
- "او نجمې ! څانته بل سری وګوره .... "
- "مصطفی ! یوازې تا غواړم او بس ... "

نه ایسارېدونکې شپه ... له رازونو او یادونو ډکه شپه، وغومبېدم :

- " نجمې ! داشپه له هولناکو رازونو ډکه ده ... "
- "دادمینانو ښکلې شپه ده .... "

(c) ketabton.com: The Digital Library



- "زه پکې له خونړیو جګړو پرته بل څه نه وینم ...."

راته نژدې شوه ، له یخو لاسونو یې ونیولم ، ورو یې وویل:

- "تر څنګ مو دمانې بڼ دی ، ګوټ ګوټ ته یې زړه رابښکونکې ورمې چلېږي ...."
- "پرون مې څکه په واده کې سوچ کاوه ، چې کوم مهم کار مې مخې ته نه وو ...."
- "مصطفی زه نن درغلې یم ...."
- "د ارواګانو خوښي په آسمان پورې تړلې وي ... په لوی جهاد پورې ..."
- "واده دجهاد مانع نه ګرځي ... جهاد به هم کوې .... او د ماشومانو پالنه هم ...."
- " نجمې ، وعده مو په نن شپه نده ... "
- "نو کله ده؟ ..."
- "پدې یوازې الله پوهېږي ..."

په پرېکنده دردونکې لهجه او غوسه ناک حالت یې وویل:

- "تاسو څوک یاست ؟ ګمان کوی ملیونونه چینایان به مات کړئ ؟ پرېږده چې واده سره وکړو ، او لدې خاورې ولاړ شو ..."

قهر جنه خندا مې وکړه ، دلاس کمکی ورغوی یې په غوسه مړم :

- "چېرې دی داسې هیواد چې مونږ لپاره دهوساینې وړ وي ؟ ژوند مو پکې تیر شي؟ توره وباء له شرقه را روانه ده ، سور ښامار له غربه راځښېږي ، او مونږ دروسانو دطمعې او دچینایانو دحرص تر منځ حیران ... مرګ او ژوند نلرو مګر همدلته ..."

لاس یې رانه کش کړ ویې ویل:

- "دمرګ له راتلو مخکې په مراندې زړه ژوند کوې! ... "
- "زه جهاد ته خلاص مټ ژوند کوم .... "
- جهاد هېڅ شی نه تحریموي....مصطفی وګوره ... دا ګلان نمو کوي او غتېږي .... اُمېد وارې میندې اولادونه زېږوي ، شپانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغرونو په لمنو کې سندرې وايي ، خلک کروندې او رېبل کوي... او يو ته لکه هغه راهب بې چې غواړي له جهاد او په هغه کې له فکر او سوچه معبد جوړ کړي او بيا ځانته پکې واوسېږي!...."

خبرې يې سختې تأثير ناکې او دربتينولی په پانو سينګار وې، له حرف حرفه يې دتاوده ځپاند ژوند وږمې ختلې ، ګورم چې خولې مې پر وچولي راماتې شوې، پوی شوم چې اعصاب مې ورو ورو آرامېږي سترګې مې پر هغو ښنو لمنو ورخښې وې چې سپوږمۍ پخپلو زرينو وړانګو ښايسته کړې وې ، له سرې ، خوړې هوا مې ژوره سا واخيسته ، را ولاړ شوم ومې ویل :

- "نجمې ! زه درسره مينه لرم ...."
- "نو کله به وي ؟ ..."
- "تر هغه ډير ژر چې ته يې ګمان کوې ..."

اورم چې خوځښت دی ،د آسونو ترپهار دی ، دګاډيو قرقر دی ، ګډ وډ آوازونه دي ، هاخوا دېخوا خوځنده څېرې وينم ، پدې پوهېدم چې لويه غونډه به ددې لويې واقعې د ارزونې په موخه کېږي ، چې پر پايلو يې خبرې وشي ....

- " نجمې !ته اوس ولاړه شه ... "

هغه لکه ښکلې فرشته ولاړه ، دشپې په تيارو کې ډوبه شوه ، شنې خلېدونکې ګوهرينې سترګې ، ژوند بخښونکی ښکلی سپين مخ چې ناليدلې موسکا پرې خوره وه ، هغه دمانۍ جانبي ور په لور ولاړه ، خو تصوير يې زما په زړه او روح خوړند پاتې شو ...

دکومل د امير په مانۍ کې لويه غونډه جوړه شوه ، دقوسونو مشران علماء مفکرين ، پوخې شخصيتونه ورته راغلي وو ، همدارنګه شرقي ترکستان ته دځېرمه ولاياتو شخصيتونه هم بلل شوي وو، دکومل امير خپله وينا پدې شروع کړه چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



"له پرونۍ جګړې خلاصی نه وو، نه یوازې کومُل بلکې ټول ترکستان دا نه غواړي اسلامي ارزښتونه یې تر پښو لاندې شي ، چینایي حاکم له خپلو وضعي قوانینو تېر نه سو ، نو له تصادم پرته بله چاره نه وه ، ځیني به پدې لحاظ چې مونږ یې پایلې نالیدلې ګڼلې ، زمونږ کار ته دلېونو کار وواېې ، مګر له تسلیمی پرته بل بدیل یې نه وو .... تاسو پوهېږئ چې پخوانیو تسلیمېو پر مونږ ډېر ظلمونه راوستل ، او دمات شوي لوري تیریدنې او تنازلات پای نلري ... په همدې لحاظ پایلو ته دپاملرنې په رڼا کې دیوه قوي ګوزار سخت ضرورت وو ... "

یو له حاضرینو ځواب ورکړ ، داسې ښکارېده چې شوی کار یې لویه سهوه بلله ، ځکه چې ترکستان دومره ځواک نلري چې دچینایي ځواک مقابله وکړای شي ، اته ملیونه ترکستانیان نشي کولای له هغه چین سره وجنګېږي چې شمېره یې څلور سوه ملیونو(۱) ته رسېږي ددې پرځای دا ممکنه وه چې ستر چینایي حاکم ته مو هیأت ورلېږلی وای دموضوع په اړه یې ورسره خبرې اترې کړې وای ، ښایي ظلم او زیاتی یې کم کړی ... ... قوانین یې له منځه وړي وای کوم چې زمونږ له دین او عزت سره په تعارض کې وو ، او کوم څه چې مونږ یې په جګړه نشو تر لاسه کولای په سیاست به مو ترلاسه کړي وای ، یعنې دخبرو اتروله لارې. داخبره دځینو زړو سیاستوالو او تکنوکراتانو له خواچې غونډه کې وو بدرګه شوه ، او وړاندیز یې وکړ چې اوس هم باید "چین شو رین" دشرقي ترکستان ستر حاکم ته هیأت ولېږل شي ، مګر حاجي خوجه نیاز په لاس د نه منلو اشاره وکړه او په قهرجنه‌لهجه یې وویل:

(۱) دا د هغه وخت احصایه او سر شمیرنه وه ،چې په اوس وخت کې د چین نفوس یوملیارد او درې سوه دیارلس ملیونو او په چین کې دترکستانیانو نفوس ۱۵ملیونو ته رسېږي . (ژباړونکی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



- "او خلکو ! که هیأت مو ورولېږلو زما په عقیده هریو غړی به بیل بیل له چړې تېرکړي... چېنایان به ور اوښتی زیان هیڅکله مونږ ته ونه بخي ، زما نظر داده چې بې له جګړې بله لار نشته ... که سوله ییز حل پسې وګرځو هسې وخت به مو ضایع کړی وي ، هغوی به خپلې وینې هېڅکله هېرې نکړي ، بې ګناه یې تعذیبولو او وژلو ، او اوس خو مو یو ستر حاکم وژلی او لوړ پوړي چارواکي او پوځیان مو تر خاورو لاندې کړي! ..."

بیا حاجي خوجه نیاز را ولاړ شو ، په لوړ آواز یې وویل:

- "اورم چې دځلور سوه ملیونو چینایانو خبرې کوی ، خبرې مو داسې دي ګویا غوندې ته دچینایانو له خوا هیأت راغلي یاست؟! نه دسرښندونکي مسلمان په صفت ، که پوځونه په شمېر قیاس کېدای ، والله چې اسلام به تر مونږ نه وای رسېدلای ، او که لمړنیو مسلمانانو داسې سوچ کړی وای لکه ستاسو ، د الله بیرغ به پرمخکه اوس نه رپېدای ، داسې بربښي چې د الله لدې وینا ناخبره یاست چې وایې: ( کم من فئة قلیلة غلبت فئةً کثیرةً باذن الله... ) ترجمه : "څومره ورې ډلې غالبه شوي دي پر لویو ډلو ، د الله په اراده " دې لپاره چې دښمن مو دخپل دین احترام ته اړ کړی وي ، پکارده چې قرآن دلارې مشال وګرځوو ، څکه ددنیا او آخرت خیر او بری مو په همدې کې دی ، او په الله قسم چې غلیم هغه مهال را باندې مسلط شو او په اوږو مو سپور شو کله چې قرآن او دین ته مو شا کړه ، او زه همدا اوس ستاسو په وړاندې له قدیر او ذوانتقام ذات سره خپل هوډ یو ځل بیا تازه کوم چې تر هغې به وسله ونه غورزوم څو چې مې د دین او خاورې غچ نه وي اخیستی ، څوک چې د مسلمان اولاد وي راپسې راځي دې ..."

(c) ketabton.com: The Digital Library



• حاجي خوجه نیاز د امیر له مانۍ و ووت ، دهغه وسلتون په لور ورغی چې د پروني وژل شویو چینایانو وسلې پکې ځای پر ځای شوې وې ، نور تول ورپسې وخوځېدل ... زه هم لدې پارېدلي غونډې سره روان وم ، څه ګورم چې له ډېرو نهیلیو او مایوسیو وروسته نوی روح او ساه په خلکو کې غوړېدلې ، هیچا دچینایانو په پوځي ځواک کې فکر نه کاوه ، هر یوه کوښښ کاوه چې یو میل توپک او څو کارتوس ترلاسه کړي .... دېر لاسی تول اعتبارات لکه د پوځ شمېر او د وسلو بر لاسي دمجاهدینو تر پښو لاندې لوېدلي وو ، عاقلانو دا یو لېونتوب باله ، راپارېدلیو وګړیو دانه ګڼله چې دخمکې پر مخ به ددوی مخه څوک ډپ کړای شي ، پر الله د ژور ایمان خاوندانوجګړه فرض عین بلله ، جګړه باید دوام وکړي ، پر غلیم باید کلک برید وشي ،کامیابي او نا کامي د الله په لاس کې ده ، شهادت دټولو لوی ارمان وو...

کوچېان اوشپانه له دودېزو نڅاګانو او سندرو سره له غرونو راتوی شول ، د اطرافو خلک په زړو جامو له زنګ وهلیو توپکو سره را ورسېدل ، هرې خوا ته دتهلیلونو او تکبیرونو نارې وې ، دمانۍ له جګ برج نه مې کتل چې تولې لارې له خلکو ډکې دي او موجونه وهي ... هغه منارې او ګنبځې چې زمونږ درنو سترو نیکونو له مسجدونو سره په ډېر شوق جوړې کړې دي تر سترګو ډېر ښایسته او ښکلي راغلل ... په زرین سهار زمونږ خوږ وطن له خپلو شنو باغونو دنګو مانیو سره دهمېشه توب تصویر یو داسې ځواک ښکارېده چې الله یې ساتنه کوي ... په بېړه راکوزېدم ... دزینې په لاندینۍ برخه کې مې ولیدله :

- " نجمې دلته څه غواړې ؟ ... "

په داسې حال کې چې ښایسته مخ یې په اوښکو لوند وو ، ویې ویل:

- "ته هم روان یې ؟ ... "

غږ یې دلوی ماتم ښکارندوی وو .

- "ته ګمان کوې ، مصطفی به له تا سره پاته کېږي ، خوبونه به کوي ، او په خوله کې به ډوډۍ درکوي ؟ ... "

(c) ketabton.com: The Digital Library



"تاسو تول ورځئ ؟ ..."

- "هو ... ددلت تر سيوري لاندې ژوند معنی نلري ..."

اوږده بې راته وکتل ، ويې ويل:

- "زړه مې داسې وايي چې : بېرته نه راګرځې ... "

- "که مينه دې راسره رښتونې وای نو زړه به دې زما پدې کار ډېر خوښ وای ..."

- "مينه مې سل په سلو کې رښتونې ده ، خو له وېرې سره ..."

سر مې وخوځاوه ومې ويل:

- "وېره ؟..."

- "هو ... درواغ نه درته وايم ..."

- "رښتونې مينه نه مري زما ګرانې! ... او نه وېره مني ... که بېبځلې مينه وي نو همېشنی به وي ، په مرګ او ژوند دواړو به راسره وې ..."

لاس يې پورته کړ ، په اوږه يې تس راکړ:

- "ما لکه دنورو پاکو ښځــو په شان د مينې کوم خوند لا تر اوســه نــدی څــکلی..."

ستر ګې مې ډېرې لېرې تللې وې ، په خوله مې داسې وويل:

- "هغه شپې ډېرې خوږې وې چې زه ستا په سوچونو کې وم ، زما محروميت او ستا ممانعت حالله صوفيانه معنی لرله چې زړه مې ورته نځېده .... کاش ته پوهېدای!... زړه مې اوس هم له خوښی توپونه وهي ... پوهېږم چې تر شا مې هغه لوی زړه دی چې له مينې راته ډک دی ، او دځګرو په تيارو کې به مې زړه روښانه ساتي ... خپل او ستا له عزت نه به دفاع کوم ، عزت دهغې ګروهې يوه برخه ده چې الله تعالی پر مونږ لورولې ده...

چې کله راوګرځېدم واده به سره وکړو ... نجمې خپلې شهزادګی ته ورشه ... هغه مسکينه به يوازې وي ... دا دی مجاهدين تول ... ... تاريخی ورځ کې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه هېرېدونکې تلپاتې یادګار دی چې باید په ویاړ یې جشنونه وشي ... نجمې ! دعقیدې جګړه بهادران زیږوي ... او بیا ,ربښتوني اتلان ترې جوړوي ... "

(٦)

زاری یې ورته وکړې چې له خانه سره یې بوزي ، اوښکې یې توېې کړې چې له مجاهدینو سره دتلو اجازه ورکړي ، هلته چې سختي ، مرګ او سور اور دی ، مګر دکومُل امیر خپلې لور ته وویل:

- "لورې! ته پوهېږې چې نارینه دغلیم دمقابلې خواک لري ،او په جګړه کې چست او چالاک وي لکن تور سرې باید د امن خای ته پنا یوسي ..."

مجاهدین له هرې خوا راغلل ، او په هره خوا ولاړل ، چینایي ـ ز غلګرو دهغو غازیانو تر منخ لاره ورکه کړه کوم چې شرقي ترکستان یې سر تر پایه نیولی وو، چینایي لښکرو یوې او بلې خوا ته دپناه لټه کوله ...

روسانو تولې پښې په خیر له نژدې خارلې ، ستالین په منګولیا کې خپلو ملګرو ته امر وکړ چې دشرقي ترکستان انقلابیانو ته د مرستې لاسونه ور اوږده کړي ، یو هیات یې د (جام سین درغان) په مشرۍ دخوجه نیاز لیدنې ته ولېږه چې دپوخي مرستې وړاندیز ورته وکړي ، نیاز له خپلو ملګرو سره په سلا او مشوره شو ، په آخر کې خپلو سر لښکرو ته وویل:

- "زه پدې ښه پوهېږم چې روسیه څه غواړي ؟ هغوی مونږ ته خپلواکي نه غواړي ، له پخوا نه هغوی غواړي زمونږ په ملک کې خپلې پښې تینګې کړي چې زمونږ شتمني خپله کړي ... او هغه عمل له مونږ سره وکړي کوم چې په غربي ترکستان کې یې زمونږ له ورونو سره کړی دی ..."

یو تن داسې خواب ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- "ولې له روسانو سره لاس نه ورکوو چې چینایان ورباندې وخپو؟..."
- "که مونږ دخپل ټاټوبي دخپلواکۍ ګټلو او ساتلو ځواک او توان پخپله ونه لرو مونږ دخپلواکۍ مستحق نه یو..."
- "دښمن ډېر خطرناک ، بې رحمه دی که دیوه شیطان په خلاف له بل شیطان سره لاس ورکړو ، څوک به مو پرې ملامت نکړي...."
- "وروره !خبره دملامتولو او نه ملامتولو نده ، روسیه دوهم غلیم دی ، او هغه وخت زمونږ دمرستې په فکر کې شوه چې برې مو ورته حتمي وبرېښېد ، هغوی په آسانه او لږ قیمت خپلې لاسته راوړنې لټوي... ای اتلانو! کفر ټول واحد ملت ده ... لویه لوړه او تړون هغه ده چې دلوی ترکستان ختیځ او لوېدیځ سره په یوه تار نښلوي او اولسونه یې په یوه صف ودروي ، دا تړون یوازې دالله دقانون ترسیوري لاندې ممکن دی ... الله تعالی فرمایي : (یا ایها الذین آمنوا لاتتخذوا عدوي وعدوکم اولیاء ....) ترجمه: "ای مؤمنانو! زما او خپل دښمن په دوستۍ مه نیسئ..."

دمنګولیا له هیأت سره حاجي نیاز په وروستۍ لیدنه کې وویل:

- "محترم (جام سین درغان) ! زمونږ په هکله ستاسو دښه نیت مننه کوو... مګر له دښمن سره یوازې پخپله جنګېږو..."

درغان وویل:

- "ډېر به ټینګ نشئ ، مونږ باوري معلومات لرو چې چینایان ستاسو دځپلو لپاره په شرق کې له خورا لیرې پرتې چینایي پلازمېنې نه په لوی شمېر د پوځونو دلېږلو په حال کې دي ... "

حاجي نیاز په کلکه وویل :

- "مونږ ستاسو دوستۍ ته ښه راغلاست وایو ، مګر د مشروطې مرستې له منلو معذرت غواړو ، زما سړیو فیصله وکړه چې ستاسو پوځونو ، ماهرینو او سوداګرو ته به خپل هیواد ته دننوتو اجازه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه ورکوي ... پدې توګه دا کار زما په واک کې ندی، راپاربدلی اولس دی ، چې خپله تګلاره او برخلیک پخپله ټاکي ... "

انقلاب پخپل طبیعي مسیر روان دی ، دحاجي خوجه نیاز لښکرې هرې خواته خورې شوې ، چینایي چاونۍ مجاهدو باتورانو تر یرغلونو لاندې راتیوې، دچینایي ستر حاکم "جین شورین" واکمني تر ګواښ لاندې شـوه ، او دی سخت حیران وو چې څه وکړي ، له روسانو یې مرسته وغوښته هغو چې دی سخت محتاج وموند، دمرستې شرطونه یې وړاندې کړل، چې:

۱ ـ روسان به د خپلو تجارتي نمایندګیو پرانستلو حق لري.

۲ ـ محلي اداري به د روسي وارداتو دتفتیش حق نلري.

۳ ـ روسان به په ټول ملک کې د آزاد ګرځېدو حق لري.

جګړه تونده شوه ، په غرو ، رغو ، سردرو ، سیندونو او ورشوګانو بـه ګرځېدو ، روسي وسلې به مو تر سترګو کېدې روسان به مو لیدل چې دچینایانو مرستې ته راتلل ، تر چینایي ښکېلاک لاندې ښارونه له روسانو ډک ښکارېدل ، کمونستي کتابونه او مغرضې پروپاګندې یې خپرولې ، لوړ پوړو چارواکو ته یې بډې ورکولې او دحاجي نیاز په وژلو یې خلک هڅول ، کوم چې پرون یې ورته دمرستې وړاندیز کړی وو او ترون یې ورسره کاوه ... ترټولو بده داوه چې روسانو قومونه یو دبل خلاف تحریکول ، فتنې او شخړې یې ایجادولې ، پدې سره روسي وسلې چینایي مټ غښتلی کړ، همدارنګه روسي فکري تخریب هم زمونږ جهادي قوتونه کمزوري او د ورونو ولسونو ترمنځ دیو والي پړي وشلول ، په خونړیو جګړو ښکېل شـولو ، چې په زرګونو سرې یې رانه یو وړل ، مونږ له څو میاشتیني مقاومت نه وروسته مال ، خوراک او وسلې ته سخت اړ شوي وو ، ددې اړتیا وه چې نور پر هارونه وګنډو ، پټې ورباندې کښېږدو، او د روسي چینایي هیبتنا کې جېنې وروسته لږ د آرام ساه واخلو ، غرونو ته مو پنا یووړه ... وروسته لدې چې نهایي فتحې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



نژدې شوي وو، (جین شورین) وکولای شول خپل نفوذ بېرته اعاده کړي...

د غرونو په درو، لارو او غارونو به حاجي خوجه نیاز پر مجاهدینو ګرځېده او داسې به یې ویل:

او مجاهدینو ! جګړه د ارټ کندولۍ دی ، کله ډک او کله تش ، ګټه او زیان لري ... یوه ورځ به ستا وي بله دغلیم ... له الله سره مو هوډ دادی چې یا به یې ګټو او یا به شهیدان کېږو ...پخپلو ځواکمنو ځلېدونکو سترګو پورته وریځو ته چې د غرونو سرونو ته لکه تاجونه ښکارېدل په ځیر کتل ، بیا به یې پراخو ورشوګانو ته سترګې وګرځولې ، دهغې ورځې خوبونه به یې لیدل چې زمونږ اتلان خپل هیواد دشر او فساد له کرغیړنو منګولو وژغوري ... په خندا به یې ویل:

- "تاسو هغه روسان وینئ چې پرون زمونږ مرستې ته راغلي وو ، نن یې زمونږ دښمن ته لاسونه ورکړي ، دانه منئ چې هغوی زمونږ دغمیزو لا مل دي ؟..."

خوجه نیاز وخاندي ، بیا خپل ځینې یادونه داسې بیانوي :

- "ورونو تاسو مه خفه کېږئ ... کلیسا له ډېر پخوا ستاسو د له منځه وړلو په کوښښ کې ده ... روسان به یې زمونږ پر اسلامي خاوره دیرغل لپاره هڅول ، ځکه کلیسا په صلیبي جنګونو کې له ترکیې او نور عالم اسلام سره زمونږ دباتورو مجاهدینو مرسته او په صف کې ودرېدل ندي هېر کړي ، بله دا چې زمونږ هېواد لرغونی تاریخ او تمدن لري ، او زمونږ په خاوره کې ډېر ارزښتناک معدنونه او زېرمې تر خاورې لاندې شته ... هو ، هلته په لسګونو لاملونه شته چې له کبله یې زمونږ هیواد لاندې کول غواړي ... خــو مـهـم یې دادی چې مونږ مســلمـانان یو ... همدارنګه روسانو په کمونستي انقلاب کې له یوه هم دومره ستونزې ونه لیدې ، لکه له مسلمانانو ...."

**********

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو داسې سختې میاشتې راباندې په غرونو کې تېرې شوې ، خو وزګار ناست نه وو تمرینونه ، دپېښو څارنه ، دترپ او خرپ جګړه ، کمین نیول او داسې نور کارونه مو کول ، وروسته له هغې چې لوی برید ته مو وسایل چمتو کړل ، حاجي خوجه نیاز ور وغوښتو امر یې وکړ چې په پټه دهېواد ګوټ ګوټ ته ولاړ شو اوضاع له نژدې وارزوو ، دخلکو ذهنیت او حالات معلوم کړو ، دغلیم کمزوري تکي په ګوته کړو ... دملګرو ترمنځ یې دشرف مډال ماته راپه غاړه کړ، ویې ویل:

- "مصطفی مراد حضرته ! ... ته تل یو باتور سپاهي انځوروې کوم مډال چې ما ستا غاړې ته واچاوه... زما دهغې مننې ښکارندوی دی چې زړه مې ترې ډک دی... هیله کوم بېرته ژر راوګرځې ، چې ډېر وخت نلرو ..."

په پټه هرې خوا ته خواره شولو ، دکومل غم ځپلی ښار په تیارو کې ډوب دې په واړه شک ځیني خلک ددار څلی ته خېژول کېږي ، دکاشغر ښار ځپل یوه باتور ته هم دلیدو کتو اجازه نه ورکوي ، هغوي یا پټ دي یا غرونو ته تښتېدلي ، یا ځانونه دچینایي حاکم دوستان ښرګندوي ، یا د روسي ماهرینو په صف کې لیدل کېږي ، دسخت ظلم زیاتي او وحشت ترمنځ دواقعیتونو معلومول انسان لپاره ډېر ګران کار وو ، د اورمچي په ښار کې د هرخه نخښې نښاني بدلې ښکارېدې ، داسې بربښېدل چې غیر له روسي او چینایي مخونو نور څه نه وینم ، شیطاني یرغل سرونه ځپي ، سترګې ړندوي او غوږونه کڼوي ... دارنګه ښار په ښار ، منطقه په منطقه ګرځېدم ، دکومل ښار ته راوګرځېدم چې د نجمې احوال واخلم ، مسکینه به څېرته وي ؟ څه به پرې تېر شوي وي؟ زړه مې له غمونو او دردونو ډک دی ، کوم مډال چې را له غاړې شوی وو ، محسوسوم چې زه دهغه مستحق نه یم ، پداسې حال کې مډال څه معنی لري چې غلیم لروبر ګرځي ، د وطن دبچو شاګانې په متروکو سرې دي ، زندانونو ته اچول کېږي په دار خېژول کېږي ، له ډېره غمه مې حلق وچ او غاړه مې پړسېدلې ده ... لدې سره سره نجمه لټوم،دامیرمانی ته ورغلم ، دیادونو ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



قهرجنې مینې ... سرکښې عاطفې ... دخوړو وعدو مانۍ ته ... مانۍ داسې برېښېدله چې مینه ورته دپخوانو زمانو خرافاتي پدیده ښکاري ...

- "مورې ! نجمه پېژنې ؟ ..."

بوډۍ ښځې سر راپورته کړ ، په کمزوري نظر یې راته کتل ویې ویل :

- "زه دلته دسلو کالو راهیسې اوسېږم ، خو دانوم مې هېڅکله ندی اورېدلی ..."

خپله امسایې لګوله او روانه شوه ، ګورم چې بېرته راوګرځېدله ، ودرېدله، رپېدونکې لاسونه یې دلمر له رڼا مخ ته ونیول ویې ویل:

- "ته مسافر یې دلته ؟ ..."

- "نه ، زه د همدې ځای یم ..."

له سترګو یې اوښکې روانې وې ویې ویل:

- "فکر مې وکړ له غرونو راغلی یې ... زه دهغو څلورو زامنو په لټه کې یم چې ولاړل او بیا رانغلل ... کاش تاغوندې څوک وي چې وریومې سي ، له کونډو لونو سره له ژونده تنګه شوې یم ، مېړونه یې لکه پسونه په چړو حلال کړای شول ... مونږ ته دماشومانو لویه ډله پاتې ده ... په روسانو او چینایانو دې برابر لعنت وي ..."

پخپله لاره روان شوم ، دکومُل په مستعمره شوي ښار کې ګرځېدم ... ناڅاپه مې سترګې پرې ولګېدې ... پر هغه پخواني دوست ..

- "منصور درغا..."

بې ارادې مې په نوم ورغږ کړل ، سرې رانژدې شو ویې ویل :

- "مصطفی مراد حضرت ! .... ته یې ؟ ..."

سره له غاړې وتو ... له لاسه یې کش کړم ، پټ محفوظ ځای ته یې بوتلم چې څوک مو ونه ویني ، بیا سره دوه په دوه کېناستو ، ما ورته کړه:

- "منصوره څه حالات دي؟ ...."

منصور درغا په خواشینۍ سره وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- "دذبحې او حلالولو ډېره لویه لړۍ روانه ده ، د "ایلي" په ولایت کې همدارنګه د "آکسو" او "شوشک" په ولایت کې ، او د "شهبار" په ولایت کې نیونې او وژنې روانې دي ، او همدارنګه د "آلتای" او "کوشار" ولایتونه درواخله ، بلکې په ټول هېواد کې وحشت خور دی، روسان پلان او نقشې جوړوي ..... دهغوی ماهرین یوازې جنګونو، تجارت، دکمونستي افکارو خپرونې ته ندي راغلي ، بلکې د اسلام جرړو ایستو ته راغلي اودمسلمانانو دوژلو او خپلو ماهرین یې له خانه سره راوستي ..."

دمنصور درښا اوښکې وبهېدې ، په لوړ آواز یې وویل:

- "آیا دا د الله رضا ده؟ ..."

په دردېدونکي حالت مې وویل:

- "نه هېڅکله نه ...."

منصور په ژړغوني غږ ووې :

- "خیر ولې یې داسې سخت عذاب او ذلت ته پرې ایښي یو؟..."
- "الله عادل دی منصوره ..."
- "مګر ظلم او وحشت ملت نور دغمونو په بحر کې غرق کړی..."
- "لدې سره سره الله عادل دی منصوره ..."
- "عدل خو دادی چې همدا ظالمان کافران پرې ګرفتار شي ..."

له مته مې ونیو ، ومې ویل:

- "دالهي عدالت له غوښتنو یوه دا هم ده چې:رښتوني مسلمانان و اوسو تر دې چې مرسته راسرد وکړي ...."

سر یې له خواشینی وخوخاوه ، ویې ویل:

- "رښتیا دې وویل ، په موږ کې داسې خاینان شته چې له دښمن سره مرسته کوي ..."
- "هغوی لږ دي ..."

(c) ketabton.com: The Digital Library



- "هو .... او په مونږ کې داسې هم شته چې له ژوندونه وتلي ، په هيڅ خير او شرکې برخه نه اخلي! ... "
- "منفي څېرې په هر ملت کې شته ... "
- " په مونږ کې هغه زنديقان هم شته چې په الله کافر شوي او په مارکسي نظريه يې ايمان راوړی،هغه نظريه چې له ماسکوه راغليو کمونستانو په خلکو کې خپره کړېده ... "

منصور بيا په رڼو سترګو راوکتل ويې ويل:

- "او په مونږ کې هغه بې حيا ښځې هم شته چې دعزت او شرف په نوم کوم شی نه پېژني ..."

دمنصور دخبرو په اورېدو نوره دنيا را باندې تنګه شوه ، هغه دنهيلی په وژونکي ډنډ کې پروت وو ، او له رواني ( روحي ) ځپونکې ناروغی کړېده، ځکه حالات هغسې نه وو لکه څنګه چې ده انځوروl، او زمونږ اولس مجاهد ، صابر او نه تسليمېدونکی اولس دی ، دخاينانو شمېر ډېر لږ دی ، چې يابې نفسونه دعذابونو او زورونو له وېرې کمزوري شوي ، يا دمادي لاسته راوړنو تر تاثير لاندې راغلي ، يا داچې په فکري لحاظ دوکه شوي او دکمونيزم په جال کې لوېدلي ، چې داټول درواخلې بيا يې هم شمېر ډېر کم دی ، اما هغه يو شمېر جاهلې بې خبره ښځې چې دخوراک څه نه مومې ديوې مړی ډوډی دلاسته راوړلو لپاره دفحاشی جال ته لوېدلي دي او يابې دتهديد په نتيجه کې دسپکاوی ژوند ته دعزت په مرګ ترجيح ورکړی ددوی شمېره هم ډېره کمه ده ... په هرصورت ... زه رواني وضعې ته هغسې نه ګورم لکه څنګه چې منصور درغا ورته ګوري ، زه منصور له پخوا پېژنم ، هغه خوبونه ويني ، شعر وايې ، دبخاري شريف حديثونه يې په يادو ياد کړي ، او هغه همېشه دپخواني لرغوني تاريخ خوبونه ويني ، د شانداره ماضي او اوسني بد حالت ترمنځ دتوفيق او انډول برابرولو کوښښ يې هيڅکله ونکړ ، چې اقلاً خپل نفسي توازن پرې برابر وساتي ...

c) ketabton.com: The Digital Library



- "ښه دا ده چې واقعیتونه ومنې او دعلاج کوښښ یې وکړې ؟ ..."

منصور په غوسه سر وخوځاوه ، ویې ویل:

- " دردمنو واقعیتونو نور سخت مایوس کړی یم ... "
- "منصوره ! حل څه ده ؟ ..."

شوندې یې چیچلې ، په خواشینی یې وویل:

- "مرگ یوازینی حل دی ..."
- "او څنگه مړه شو؟ ..."

زما په غوښتنه اومقصد پوی شو ، غمجنې سترگې یې وغړولې لکه په ځان کې چې څه لټوي،کوښښ کوي خپل پخواني افکار راوسپړي اوکره کتنه پرې وکړي :

- "داسې به مړه شو مصطفی لکه قهرمانان چې مړه کېږي . ..."

په مینه مې په غېږ کې رانیو ومې ویل:

- "داسې ښکاري چې سره یوه خوله یو؟..."
- "هو ولې نه ... ما غوښتل په غرونو کې درسره یو ځای شم ... "
- "سبا به خو له خیره ... او د لوي برید وخت رانژدې دی ..."

ووتو دکومُل په اطرافونو کې گرځو ، شپې خپلې تیارې خورې کړې ، خو ماته د دندې په هکله هرڅه روښانه شوي وو ، خلک نور د (جین شورین) له ظلمونو او د رانوتو روسانو له توطیو او دسیسو تنگ شوي وو ، نور څه نه وو پاتې ، خبره همدې ته معطل وه چې له غرونو قیام وشي ، حاجي خوجه نیاز راښکته شي انقلاب له سره راپیل کړي ، مخکې لدې چې سره بېل شو منصور درغا وویل:

- "د نجمې دې رانه ونه پوښتل؟ ..."

په شوق مې راونیو :

- "رښتیا ، هغه چېرې ده ؟ ..."

منصور ترخه خندا وکړه ویې ویل:

- "هغې واده وکړ .... "

(c) ketabton.com: The Digital Library



- " ته‌وکې کوې که ربښتیا وایې؟..."
- "کله چې امیر مانۍ پریښوده و ووت ، کورنۍ یې خوره شوه ، خلک جنګ ته ووتل ، هغې اعصاب له لاسه ورکړل ، په چیغو چیغو به یې ژړل،مګر چیغو او ژړاوو یې لا ښکلا نه وه خوړلې ... پوی شوې ؟ ..."
- "نه پوی نه شوم..."
- "کومل ته دنوي راغلي چینایي پوخي چارواکي ډیره خوښه شوې وه .... داخبره نوره پرېږده ، مناسبه نده چې اوس زړه پرې وخورې .... "

***********

او زه چې په زړه کې سخت خوشحاله یم محسوسوم چې ذهن مې ډېر لیرې تللی له تورو لوګیو ، وحشي ځناورو او مارانو له خیالي تصویرونو ډک منظر مې مخې ته ودرېږي ، دامې پخوانۍ وېره وه کله چې زه لا ماشوم وم ، په خوب کې به مې دا مناظر لیدل، پلار به مې راته ویل چې له خوبه مخکې آیت کرسي او سل ځله درود وایه ... نه پوهېږم ولې هغه وېروونکی دوږکتوب منظر په سترګو راغی ...

آه .... نجمې ! زه دې په لومړنیو نفرتونو باور وکړم ؟ او که په وروستنیو محبتونو ؟ ښه مې یاد شي د مخه ښې په وخت کې د مینې لاس دې راکړی وو ، په سلګو سلګو دې ژړل او د را روانو چینایي لیوانو اندېښنې دې زمزمه کولې! نه پوهېږم ؟ څه ومنم ، په کوم یوه باور وکړم؟ آیا دا تریخ واقعیت ومنم ؟ !

- "منصوره ، سبابه غره ته ځو .... "

دکومل په غمجنه توره شپه مې اوږد نظر واچاوه ، ومې ویل:

- "دغرونو په لمنو شپه روښانه لیدله کېږي ، دمجاهدینو ترانې به واورې چې زړه به دې تازه شي .... منصوره .... ستورو ته به ګورې ، نه یوازې یو ستوری (نجمه) بلکې په ملیونونو ستوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



به درته خپلې همېشنۍ موسکاوې کوي ... منصوره!د غره فضا دېره زیاته په زړه پورې ده ...."

(۷)

دخپلې نجمې غم مې شاته کړ ، پورته په هسکه مې سپوږمۍ ته چې دځوارلسمې شپې وه وکتل ، هو ، وربځو پوښلې وه ، خو ما يې پر مخ آرام له وقاره ډکه موسکا لوستله ، هغه تلپاتې موسکا چې د زړګونو کلونو راهیسې پرې خوره وه ، ای زما سپوږمۍ چې تیارې ننګوې! ستا په رڼاوو دورشوګانوتر منځ دمجاهدینودمرکز په لور روان یم ... او زه له هغو سره زیاتی کوم چې یو تن راپه زړه کوم یا سل تنه ... بلکې هغوی ډیر زیات دي ... لکه جنرال محمود محیطي ، ستر جنرال عثمان باتور ، جنرال شریف خان او جنرال عثمان اوراز .... او هلته دغرونو په سرونو کې له یوې ډلې سره ولاړ یم – ټول اقلیمونه او ولایتونه مې سترګو ته ودرېدل– ټولې ناخوالې مې یو ، یو تر نظره تېرې کړې ، دکومې له وجې چې زمونږ اولس په وسلې او مبارزې لاس پورې کړی وو ... د (۱۹۳۲) میلادي کال په پای کې ویجاړوونکی طوفان پیل شو ...

خوجه نیاز وویل:

- "په اورمچي کې به سره ووینو ، چېرته چې دچینایي واکمن مانۍ ده... "

پوهېدو چې مرحله اوړېده ده ، له کړاوونو او وینو سره تړلې ده ، دجنرال محمود محیطي له خبرو همداسې پوی شوم چې ویل یې:

- "الهي عنایت او مرسته به راسره مل وي ... "

ما وویل:

- "درنو مشرانو! کومه مارکسي فلسفه چې روسانو خوره کړې ، زمونږ ځیني خوانان يې ښکار شوي ...."

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاجي خوجه نياز وخندل ويې ويل:

- "کله چې دحقيقت رڼاوې خورې شي، دا خرافات به پخپله له منځه ځي..."

بيا يې له سپينو واورو ډکو څوکو ته وکتل ويې ويل:

- "دالله اراده له هرې ځمکنۍ فلسفې غښتلې ده ، دکومې ملحدې فلسفې برى چې تلپاتې درته ښکاري ، هماغه د اوبو ځګ ده چې ډېر ژر به له منځه ځي ... دتاريخ په هر عصر کې ځيني سرکښان د الله کلمات ننګوي او څه نا څه برى لاسته راوړي ، مګر ناممکنه ده چې حقيقي بري ته ورسېږي ... الله پخپل کتاب کې ويلي: "انا نحن نزلنا الذکر وانا له لحافظون[1]... " ترجمه :" بېشکه مونږ پخپله نازل کړى ذکر (پند،قرآن ) او بېشکه مونږ د هغه ساتونکي يو ".

يو عجيب صفت مې دترکستان په خلکو کې وليد ، دا اولس چې په خوب تللى ، تسليم شوى ، ژوبل تکې تکې ښکاري ، دحسرتونو او نهيليو لوخړې ترې د آسمان په لور رواني دي ، همدا اولس چې کله زمونږ دمجاهدينو را رواني قافلې ووينې،نوتنبلي او کمزوري له اوږو وغورزوي ، دخوښۍ سترګې راخلاصې کړي او له مونږ سره روان شي !... يا الهي... څېڼايان چېرته دي؟ ... وينم چې په تېښته دي ... او ډېرو يې اسلام ته غاړه کېښوده او زمونږ په صف کې جنګېږي ، هغه پېغلې او تور سرې آزادې شوې چې دکافرو پوځيانو په غېږو کې وې .... راووتې ، دا دى اوس له مونږ سره په جهاد کې برخه اخلي ... په يوه ښار کې مې وليدل چې يو غبرګ پلن سرى يې رانيولى ، شاوخوا خلک ورته لاسونه پړکوي... دا څوک ده؟ ... دادکاشغر يوه تورسرې ده (خاتون) نومېږي ، اوچينايي ضابط (چن لي) نومېږي ، ضابط يې راونيوه او يوې غتې ونې پورې يې وتاړه ، لکه تپي غويه له ونې تاوېږي ، او هغه يې په متروکو په شا وهي...

---

(۱) الحجر ۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماته دې ویل: خاتونې !.... ته زما یې .... هیڅ زوروور دې له ما نشي ژغورلای ... وړې ذلیلې کوتې ته دې بوتلم ... یادېږي دې؟ په زرګونو ځله مې درته وویل چې زه درنه کرکه لرم ... کرکه لرم ، له مانه به څه تر لاسه نکړې ... او فریاد مې وهلو چې الله له ما او تانه لوی او قوي دی... او تا لعنتي لغړه بربنډه پرېښودم .... خپل نیشه پوځیان دې دبې وزلې لغړې بربنډې لاس ترلې تور سرې تماشې او ننداړې ته ودرول ... ما به ژړل لاسونه مې هغې هسکې ته چې باران ترې ورېده پورته کول... دزړه له تل نه مې دعا کوله...تا راپورې خندل ودې ویل: الله دې غږ نه اوري څکه چې نشته ... هغه چې شته (چن لي ) دی ... اوس وایه چې ستا زبر خواکي چېرې ده؟ ... له هرلوري راتلونکیو خلکو ته وګوره رپاندو بیرغونو ته وګوره ... الله دې وپېژنده او که نه؟ چن لي غرېږه ...آه.. اوس سجده کوې ... خاوره ښکلوې ... هغه الله ته پناه ورې چې ترې منکر وې ... ته څنګه نارینه یې؟ ... پوهېږم چې یو ذلیل انسان یې ... له مرګه وېرېږې .... مګر ای وحشي ځناوره زما دې زړه زخمي کړی ... زما دې شعور زخمي کړی ... زمونږ په دین کې پر عفت دتیري سزا مرګ ده او بس ....

خوجه نیاز دې پاروونکې منظر ته کتل ویې ویل:

- "ښکاري چې ښځه لیونۍ شوه ...."

دکاشغر یو تن رامخکې شو ویې ویل:

- "تول کاشغر ته ددې مېرمنې قصه معلومه ده ..."
- "حتماً ، ډېره موده دردېدلې او زورېدلې ده ...."
- "یوې درنې کورنۍ پورې اړه لري . "
- "همداسې ښکاري ... "
- "او دې (چن لي) ضابط ته له درنو کورنیو پرته نورو لوښو سره لوبو خوند نه ورکاوه ، ... کمونست دی ، په مسکو کې یې روزنه لیدلې ... ډېر لوی عالمان او دینداره خلک یې وژلي "

خوجه نیاز دترلي ضابط وخواته ورنژدې شو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- "څه دې کړي؟ ..."

بندي په ستومانه سترګو وکتل ويې ويل:

- "پرون مې دبريمن لوري په حيث خپل حقوق تر لاسه کول ..."
- "دبريمن لوري حقوق څه دي ؟..."

لدينه چې (چن لي) خواب ويلای نه شو ، خوجه نياز وويل:

- "دا چې د نورو ديني لوړ ارزښتونه تر پښو لاندې کړې؟ ..."
- "زړه مې پرې بايللی وو ، خانته مې رانيوله .... "
- "دهمدې لپاره جګړې ته راغلی يې؟ ..."
- "ما هغه څه کړي،چې نورو کول،مسئوليت زمونږدمشرانودی ..."

خوجه نياز ولاړو خلکو ته وويل:

- "ده ته وګورئ ... له مونږه غواړي چې هغه څوک محاکمه کړو چې دوی يې راوستي ..."

بيايې وده ته وکتل ويې ويل:

- "د الله په وړاندې حساب ته يو يو تن بېل بېل ودرېږو .... "وکلهم آتيه يوم القيامة فرداً [۱]... " ترجمه:"دوی ټول ودرېدونکي دي الله ته بيل بيل" دا آيت دې ندی اورېدلی ؟ حتماً به دې نه وي اورېدلی ، او مونږ دې ستا دمشرانو په جرم نه محاکمه کوو، بلکې په هغه څه چې تا تر سره کړي محاکمه کوو ..."

(چن لي) خان بايلود ، چيغه يې کړه :

- "نه غواړم چه مړ شم ..."

خاتون په لوړ آواز وخندل ، خوجه نياز يې مخاطب کړ ويې ويل:

- "پلاره! ... دده اسيرانو به لده نه دترحم غوښتنه کوله ... په يوه ماښام مې له يوه شريف ځوانه اورېدل چې ده ته يې ويل: نه غواړم چې مړ شم ... عين خبره چې دی يې اوس کوي... لکن (چن لي ) ډېر بد سترګی وو ... "

---

(۱) مريم ۹۵.

c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې یې کولې د(چن لي) په لور روانه وه :

- "ایا منکر یې؟ ...ډېر بد سترګی وې ... خپله تمانچه دې اوچته کړه شپږ ډزه دې وویشت ... "

بیا خاتون اوریدونکو ته مخ کړ ویې ویل:

- "تېې خوان لکه مار په خان تاوېده را تاوېده .... آهونه یې ویستل زګېروي یې کولې ... سترګو یې دژوند په لور وروستی کتنې کولې ، دې ذلیل سپي به دچای له پیالې غړپ وکړ ، سګرت به یې په خوند کش کړ ... وړین تود جاکټ به یې په خان ساز کړ ، وبه یې خندل .... زه به یې په زنګنو کېنوله ... پر مخ به یې راته په خنجر لوبې پیل کړې .... تاسو سوچ وکړئ... دا زما مخ ته وګورئ ... د زړو پرهرونو آثار مې اوس هم پرمخ شته ... دی به ورته سخت خوشحاله وو ، او زما دپرهارونو وینې به یې په خوله زبیښلې او څټلې ... "

بیا یې لکه دلېونو یوه څړیکه وکړه:

- "محاکمه! ..."

چوپتیا خوره شوه ، ټولو خلکو ویرجنې ښځې او ترل شوي ضابط ته کتل په همدې شېبو کې یو سپین ږیری چې له شپېتو پورته ښکارېده ، توره په لاس له صفونو راتېر شو ، مونږ لا پوی هم نه شو چې د(چن لي) سر یې دوه ټوټې کړ ، هرج مرج جوړ شو ، سپین ږیري په لوړ آواز وویل:

- "زه بې پلار یم ...."

خاتون خپل پلار سره له غاړې وتله او کلکه ورپورې ونخښتله ، خوجه نیاز خپل سړي رخصت کړل ، په کاشغر او نورو ښارونو کې سختې جګړې ونخښتې ، مجاهدینو له خاینانو او یرغلګرو دټولو سیمو تصفیه پیل کړه ، دلسګونو غمجنو پېښو حکایتونه هرې خوا کېدل ....

خوجه نیاز به همدا زمزمه کوله چې : زه بې پلار یم ... همدا دوه کلمې به یې بیا ، بیا په سوچ تکرار کړې ، داسې یې ګڼله چې دی یې دوهم پلار دی ، ددې تاکید به یې کاوه چې غم ځپلی ترکستان تل یو مسلمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیک پلار ته ضرورت لري ، او همدارنګه هغه اولادونو او بچیانو ته چې دده له وجود او شرف نه دفاع کوي ، او دده دحسي او معنوي پرهارونو غچ اخلي ...

لعتني رایاده شوه .... نجمه ... کاش داسې وای لکه "خاتون" مګر ولې پدې حالاتو کې د " نجمې " په یاد کې ولوېدم؟ زه یې پلار نه یم .. او هغه (خاتون) نده ... فقط ددې سختو شرایطو زهرجن محصولات او افرازات دي ... او په هر بڼ کې داسې ازغي شنه شي چې له ګوتو وینې وبهوي او تر ګلانو لاندې مارهم پېدای شي ... (نجمه) همدې ذلیل (چن لي) ته ورته ده ، زمونږ جګړه هم پکار ده له (چن لي) او دده لښکر سره وي... او همدارنګه له ټولو زهرجنو وژونکو افرازاتو سره لکه " نجمه" او امثال یې ...

په ټولو ځایونو کې آرامي او سکون خور وو ، په کاشغر کې نوی جمهوریت اعلان شو ، حاجي خوجه نیاز دترکستاني جمهوریت رئیس وټاکل شو ، یو بل نیک سړی چې په قاهره کې مهاجر وو او دمولانا ثابت په نوم یادېده دنوي حکومت صدراعظم وټاکل شو ، دوزیرانو شورا (کابینه) او دوکیلانو جرګه (پارلمان) جوړ شو ، نژدې ټول ولایتونه مو آزاد شول ، له لږ وخت وروسته فکرونه د "اورمچي" ښار کلا بندی ته واوښتل ، چې چینایي حاکم پکې اوسېده او دهغوی آخرنی کلا وه ... زه کومل ته ولېږل شوم چې ځواکونه راټول کړم خلکو ته اوامر صادر کړم او لارښوونې وکړم ... پدې سفر ډېر خوښ وم چې بریمن کومل ته ورګرځم، ځومره خوندوره ده چې پوځي خپل هستوګنځي ته بریالی درومي... هو، هسکه غاړه ورځي ، خلکو ته په شفقت او مینه ګوري ، محسوسوي چې یوه قوي رابطه یې سره رانغاړي ، دی دهغو دزړونو یو نبض دی ، او دهغو دارواحو، هیلو ، خوښیو ، دردونو ، یوه برخه ده ، لویه کامیابي ، لکه لوی درد، زړونه نژدې کوي، بلکې یو کوي یې ، او ټولې هیلې یوې کڅوړې ته غونډوي ... دګټلې جګړې اتل دوطن پر خاوره په فخر پښه ږدي ... په لارو کوڅو کې له کړکېو راوتلیو خوشحاله مخونو او دلمر په

(c) ketabton.com: The Digital Library



زرینو وړانګو دماشومانو رنګونو ته ګوري ، همدارنګه هغوکروندګرو او خواري کښو ته چې په آرام او سوکاله فضا کې سوکه سوکه خې او راخي... راغلی بریالی ګمان کوي خپل فرض یې څه ناڅه تر سره کړی ، هغه چې پرون ددښمن پر کلاګانو ورخوت ، زوړ توپک یې ډزاوه ، سیمې یې دپلیتو چینایانو له وجوده پاکولې ، زه هغه آسوال بریالی یم ...دژوند څومره ښکلې خوږه نغمه ده ... سخت مې لکه واوره سینه یخه شي چې ووینم دالحاد تیوریسنان ... دمارکسیزم پروفیسران... ماتې خوري ، او ټول منطقو نه او دلائل یې له منځه تللي او باطل شوي وي ... او سمدستي الله یادوي ... هو ، زه ډاډه وم چې درواغ نه وایي ... څکه له سترګو یې پردې لیرې شوې وې او خپل اصیل فطرت ته - په سختۍ کې - خپل الله ته راګرځېدلی وو ، هغه لومړنی ازلي حقیقت چې شک اوتردد پکې نشته ...

په کومل کې وګرځېدم ... وګرځېدم ... تردې چې څمکه مې په نویو بوټانو څیرې څیرې کړه ... د شا له خوا مې غږ واورید چې وایي:

- "مصطفی حضرته ! دادی بیا راغلې ، او قسم ده چې (نجمه) لټوې! ..."

شا ته ګورم چې ، منصور درغا دی ... ښي مټ یې په غټه سپینه پټۍ تړلی او سر یې په بله وړې پټۍ تړلی، په خندا کې راته وایي :

- "یاره نژدې وو چې پیژندلای مې نه وای ..."

سره غاړه'وتو ، چې منصور درغا پیل وکړ:

- "څه وخت مې په روغتون کې تېر کړ زما له مټ نه یې دوه که درې چرې را ووېستلې ... نه پوهېږم .... داکترانو ویل چې مټ به دې څه وخت لپاره له حرکته ولوېږي... خیر داڅه مهمه نده..."

بیابې سر له ډېره غمه ټیټ کړ ، وېې ویل:

- "ډېر زیات خلک مړه شول ... چې نور مې له مرګه کرکه ده ... داچې انسان انسان وژني څومره بد بختي ده ... ولې دا ټولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناداني... مګر زه غواړم دا هر څه هېر کړم ... اوږه وخوځوم ... ټوپک پرې کښېږدم ... دچینايي یا روسي دښمن په طرف یې ورسم کړم ... نه غواړم چې مړه یې کړم ، بلکې غواړم چې زمونږ له وژلو یې لاسونه لنډ شي ... غواړم چې وسلې یې غلې شي ... غمیزه داده چې وسلې یې ترهغې نه غلي کېږي تر هغې دوی نه وي غلي شوي ... او دا غمونکې ده ... حتماً باید ووژل شي ، چې وسلې یې له لیونتوبه پاتې شي ... راځه چې لږ وخاندو ... یا الهي !... لا تر اوسه او ددې خونړیو ورځو وروسته هم دهغې په سوچ کې یې؟ ... "

په حیرانتیا مې وویل:

- "څوک یادوې ؟ ..."
- "نجمه در یادوم ..."
- "زه یې پلار یم ..."

منصور زما په وروستی‌خبره ډېر سخت وخندل:

- "ته یې پلار یې نو ! ...."

دامېر تشې مانۍ خواته مې سترګې وځغلولې ومې ویل:

- "کاشغر کې مې له بوډا سړي همدا کلمات واورېدل ... چې زه یې پلار یم...او حاجي خوجه نیاز هم همدا کلمات تکرارول... زه یې پلار یم ... او زمونږ وطن یا منصوره ! داسې چاته اړین دی چې تل همدا وایي : زه یې پلار یم ..."

منصور زه په لاس وټپولم ویې ویل:

- "جګرو دې اعصاب کمزوري کړي ..."

خواب مې ورکړ:

- "کېدای شي ... "
- "اورمچي ته رسېدلي یاست که نه؟ ..."
- "هو کې...ښارموټرکلابندی‌لاندې دی،جګړه پای‌ته نژدې ده..."

منصور درغا وخندل ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- "مګر زه دا وایم ، تر هغې چې د زمري د دواړو ژامو ترمنځ واقع یو زمونږ غمېزې پای نه لري ، لمړی ژامه کافر چین ، دوهمه ژامه ملحده روسیه،چې دواړه زمونږدخاورې دنیولوطمع لري... او زمونږ داسلام د له منخه وړلو ارادې ... او څرګنده ده چې داسلام له منځه وړل زمونږ له منځه وړل دي...دامې دهغوی له فیلسوفانو نه اورېدلي دي ... او ددوی خینې پټې خپرونې مې په خینو نیول شویو ښارونو کې لوستي چې دکاغذونو او اسنادو دسوځولو او وړلو موقع په لاس نه وه ورغلې او تبنتېدلي وو ...له ماسره ډېر داسې اسناد شته .... چې ډېر ژربه یې خوجه نیاز ته ورسوم ... دا جګړه په نوې بڼه صلیبي جګړه ده !... "

نابېره منصور مې غوږ ته خوله رانژدې کړه ویې ویل:

- " نجمه دشپې په تیاره کې وتښتېدله..."
- "ته څه خبر شوې ؟..."
- "کوم ضابط چې هغه خانته نیولې وه ، تر ټولو ړومبی وتښتېد ..."
- "خیر دهغې او (خاتون) تر منځ دځمکې او آسمان فرق دی...."

منصور په خندا وویل:

- " نجمه د ټول ژوند په اوږدو کې یو کتلست انسان بلکې یوه مجهوله څېره ... ته یې دومره نه پېژنې لکه زه ... ګرانه دوسته اجازه راکړه ، په لومړي ځل یې حال درته و وایم ، هغې له لسو زیات عاشقان لرل! ... له آسپاله نیولې ، ترخوان شپون ، تکړه پوځي اوبودا بډای پورې چې جواهر به یې پرې بادول ، مصطفی وروره ! ته ډیر ساده یې ... خفه کېږه مه ... زه بیا لکه تا غوندې نه یم ... دې تورو شپو داسې کړی یم چې په هیڅ شي باور نه کوم ، مګر یوازې په هغه انسان چې وسله په لاس تر مرګه جنګېږي ، او دا دفساد او ضیاع دور دی ... ژوندون پکې لعنت دی...باور وکړه چې نجمه"اورمچې"ته ولاړه ، که اورمچي ته ورننوتو هلته به په ژړا پناه دروړي ... ټولو ته به

(c) ketabton.com: The Digital Library



دزور زياتي شهيده ښکاري ... خلک به يې په اوښکو غولېږي ...
ستا زړه به هم ورته لکه مالوچ پوست شي ... "

خپله تمانچه مې ولټوله ، په قهر جنه لهجه مې وويل:

- "دخائن جزا اعدام ده...."

منصور پداسې حال کې چې خپلو اوږو ته ټکان ورکړ په خندا وويل:

- "دا کار نشي کولای ... ايا هغه پدې ټولو کارونو مجبوره نه وه؟..."

- "مګر پکار ده خپله خاوره له ټولو زهر جنو افرازاتو پاکه کړو ، او همدارنګه له هرزه پر نورو بار شويو بوټونه ..."

منصور موسکی شو:

- "افرازات د الله پيدا دي ، او هرزه پرنورو باندې بار ګياګانې تلپاتې دي ،څوک يې ورکولای نشي ، مګر ما له يوې غرنی غجری سره واده وکړ ، چې له جکړو مکړو له سره خبره نده ... خير ، نورې خبرې به بيا وکړو ، اوس دې پروګرام څه دی ؟ ..."

- "په کومُل کې يو دوه شپې پاتې کېږم،بيا ببرته اورمچې ته ځم.."

- "خو زه له دوه اونيو مخکې نشم درتلای..."

له منصور سره مې الله پاماني وکړه ، دکومُل په کوڅو کې بې هدفه روان شوم ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۸)

مونږ له ټولو ناخوالو سره سره دکمکي نوي تأسیس شوي دولت په توګه د روس اوچین په څېر د دوو لویو قدرتونو مقابلې ته پراته وو ، مګر داچې دخپل کمکیوالي په پلمه خپلې درې د یرغلګرو پر مخ پرانیزو؟ او دالله راکړي قیمتي تحفې په اړه لاس ترلي کښېنو؟ نه ، داسې نشوکولای ، پرېږده چې جګړه روانه وي ،که هر څومره اوږده شي ، میاشت ، دوه ، کال ، هرڅومره چې دالله رضا وي ، مونږ به ټول عمر مجاهدین پاته شو، دابه مو تقدیر وي ، پدې هکله مونږ بې وسه یو، خوجه نیاز شاوخواته وکتل ویې ویل:

- "جګړې زمونږ هر څه له منځه یو ورل ، وچ او لانده یې ټول وسېځل..."

جنرال شریف خان چې کلک غښتلی سړی وو ، لکه الله تعالی چې همدې جهاد او کافر وژنې لپاره پیدا کړی وي ، وویل:

- "مهمه داده چې جګړه مو پر الله تعالی او پر ځانونو بروسه او اعتماد له منځه یو نه سي..."
- "هر ځای هرې خوا ته ولوږه او قحطي ده ..."
- "محترم رئیس صیب ! ته پوهېږې چې دغفلت بیه څومره لوړه او درنه ده..."
- " هر لور ته پرېشاني او مایوسي خوره ده..."
- "نو څه به کوو؟ ..."

جنرال شریف خان ورته وکتل ویې ویل:

- "مګر له ما سره یو نظر شته ... له مشکلاتو سره سره په اورمچې باندې برید کوو..."
- "پکار ده چې همداسې وکړو ..."

(c) ketabton.com: The Digital Library



- "یا به پدې لاره کې مړه یو،اویا به مو په اورمچي او "ایلي" خپله سلطه ټینګه کړې وي...."

په همدې دوران کې د (جین شورین) او روسانو ترمنځ د مسلمانانو د خپلو په موخه د ځواکونو دلېږلو پر سر خبرې روانې وې، روسان په حقیقت کې پر (جین شورین) باوري نه وو ، له همدې امله په ګړندي توګه لاس په کار شول ، دچینایي قواو په هغه کودتا کې یې برخه واخیستله،چې چینایي پوځي قوماندان "شین سي سای" یې مشري کوله ، دی پوخ کمونست وو ، کودتا بریالۍ شوه ، (جین شورین) چین ته وتښتېده واک ټول (شین سي سای) او ملګرو ته یې په لاس ورغی ، دصلحې او دبنسټ د یو والي تش په نامه ترون د(شین سي) او روسانو تر منځ لاسلیک شو ، کمونست واکمن روسیې ته له شرقي ترکستانه د اومو توکو د را ټولولو او لېږلو ژمنه وکړه ، روسان به په بدل کې دپوځیانو او وسلو مرسته ورکوي چې په دې توګه به د مسلمانانو نوی زېږېدلی جمهوریت پرې ونړوي ...

د ۱۹۳۳ مېلادي کال د دیسمبر دمېاشتې له ورځو نه په یوه ورځ کې دروسانو دریوو لواګانو له (۳۰ ) الوتکو (۲۰ ) ټانکونو (۵۰ ) زغره والو موټرو سره د "ایلي" او "شوشک" له لارې یرغل راووړ، داخبر سخت غمووونکی وو ، لدینه چې له مونږ سره دمقابلې هیڅ وسایل نه وو ، خلک سخت ووېرېدل، حاجي خوجه نیاز وویل:

- "پرون مو جګړه کوله..."

جنرال شریف خان وپوښتل :

- "او نن ؟..."

- "زمونږ جګړه نن سربښندنه ده ... دفدائي عملیاتو یوه بېه ده..."

بیا یې جنرال صاحب ته مخ وګرځاوه ویې ویل:

- " جنرال صیب ! لدې سره سره له جګړې پرته بله لار شته؟..."

- "زه په سیاست نه پوهېږم ، دژوند تجربو رابښودلې چې جګړه زمونږ پرونۍ یوازینۍ لاره وه ، او په مستقبل کې به هم زمونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوازنی لاره وي، دا ناشونې ده چې غلیم دې په جګړه کې له ماتې پرته لاسونه پورته کړي او تسلیم شي..."

حاجي خوجه نیاز هغو روسي الوتکو ته کتل چې پر مجاهدینو یې بمونه لکه باران خوشې کړي وو ، وویل:

- "نودڅوند تر وروستي شېبې به جګړې ته دوام ورکوو ..."

په همدې دوران کې روسانو په ټولو چارو کې لکه پوځي ، سیاسي او سوداګریزو چارو کې خپل ماهرین راولېږل ، مالینکوف – چې وروسته بیا دشوروي اتحاد رئیس شو – یو له هغو دوو لوړ پوړو مشاورینو وو چې د(شین سي سای) نوي جمهور رئیس مرستې ته راغلی وو .

مالینکوف ډېر بد ، خبیث او مکار انسان وو چې ډېر خطرناک پلانونه یې جوړول، په لمړیو ورخو کې یې له (شین سي) سره په لیدو کتو داخبره کړې وه ، چې :

- "له ما سره په ذهن کې دجګړې خیالي بڼه شته که پلي شي نو ډېر څه به لاسته راوړو..."

شین سي وویل:

- "څنګه ؟..."

- "له مونږ سره دشرقي ترکستان یوه لویه ډله کسان شته چې په روسیه کې یې زده کړه کړې او په کمونستي افکارو تربیه شوي ، او مونږ پرې پوره باور لرو ، مونږ کولای شو ترې کار واخلو ، دحاکم نظام دجنګي او اداري سیستم په سر کې یې وګمارو ، پدې صورت کې به عوامو خلکو ته داسې جوته شي چې جګړه دخوجه نیاز په څېر مرتجعینو او دحاجي هاشم او حاجي سید او نورو مترقي ځواکونو ترمنځ ده..."

(شین سی) پدې طرحه ډېر خوشحاله شو ، سمدلاسه له مسکو نه کمونست رفیقان راوکتېدل ، چې اصلاً دشرقي ترکستان وو ، حاجي سید د استخباراتو رئیس وټاکل شو ، چې په جرمني کې د(جستابو) په شان حیثیت یې درلود ، هغه له وطنوالو نه دغچ په اخیستو کې ډېر کرغېړن

(c) ketabton.com: The Digital Library



رول ولو باوه ، ددې دوزخي رياست نورې څانگې هم په ټولو ښارونو کې پرانستې شوې...

سونږ په ټول الله راکړي توان او طاقت جنگېدلو ، جگړه د کلمې له معنی اومفهوم سره سمه تونده او سخته وه ، يوازې دمردکيو جگړه نه وه ، او نه يوازې دالوتکو ، ټانگونو او زغره والو گاډو چې د شيهدانو پر لاشونو يې غوبل کاوه، بلکې په يوه پرېوتي ښه بله (اخلاقي انحراف) جگړه هم وه چې کمونستو رفيقانو پکې ډېر ښه مهارت درلود !

وروسته لدې چې کمونستانو په يوه ښار کې واک تر لاسه کړ او مونږ له اورمچي نه په شا شو ، اورېدل مو چې عجيبې مځا کمې رواني دي ، زما ملگری منصور درغا ددښمن لاسته لوېدلی وو چې بيا په تېښته بريالی شو ، عجايب يې رانقلول ، منصور درغا داستخباراتو G.B.O مرکز ته يووړل شو، داسې شيان يې ليدلي وو چې مخکې يې په ذهن نه وو تېر شوي ...

منصور درغا تک زيړ شو ويې ويل:

- "زه يو غرنی سړی يم ، په جگړه مکړه خبر نه يم ، په ليک لوست نه پوهېږم ، پاريدلو ټوپکوالو له رمې او څارويو سره په زور ونيولم ، او دادی اوس تاسو ونيولم زه بې گناه يم ، له جنگه خبر نه يم..."

داستخباراتو مرکز ددوزخ حيثيت درلود ، حاجي سيد داستخباراتو رئيس پخپله تحقيقاتو ته ودريدلو،څار نه يې کوله او اوامر به يې صادرول:

- "او خاينو ضابطانو ، دمرتجع (وروسته پال) خائن خوجه نياز په صفونو کې څنگه جنگېږئ؟ پدې نه پوهېږئ چې ستاسو مالونه يې غلا کړي ، او مليونونه يې درنه پټ کړي ؟ پدې نه پوهېږی چې له تاسو گټه پورته کوي او سوداگري دربانديې کوي ؟ ښځې ، سره اوسپين يې ښه ډېر ټول کړي ... شرمونکو رسوايېو ته يې وگورئ ..."

بيا به يې جعلي مطبوعات ، شمېرې او تصويرونه ورښودل ، همدارنگه تعامل يې له جنرال شريف خان او نورو قوماندانو سره هم کړی وو ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته لدې چې معنويات به يې بنه وځپل ، بيا به يې خپلو جلادانو ته دتعذيبونو د بيا پيلونې امر وکړ .... دوزخي وسايلو خپل کار کاوه ، او دا خبيث وسائل بې شماره وو ، بې وزلانو به يا نارې سورې وهلې ، او يا به چوپه خوله شهيدان کېدل ، دزور اعترافات به واخيستل شول، بيا به يې دتورنو لاسليکونه پرې په زور واخېستل او بيا به يې د "سنکيانګ " په ورځپانه کې خورولې ، چې د "وان باوو" په نوم مشهور چينايي کرغېړن تبعه يې مسئول مدير وو . او خيني نورې ورې رسالې هم وې چې خينو خاينانو جوړې کړې وې ، يا د (جستابو) ګوډاګيانو ليکلې وې او دترکستانيانو په نومونو يې خپرولې،دجګړې دائره پراخه شوه ، بېلې بېلې بنې يې غوره کړې،مجاهدينوپه سربښندونکي بنه جګړه پر مخ بيوله ...
داسې ورځ هم راغله چې تول عمر به مې هېره نشي ... آه ... کاش چې ژوندی نه وای او دا ورځ مې نه ليدلای د ( ۱۹۳۴) م کال دجولای مياشت وه ، درنه جګړه پيل شوه ....
روسان ، چينايان ، داخلي خاينان دکمونيزم ګوډاګيان تول سره يو ځای شوي وو ، له هرې خوا راتول شوي وو ، جګړه ډېره ژبغړاندې وه ...
خوجه نياز اخوا دېخوا وکتل ويې ويل :

- "ورونو ! بې له شهادته مو بل څه په وړاندې نشته ..."

جنرال شريف خان په جګړه کې ډوب وو ، پر مخ يې خاورې خخلې نښتې وې ، الوتکو او شوبلو خپل اورونه شيندل ، لارې کوڅې له شهيدانو ډکې وې چې تګ پرې ګران وو ، دوينو بوی توله فضا نيولې وه، جنرال شريف خان له خان سره وبونګېده :

- "لکه چې دا خل مو وبايلله!؟ .."

خوجه نياز وويل:

- "پکار ده چې تر بلې موقع په شاشو ! ..."

غليم په ډېر شمېر راورسېد ، دنابرابره جګړې په غير منظم شاتګ کې مو ډېرې لوېې ستونزې وليدلې ، زه په يوې غونډۍ ورختلم چې په لاسونو او پښو کې مې د ازغو نښتو هيڅ پروا نه کوله ، انجې وهلو په لوړه څوکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ودرېدم ، لیرې مې کتل ... یا الهي ! ګورم چې، خوجه نیاز ، جنرال شریف خان او ځیني نور ورونه ددښمن په اسارت کې پرېوتل ، چې وروسته داستخباراتو یا G.B.O مرکز ته انتقال شول ...
هوکې ، هیلې له خاورو سره خاورې شوې ، هر څه مې په خان کې مړه شول ... مینه ... هیله ... برې.... دا ټول ، لکه پرون چې مې په زړه کې (نجمه) مړه شوې وه .... تشویش راسره پیدا شو هسې نه چې د مبارزې شپې ورځې تر خاورو لاندې شي ، مجرد یادونه یې پاتې شي ... لکه منصور درغا چې رانه تری تم شو او تردې دمه یې هیڅ معلومات نشته ... دشرقي ترکستان دهغو بچیانو په لیدو ډیر وردرېدم چې کمونیزم یې په ماشومتوب کې لکه دمورتی ورودلو ، او بیا وطن ته راوګرځېدل او په تشدد ، ګوډاګیتوب ، دآزادۍ دجنګیالیو په تمسخر او خندایې ترجمه کوله ...
په انسان ډیره سخته تمامېږي چې دخپلې خاورې بچی ، پلن جسم ، غټې سترګې پداسې حال کې ووینې چې خپل ورونه وژنتون ته لکه رمه ولې او دخاروېو معامله ورسره کوي ...
دخوجه نیاز او جنرال شریف خان نیونه نژدې وه دیوې اوږدې مودې لپاره د راز او سِر په توګه پاته شي ، ځکه دوی دواړه او ملګري یې یو نامعلوم ځای ته وړل شوي وو ، کوم ژور غارته اچول شوي وو چې هېڅوک ترې خبر نه وو ... داستخباراتو په مرکز کې خوجه نیاز په شلېدلو جامو ، ځیرې ځیرې بدن ودرېد ، تر څنګ یې جنرال شریف خان ولاړ وو، تحقیقات ډیر سخت او ځانګړي وو ،تحقیقاتو لپاره له روسانو نه مالینکوف ، فیدین ، زخاروف ، ایوانوف ، دکتور جوار فیلوف ، او له چینایانو نه ستر حاکم ، جان مین فان ، وان باوشین دسینکیانګ دجریدې سر محرر ، او فان بایفان چې وروسته د "خوتن" دمنطقې حاکم وټاکل شو را بلل شوي وو .
حاجي خوجه نیاز سرې سترګې بې وزلی ودرېد ، داستخباراتو رئیس حاجي سید ورباندې چیغه کړه ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



- "پخپل خیانت اعتراف نکوې ؟ ..."

حاجي خوجه نیاز وخندل ، ورته وېې کتل ، نژدې وه له سترګو یې وینه داره ووهي ، وویل:

- "او ته ؟ ...."

- "او زه څه؟ ..."

- "حاجي سیده! زه خاین یم او که ته؟ ...."

داستخباراتو رئیس ، خوجه نیاز په مخ په څپېړه وواهه ، حاجي نیاز دواړه لاسونه په نهیلۍ ومروړل ، او دشونډو لاندې یې وویل :

- "هو ، مچان په بد سترګی د انسان پوزه ګروي ..."

- "حقیقت ووایه...."

خوجه نیاز وویل:

- "حقیقت څرګند دی ... هغوی چې خپل آزادي ، خپلواکي او شرف ساتي دهغو لاسونه زولانه شوي ... کرغېړن خاینان واکمن دي ... دتعذیب وسایل او د لوی زندان کیلي ګانې یې په لاس دي ... بل حقیقت چې زه پرې پوهېږم هغه دادی چې وژل کېږم ... نو پدې وجه لاړې درتو کوم ..."

حاجي سید ورته په خیر اورنی کتنې وکړې ویې ویل:

- "داسې به مرې لکه سپی چې مري ، او څوک به دې لاش هم ونه ویني..."

خوجه نیاز په ورین تندي وویل:

- "لاش مې کوم ارزښت نلري ، روح به مې هلته دغرونو په سرونو الوتنې کوي .. چې مرګ نلري ..."

دجریدې سر محرر مداخله وکړه ، راوړاندې شو ، قلم ، کاغذ یې واخیستل او ویې ویل:

- "حاجي نیازه ! روح څه معنی ؟ ..."

حاجي نیاز ورته وکتل ، اوله مخکې یې پیژانده:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- "پخپله جریده کې دبودا او کونفوشیوس دتعلیماتو په هکله کوم شی خپروې او که نه؟..."
- "لومړی ما پوښتلی یې؟..."
- "درسته ده ... روح مې د رب لـه امره ده ( قـل الـروح مـن امـر ربـي)..."
- "او د رب معنی څه ده؟..."
- "خالق ، پیدا کوونکی ..."
- "کوم خالق؟...."
- "هغه چې بې له شکه ، ته ، مالینکوف ، شین سي سای... یې پیدا کړي یاست ، هغه خالق دی..."

مالینکوف په سخریت خواب ورکړ:

- "هو کې ... طبیعت...."

خوجه نیاز په ملنده وخندل ویې ویل:

- "اجازه راکړئ پخپل وار پوښتنه وکړم ، طبیعت څه ته وایې؟..."
- "دا آفاق او هغه څه چې پکې دي...."
- "په طبیعت څوک واکمن دی ... او چا پیدا کړی؟..."

حاجي سید د استخباراتو رئیس خواب ورکړ:

- "دا دمرتجعینو ( وروسته پالو ) بې معنی خبرې دي ..."

خوجه نیاز موسکی شو ، دقرآن خیني آیاتونه یې زمزمه کړل ...

- "پخوانیو کافرانو به همدا ویل: "لایهلکنا الا الدهر ..."

حاجي سید په کراره وویل:

- "باید چې له ټول ملت سره دخیانت اعتراف وکړې ..."
- "زه نه ، ته باید د هغه باتور ملت په سر د سـودا او معاملې اعتراف وکړې چې ، د ولسمشرۍ امانت یې زما پر اوږو ایښی او اوس په با عزته توګه د آزادۍ په جګړه اخته ده..."
- "او ته د ملت دښمنیو په غلا کولو اعتراف وکړه ..."

(c) ketabton.com



- "زه شخصي مال نلرم ... ما د آزادی له زړورو جنګیالیو سره خوراک ، څښاک او ژوند کاوه..."
- "ته به اوس دجنګي مجرم په حیث محاکمه کیږې...."
- "ما لپاره عزت او شرف ده ، چې دپردیو یرغلګرو نیواکګرو په خلاف جنګېدم ... زه مجرم نه بلکې د الله دلارې مجاهد یم..."

مالینکوف دحاکم (شین سې) غوږ ته کړه:

- "لومړی باید اسلام له منځه یوسو ... چې لدې سره به مقاومت توټې توټې او له منځه ولاړ شي..."
- "طبعاً، همداسې به کوم...."

حاجې سید خپلې پاڼې ټولې کړې وېې ویل:

- "فیصله ستا اعتراف ته اړینه نده ، ته دجنګ په دګر کې له وسلې سره دجرم په حالت کې نیول شوی یې..."
- "درسره ویې لیکه ، زه په ټول فخر وایم چې په شا نه ګرځم... دا زما هیله وه چې شهید شم

جنرال شریف خان مداخله وکړه ، حاجې سید ته یې وویل:

- "که ته مې له پوځیانو یو پوځي وای ، نو ترخپل بوټ لاندې به مې لکه حشره دړې دړې کړی وای..."

داستخباراتو رئیس په خیر خیر او په غوسه ور وکتل:

- "یوازې اعدام دې کافي ندی ... بکار ده چې قطعه قطعه شې او غوښې دې پیشوګانو ته واچولی شي"

منصور درغا په همدې خای کې بندي وو ، ټول جریان یې پخپلو سترګو لیدلی وو ، هغه هم دتعذیبونو او زورونو ترخې پیالې په سر اړولې وې ، په عجیبه توګه له مرګه ژغورل شوی وو ، د اګست دمیاشتې په یوه شپه چاودنه وشوه ، سخته وېره یې داستخباراتو دمرکز په شاو خوا خوره کړه او لوېه کنده او سوری یې پکې جوړ کړ ، دړې تنه بندیانو ته فرصت په لاس ورغی چې سره وتښتي ، منصور درغا وکولای شول چې خان

(c) ketabton.com: The Digital Library



وباسي ، خو دوه نور ملګري يې ددښمن په ګولۍ دشهادت مقام ته ورسېدل...له منصور درغا سره مې ايله يوکال وروسته وکتل،چې دغجري شپون په بڼه ګوډ ، شلېدلې جامې او په ساده‌ګۍ بې ځان وهلی وو .... او په همدې سختو ورځو کې ، روسانو د بشر په ارواحو ، دوطن په امنيت ، شتمنيو او په هر ارزښتناک او سپېڅلي څيز لوبې کولې ، منصور وويل:

- "سوچ وکړه ... روسان دترکستان ښځينه ځاروي رانيسي روسيې ته يې لېږدوي ، پدې سره غواړي زمونږ په وطن کې توليد او نسل يې له منځه يوسي ..."

په ترخې نهيلۍ مې وويل :

- "کټ مټ لکه چينايانو چې پرون زمونږ تور سرې بيولې ...."

تورونه به جوړېدل ، دا کافي وه چې يو بې ګناه دې تورن کړای شي ، بيا دې دهغه ټول خپلوان پرې ونيول شي ، ټول هيواد سخت کلابند شوی وو چې دغميزو رپوټونه بهر دنيا ته ونه ووځي ، په ټول ملک کې سخته وېره خوره وه ، د وطن خلک پخپل کور کې له اولاد سره په ډاډه زړه نه شو غږېدلی ، روسان پدې توانېدلي وو چې دترکستان دهر کور نيمايي غړي خپل جاسوسان کړي ، ګاونډي پر ګاونډي باور نه درلود ، درې پر څلورمه ( ۳/۴ ) برخه ددولت لوړ پوړي چارواکي جاسوسان وو ، همدا رنګه نيم په نيمه پوهيان ، محصلين ، متعلمين ، کليوال او کارګره طبقه جاسوسان شوي وو ، داستخباراتو له مرکزي دفتر نه يې معاشونه اخېستل، ځينو به لا دخان ، زوی يا لور ساتنې له امله جاسوسي کوله ، ځيني تورونه به سخت او عجيب وو ، دا محصل به پدې ونيول شو چې انقلاب غواړي ، دا مزدور به پدې تر تحقيق او زورونې لاندې ونيول شو چې نظريات يې دهيواد سولې ته صدمه رسوي ، بل مفکر به پدې ونيول شو چې پردي ملک ته کار کوي ... يا الهي !... کله به مې چې ياد شـــول ، داسې به راته ښکارېدل لکه وېروونکي خوبونه ، چې حقيقت

(c) ketabton.com: The Digital Library



نلري ... څنګه باور وکړم چې سل زره هیوادوال دې په مختلفو وسایلو ووژل شي؟! او دوه نیم سوه زره نور دې زندانونو ته واچول شي؟! د دین علماء دې د مرګ تر شېبې په سپکاوۍ وزورول شي ؟! ددین او تاریخ کتابونه دې وشیرل شي ؟! مسجدونه دې زېرمتونو نه او تیاترې شي ؟! نوي نسل ته دې دپرمختیایي درسونو تر پردې لاندې الحادي هغه ښوونه ورکړی شي چې شخصیت او تاریخ یې د سره یرغل په طوفان کې اوبه شي ؟!... پدې ټولو سرې څنګه باور وکړي!؟...

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۹)

آه ... دکومُل ښاره ! ستا مې څومره ډېر غمونه او دردونه ولیدل؟ وروسته له هغې چې پر شهزادګۍ دچینایي حاکم دلاسته راوړنې کوښښ ناکام شو، دعلماوو په پاڅون انقلاب خوړ شو ، د کومُل نوم په هره ژبه جاري شو ، چې دا نوم د پولادي هوډ او کلک غبرګون رمز او نخښه بلل کېده، او کومُل دعزت او نه تسلیمۍ مثال وو ،دسرسرېو به هغې ته په نسبت او تړاو ویاړ کاوه ، همدارنګه ښارونه - کټ مټ لکه نیکونه - ښایي حسب او نسب ولري ، او ښایي له پرېوتو مخلوقاتو څخه وي ، او ښايي د الله تعالی په کائناتو کې کوم وزن ونلري ... مګر له بده مرغه دکومُل دغه نیکمرغي لنډمهالې وه او ډېر ژر تر غچ اخېستنې لاندې راغی ... د امیر مانی یې تر سختو ګوزارونو لاندې راغله ... او دانتقام اخېستنې په مرکز بدله شوه ... شهزادګۍ دننه په مانۍ کې وه او دشاهي کورنۍ ځیني نور غړي هم ورسره وو ، همدارنګه نجمه هم تردې دمه پکې اوسېدله ، شاهي کورنۍ تېښتې ته نژدې وه ، مګر د "باودین" په نوم چینایي ضابط چې ډېر لړ شمېر سرې ورسره وو مانۍ تر څارنې لاندې نیولې وه ... باودین مانۍ ته وسله په لاس ننووت ، تر هرڅه مخکې یې پر ښکلې پېغلې سترګې ولګېدې چې دګلاب سور ګل یې بوېولو او اننګې یې پرې لوبولې ، نجمه موسکۍ وه ، دضابط لورته یې معنی داره کتنې کولې ، مخکې لدې چې ضابط څه ووایې ، نجمې په موسکا ووېل.

- "مونږ په زور نه تر لاسه کېږو ... زما مېړني خوښ دي خو له سخت زړو جلادانو کرکه لرم ..."

باودین ورته په حیرانتیا وکتل ، دخبرو معنی یې څه ده ؟ تر دې مخکې لا څوک ده؟ ښایست خوېې ښېشکه زړه وړونکی دی ، څومره چې ورته ګوري هماغومره یې زړه وړي ، مګر په چا باور نه کوي ، د الله په ټولو مخلوقاتو شکمن دی . نو داغوره ګڼي چې هرڅه په زور ونیسي ، ولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنګیالی ندی؟ د بري په نیلي سپور ندی؟... همدې مسلمانانو له چینایانو سره واده ردکړ،له همدې کبله را وپارېدل...دنجمې آواز یې تر غوږه شو:

- "که په زور یې رانیولم ، سوکالې به رانه ونه ویني ...."

باودین ورته نژدې شو ، ماشه په لاس سيي کړې وسله یې زوړنده ونیوله، ویې ویل:

- "لدېنه پوی شوم چې له لنډ ملاقات او یوګیلاس بیر له څښلو کوم ممانعت نلرې ...."

مخ یې لکه ګلاب وغوړید ، ویې ویل:

- " ډیر شوخ یې ، مګر له سړیو دې شرمېږم ... "

- "ورته به ووایم چې دباندې مې انتظار وکړي ..."

نجمې په کرکه وویل:

- "یا الهي ! دوه مین به څه خوند واخلي ، چې نورې سترګې یې څارنه کوي ، او یاکم له کمه پدې پوی شي چې څوک یې انتظار کوي ... نه ... نه، پکار ده چې هغوی ډېر لېرې ولاړ شي ، ډیر لېرې...."

- "په ماني کې نور خلک دي ، چې زمونږ پکار دي ..."

- "زه دماني تولواکې یم چې ستا په لاسو پرېوتې یم ..."

په یوه سترګه یې ورکتل ، او دایې وویل، "باودین" خپلو سړیو ته امر وکړ ، خپلو ځایونو ته ولاړ شئ ، باودین وتوانېد چې په فوري تلو قناعت ورکړي ، دنجمې خواته راغی:

- "هوکې ! ښایست دې حیرانوونکی دی ..."

- "لاس مه راوړه ... دومره وخت راکړه چې خوشبویې ووهم او بیر هم راوړم ..."

نجمې دننه کور ته منډه کړه ، شهزادګی ، خویندې ، مور یې اونور غړي ټول په سخته وېره کې وو ، کوډل دشپې په توره تیاره کې ډوب وو ، هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



لور ته وېره خوره وه ، نجمې شاهي کورنۍ ته په پرېکنده او ببړې سره وويل:

- "هغه وخت رارسېدلی چې خانونه وباسئ ، مخکې لدې چې دچينايانو په لاسونو کې اسيراني شئ ، دا ډېره دردونکې پېښه ده ، زه به چينايي ضابط سره له پلمې او دوکې کار واخلم ، تاسو به له وروستنۍ دروازې و ووځئ او دغره خوا ته به ولاړې شئ ، کومه نقليه وسيله مو چې برابره کړې ، ستاسو په انتظار کې ده او نور ساتندويان مو دتېښتې په لاره څارنه او ساتنه کوي او پام چې جګړه پېښه نـشي ، څکه جګړه به پرتاسو ددښمن د راتولېدو سبب شي ، چې پدې صورت کې به يا ژوند له لاسه ورکوئ اويا عزت او يا هم دواړه ، زه دې ته چمتو يم چې ستاسو لپاره له خپله ژونده تېره شم ، وخت مه ضايع کوئ ، ضابط په کوټه کې دی ، زه له بيرو سره ورځم چې تاسو و ووځئ..."

داوښکو باران شروع شو ، د الله په امانۍ کلمات سره دآهونو او سلګيو په بدرګه وجنګېدل ، نجمه ولاړه ، سترګې يې اوښلنې او غمجنې وې ، مګر چينايي پريوتې سندرې يې ويلې ، چې خينې مصرعې يې له چينايي بوډۍ خادمې زده کړې وې ، دبيرو بوتلونه ورسره وو ، کله يې چې پياله ضابط ته ورکوله ، پيالې ته يې په شک وکتل ، او په لاس يې ووهله ، چې داپرې سخته تمامه شوه ، او ووېرېدله په الوتې رنګ يې وويل:

- "ولې څه وشو؟..."

- "زهر دې پکې ورګډ کړي ..."

قهقهه يې وکړه ، نژدې وه دشا په تخته ولوېږي په خير خير يې ورو‌کتل ، د احتقار ‌کتنې ، ويې ويل:

- " زه به يې لومړۍ وڅښم ... دمانۍ په تاريخ کې څوک په زهرو ندي مړه شوي ..... ددې خای نارينه او ښځينه يو بل نه وژني مګر په تورو ..."

(c) ketabton.com: The Digital Library



باودین ورته نژدې شو ، خپلې سینې ته یې نژدې کړه ، په نرمه یې تیل واهه ویې ویل:

- "ډیر زیان دې وکړ ... "

په موخه یې ورسید ، په ببره یې وویل:

- "زه پښېمانه یم ... "
- "وخت تېر شو ... "
- "څه مطلب ؟ ... "
- "نجمه له یوه الله پرته نور له هیچا نه وېرېږي ... "
- "مګر تر هر څه دمخه مونږ سره دمینې په تار تړل شوي یو ... "
- "چینایي ضابطه ! شک مینه وژني ... "
- "ددې وخت شرایط راته وایي چې باید ویښ اوبیدار و اوسم... چریکانو زمونږ ډېر سري وژلي .... او زما درسره مینه ده او ډېره مې خوښه یې..."

په خپل خاي ولاړه پاتې شوه ، په زړور تیا یې وویل:

- "نه غواړم چې نن شپه دې ووینم..."

څومره دحیرانتیا وړ خبره ده ، دا به بیا باودین په بار بار راپه زړه کوله ، دا ممکنه وه چې له طلایې کوڅیو یې رانیولې وای او تر خپل مضبوط قدم لاندې یې اینبې وای ، څه یې چې زړه غوښتلای ورسره یې کړي وای ، مګر زړه یې ددې کار لپاره تیار نه وو څکه دهغې د اسلوب ، زړه وړونکې ښکلا ، معنی داره بربنډو خبرو تر اغیز لاندې وو ...

- "نجمې زما ډیره خوښېږې ... تر هغې به لاړ نشم څودې خپله خوښې رانه څرګنده نکړې ..."

پداسې حال کې چې شاپې ورته اړولې داخل خواته روانه وه ویې ویل:

- "کولای شی دشا له خوا مرګونی ګوزار وکړې ... زه مو پیژنم ، مګر زه اوس خپلې کوټې ته ځم چې آرام وکړم ... "

په زاریو یې وویل:

- "اي زما ګرانې شهزادګۍ..."

(c) ketabton.com: The Digital Library



- "زه شهزادګۍ نه يم ... شهزادګۍ بې وزلې وړه ماشومه ده ، چې لکه وېربدلې پیشو غرونو ته تښتېدلې ده ، زه دماڼۍ چوپړه (خادمه) يم ، او که وغواړې نو زه دماڼۍ ټولواکه مېرمن يم ... امیر،مېرمن یې او دکورنۍ نور غړي يې زما په خبره روانېدل ... اوس دې وپېژندم چې زه څوک يم؟..."

خبرې يې ترمنځ اوږدې شوې ، تر هغې چې ډاډه شوله شاهي کورنۍ غرونو ته په تېښته بریالي شول ، پلان یې بریالی شو ، خپل مسئولیت يې دماڼۍ او مانیوالو په هکله تر سره کړ ، اوس نو هغه وخت دی چې په آزاده توګه حرکت وکړي ...

کومې غمیزې چې په ماحول کې پېښېږي ، کوم ارزښتونه چې دجګړې په وجـه تر پښـو لاندې کېږي ، دیـوه حـکومـت له نسکورېدو دبل تر جوړېدو ، دحاکم له بدلېدو ، دبریالیتوب او ماتې په تبادلې ، دتشویشونو ، بې خوبیو ، زورونو او اوښکو له شپو راپیدا شوو غمونو، دې ټولو ناخوالو نجمه سخته مایوسه اوله ژونده مړه کړې وه ، امیر ولاړ ، بیا به هېڅکله رانشي ، همدارنګه مصطفی مراد حضرت ولاړ، بیا به هیڅکله رانشي شاوخوا سیمه ، لکه دحیواناتو سیمه ،انسانان منډې وهي ، کشونې کوي وینې چښي ، پرېوتي کارونه کوي...

نجمه روانه وه، شا ته يې نه کتل ، دشهزادګۍ کوټې ته روانه وه ، هغه ډېره مجلله کوټه وه ، د قیمتي ساز وسامان کوټه ، بیا پر شاهي بستر پرېوتله ، او په مایوسۍ راجګه شوه ، دسره رنګ سیوري پردیوالونو نښېدل ، طلايي انعکاساتو ژېړ رنګه رڼاګانې خورولې ، باتور باودين لـه ذلیل سپي په دروازه ولاړ دی ... چې نجمې يې حواس او مشاعر ورلمبه کړي دي ...

- "دداخلېدو اجازه راکوې؟ ..."

- "دروازه له بهرنه بنده کړه...."

په غیر ارادي شکل بې اوامر پلي کول ، څومره وېرېدلو چې ځان بې ددروازې شاته یوازې وموند ، په خجالتونکي ناز پوی شو ، دروازه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا پرانیستله ، دننه کوټې ته لکه سر اخیستی غویی ننووت ، هغې ورته پام ونکړ ، له لاسه یې ونیوله په شفقت یې کش کړه ،خو هغې وویل :

- "نن شپه دې نه غواړم...."
- "نو چېرې ولاړ شم...."
- "مانې اوس ستاسو په لاسو کې ده ... کولای شې بله هره کوټه چې وغواړې اوسېدو لپاره غوره کړې...."
- "او ته؟..."

راپاڅېدله ودرېدله ، ویې ویل :

- "دیو ساعته متاع په ستر که راته ګورې؟..."

نه پوهېدلو چې څه ځواب ووایې

- "هوکې ، که غواړې چې واده راسره وکړې ... نو ...."

نوره غلې شوله ، هغه په حیرانتیا وکتل ویې ویل:

- "نو ، څنګه؟ ..."
- "چې زما په دین وې..."
- "ستا دین څه دی؟..."
- "مسلمانه یم..."
- "مګر زه کمونست یم ، ددین له خلکو کرکه لرم...."
- "زه له هغو خلکو کرکه لرم چې پر خپل خالق ایمان نلري ، ته دې دخپل مشر قوماندان په وړاندې په ادب او احترام ودرېږې لکه چې په لمانځه ولاړ وې ، نو دطاعت فرائض حپل خالق ته ولې نه ترسره کوې؟..."

هغه خپله غټه باډی پر آرام بخښونکې پاسته کوچ اچوله ، ویې ویل:

- "زه څانته خالق نه پېژنم..."
- "لازمه ده چې ویې پېژنې..."
- "مرکزي قیادت به مې توتې توتې کړي که پوه شي چې زه په وروسته پاتې افکارو عقیده لرم ..."
- "سکه غواړې چې ایمان دې پټ پاتې شي؟ ..."

(c) ketabton.com: The Digital Library



- "هو ..."
- "ډېره ښه ده ، نو کوو بې ..."
- "څه به کوو؟.."
- " د واده کارونه به شروع کړو..."
- "خانګړي مراسم او ویناوې دي چې باید ترسره یې کړې ، او ځینې ساده بنسټونه دي چې لومړی باید پرې پوی شې ..."

زړه تنګوالي را واخیست ، ویې انګیرله چې دتېښتې په فکرکې ده ، غوښتنې ډېروي هغو کارونو ته یې اړ باسي چې پرون یې پرې ایمان نه لاره ، ولې دا ټولې تنګسې او زورونې؟ او ولې یې دومره زغم کړی؟...

آخر یې وویل:

- "کولای شم تر خپل خایه دې لکه دلاندې پسه راکاږم ، او هغه څه درباندې وکړم چې زړه مې غواړي ..."

دواړه اوږې یې په بې باکۍ وخوځولې ویې ویل:

- "کولای شې..."

وروسته لدې چې لاړې یې تېرې کړې ویې ویل:

- "مګر په هغه صورت کې به بیا دمینې خوند ونه څکې ... او زه به مجرد اشتها آوره غذا یم لکه دلاندې غوښه ... چې دمعشوقې او لاندې غوښې ترمنځ دځمکې او آسمان توپیر وي..."

په زنګنو یې سر کېښود ویې ویل:

- "ته ډېره عجیبه ښځه یې ... پدې ښار کې مې په سلګونو د اعدام امرونه صادر کړي ، چې په هماغه شېبو کې پلې شوي دي ، نور نارینه او ښځینه مې وژلي دي ، پدې حیران یم چې ستا په هکله ولې څه نه شم کولی؟ ..."

نجمه موسکۍ شوه ، ویې ویل:

- "دا مې دخوښۍ ځای دی..."
- "هغه څنګه؟ ..."

) ketabton.com: The Digital Library



- "پدې چې سوکه سوکه له دارونکي حيوانيت نه دانسانيت په لور روان يې..."

سخته چيغه يې وکړه:

- "مطلب دې څه دی ؟ ..."
- "وژونکي او ظالمان انسانان ندي ... ستا تېر ژوند داسې ښکاري لکه دوسله وال وژونکي شوکمار ... زه زړور انسان غواړم ... انسان .... دانسان دکلمې په معنی پوهېږې؟ ..."

انسان دهغه په نظر کې هغه آدم ذات مخلوق دی ، چې غټ غټ برېتونه ولري ، او هغه چې جګړه او برې کولای شي ، او هغه څه چې غواړي ترسره يې کړي ، ووژني اومال تر لاسه کړي ، دخپلو رئيسانو او مشرانو شعارونه تر نورو ورسوي ، له ښځو خوندونه واخلي ولو که دهرې عقيدې، جنس او رنګه وي ... دا ښځه ترې څه غواړي ؟ ترې وايې وربدل چې وايې ، خوا ته يې روانه ده ، دبيرو پياله په لاس ورکوي :

- "هوکې، دانسان او حيوان ترمنځ ډېر توپير شته..."
- "خلک ټول پدې پوهېږي چې زه څوک يم..."
- "خلک څه له تا وېرېږي او څه ستا له پوځيانو،له همدې امله نـورڅـه نـه در اوروي ، غـيـر لـدېنه چې سـتا غـرور پـرې خـوشـحـاليـږي..."

ډکې اوږې يې ورته په سختۍ ونيولې ويې ويل:

- "اي ښځې ! ته رانه څه غواړې؟..."
- "دا غواړم چې دبنستونو او اصولو ترسيوري لاندې سره يو ځای شو، غيرله هغو باطلو اصولو چې زورور يې له برې وروسته پر بې وزلو خواشينو وګرو تپي ..."
- " نجمې زما ډېره زياته خوښه يې ..."
- "هيڅکله به سره يو ځای نه شو،مګر د شهادت کليمې(اشهد ان لا اله الا الله،واشهد ان محمداً عبده ورسوله) ترويلو وروسته..."
- "لدېنه چې زما ډېره خوښه يې،نو ټولې غوښتنې به دې ومنم..."

(c) ketabton.com: The Digital Library



- "نو دشهادت کلمه ووایه ..."

کله چې ویې ویل ، سمدلاسه یې ترې وغوښتل:

- "اوس دې نو سرې هم له وژنې زورونې او لوټ تالان څخه منع کړه ..."

- "دابه هم وکړم ..."

- "پوهېږم چې تاسو وړې اوستومانه یاست ، ډوډۍ ، ښځې ، ډاډینه او سکون غواړئ...نو دعادل شریعت پیروي وکړئ چې د ژوند په خوږو پوی شئ ، ستاسو برې دې ددې پلمه نشي چې یوه وحشي ډله درنه جوړه کړي ... دوحشیانو اسلوب خلک مقابلې او نفرتونو ته اړباسي ... اودسوکالۍ وړمه به مو دماغ ته ونه رسي ..."

باودین وویل:

- "ستا خبرې ډېرې ښې راباندې لګېږي !!..."

- "نو ته هم دقدر وړيي ... مانۍ ته نژدې فقیه عالم اوسېږي چې مولوي عبد الرزاق نومېږي ... هغه ته ورشه ، رایې وله چې دوه شاهدان هم ورسره وي ... چې نکاح مو وتړي ..."

پر باودین ثقیله تمامه شوه ، ښې او کېڼ خواته یې کتل چې څه وکړي ، له خپله ځایه راپاڅېدله ، توره بورقه یې پر سر کړه ، ویې ویل:

- "ته لږ تم شه ، زه یې ډیر ژر راوله ..."

باودین ګوت څنډنه کوله ویې ویل:

- "پام چې ! ... دتېښتې معنا به دا وي چې ټول ښار به دوینو په حمام بدل کړم ..."

په ملامتوونکي نظر یې ور وکتل او ویې ویل :

- "ته غلی کېنه..."

*************

(c) ketabton.com: The Digital Library



دراتلونکو ورځو په اوږدو کې دکومُل خلکو نجمه ولیدله چې په مزینه ښکلې ګاډۍ کې ناسته ده او دوه آسونه یې راکاږي او ترڅنګه یې باودین ضابط ناست دی ، ټول لارویان لاره خوشې کوي ، له باودین سره یې واده وکړ، لدینه چې واده یې په کومُل کې وړه پېښه نه وه ، مګر په هغه کې پټ راز لا څرګند شوی نه وو ، ځکه خلکو په رذالت او فحاشۍ تورنه کړه ، که باودین ضابط په زور نیولې وای خلکو به معذوره ګڼلې وای ، مګر – لکه څنګه چې ښکاري – په ښکېلاکګرو یې خان پلورلی دی ، په مصطفی مراد حضرت یې کبر وکړ او له بریمن لوري سره ولاړه ، په ټولو ځایونو کې همدا شایعات خوله په خوله روان وو او نور په ښلګونو د پریوتو اخلاقو حکایات یې له چینایانو او دهغوی له بریڅو سره خپربدل ، په هغو اسبابو هیچا فکر ونکړ چې له امله یې تر یوې مودې پورې په کومُل کې دانسانانو وژنه بنده شوې وه،نجمه نوره هم زړه راښکونکې شوې وه،کله به چې دچینایانو په مراسمواومحفلونوکې څرګنده شوه درنـاوی به یې کېده چې دسیمې دنرواوښځودحیرانتیا سبب ګرځېـدلې وه ،کله چې په لومړیو کې مجاهدین بریالي شول ، په کاشغر کې یې دخوجه نیاز په مشرۍ جمهوریت جوړ کړ ، چینایان یې وځپل ، چینایي قواوې هرې خواته په تېښـته وې ، دباودین پچه اورمچـي خـواته ختلې وه ، نجمه یې له ځانه سره هلته بوتله ، دکومُل خلکو مخکې له ماښامه ولیدله چې له هغه سره په تېښته وه ... لعنتونو بدرګه کوله ، ښځو یې ترشا لاړې تو کولې، ځینې ماشومان زړور شول تر شاې کانې وویشتل او په وېره بېرته ستانه شول ...
وروسته له هغې چې دروسانو او چینایي حاکم "شین سي" ترمنځ دمرستې موافقه لاسلیک شوه ، روسي الوتکې ، شوبلې ، او زغره وال ګاډي راورسېدل ، حالات بدل شول ، مجاهدین په شاشول ، اولسمشر او ستر قوماندانان ونیول شول ، چینایي او روسي ترون پر اسلامي خاوره مسلط شو او شرقي ترکستان یې ښکېل کړ ...
باودین په یوه ماښام ستون شو ، ګوري چې نجمه ژاړي ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



- " نجمې ولې ژاړې ؟..."
- "خلک وژل کیږي .... زه له جګړې کرکه لرم ... او ویریږم...."
- "مونږ څه وکړو ، هغوی له مونږ نه وژني ، مونږ له هغو نه..."

له سترګو یې اوښکې بهېدې ویې ویل:

- "زه داغوره ګڼم چې خپل وطن ته ستون شې ... زه به درسره یم ... هغسې ژوند به وکړو لکه عادي بشر چې په آرامۍ او سوکالۍ کې ژوند کوي..."

ډیر ژر پوی شو چې په غیر مستقیمه توګه دچینایانو له خوا دخپل وطن پر ښکېلاک غبرګون ښیي ، بې لدې چې احساساتي وي ، ویې ویل:

- "زما ګرانې ! دا لویې خبرې دي ، غړنجول یې زما او ستا غوندې خلکو کار ندی ...پوځ دلوړو مقاماتو په امر خوځیږي ... په ټوله نړۍ کې همداسې دي ...او د سیاست په وړاندې حق او باطل اعتبار نلري ..."

دسګرتو لوګی یې له خولې وایسته ، په مخ یې توروالی څرګند وو ویې ویل:

- "ډیر سخت ستړی او ستومانه یم ..."

لږ چوپ وو ، بیا یې وویل:

- "کومُل ته ستنېدل غواړې ؟ اوس پکې پوره آرامي ده ... جنګیالي خپل شوي ، زمونږ واکمني پرې ټینګه ده ..."

په خواشینۍ یې وویل:

- "سخت مې زړه غواړي داسې ځای ته ولاړه شم چې هېڅوک مې پکې نه پېژني ..."

پداسې حال کې چې پر سر یې لاس راکاږي وویل:

- "ستا غمیزې محسوسوم ..."
- "لاس دې رانه لیرې کړه ... "
- "ولې ؟..."
- "داسې راته برېښي چې دبې وزلو خلکو په وینو سره دي ..."

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سختۍ يې ځواب ورکړ:

- "زه په جګره کې لکه ړوند داسې يم ... څه وکړو ؟ پيدا شوي يو چې خوراک وکړو ... او خوراک لپاره بايد جګره وکړو ... آن چې مړه شو؟... ته زمايې ... او په ما ډېره ګرانه ... "

بيا لړه شېبه چوپ وو ، ويې ويل:

- "ماته په کوم نظر ګورې ؟ ..."

په کړکېچن حالت يې وويل:

- "ته بنديوان يې ... بيمار يې ... په هر حال يو ځېل شوی عقده لرونکی انسان يې ..."

خوشحاله ، موسکی شو ويې ويل:

- "دا راته په زړه پورې ده ..."

په حيرانتيا يې وروکتل:

- "هغه څنګه ؟ ..."

- "هغه داسې چې دښمن خو درته نه ښکارم ... "

په ببړه يې وويل:

- "بې له شکه چې دښمن يې ..."

سور والی يې په سترګو کې ښکاره شو، ويې ويل:

- "دا به مې نصيب وي .... "

نجمې وخندل ، ورنژدې شوه ، ويې ويل:

- "څه به وشي که بيلتون درنه وغواړم !؟..."

ويرجنه چيغه يې وکړه :

- "څه دې وويل؟ ..."

- "مطلب مې طلاق دی ..."

- "ولې؟..."

- "پدې چې ته مسلمان نه يې...."

- "هرڅه دې هېر کړه؟ ما دفقيه عالم ټولې غوښتنې پر ځای نکړې؟..."

(c) ketabton.com: The Digital Library



- "مګر ته د کفارو په صف کې جنګیږې ...."
- "زه بې لدې چې دپوځ یو غړی یم ، په نور څه نه پوهیږم...."

بیا یې چیغه وکړه ، دیوال یې په سوک وواهه ، ویې ویل:

- "پوځیان الله نه پیژني..."
- "ولې یې دپیژندو هڅه نه کوو؟ ..."

اوریې بي پورته واچولې ، ویې ویل:

- "ددې کار فایده څه ده؟..."
- "دنیکمرغیو لاره به ومومو..."
- "آه ... کافران په ملیونونو دي ، او له مؤمنانو یې شمېر ډېر زیات دی ، او نړی له ازله همداسې ده ... دا خبرې پرېږده ، کنه نو بې فایدې به وزوریږو ..."

پرمخ ماتې شوې خولې یې وچې کړې ، ویې ویل :

- "که لاره شې ، نو ... "

خبره یې لا پوره کړې نه وه ، نجمه ورنژدې شوله ، ویې ویل:

- "زما درسره مینه ده ، خو که زما دخاورې دیوه بچي دوژنې لامل شوې، یوه شېبه هم نوره درسره نه تېروم..."
- "ګرانې ته په آرامه شه ... له اوسني روان جنګ سره زما هېڅ کار نشته، ماته دلوژستیکي توکو دانتقال او رسولو مسئولیت سپارل شوی ... دچینایانو له لاسه خبره وتلې ... روسانو دټولو چارو واګي په لاس کې نیولي ..."

په ملندنی ژبه یې وویل:

- "او دترکستان خپل ډېر وګړي هم شته چې ځانونه یې پر شیطان پلورلي ، هغوی وژنې کوي ، دخپلو وطنوالو په خلاف بدترین جرائم ترسره کوي ... ته پدې خبره نه یې ؟..."

سترګې یې په بالبنت خښې کړې په ژړا او فغان سر شوله...

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۰)

زما زرغون هیواد ، له مختلفو مېوو ، دانو او معدنونو ډک هېواد په دوزخ بدل شوی ، انسان به پر هغه مځکه ځنګه شپې سبا کړي چې مرګ ورته په مورچل ناست وي؟ په ټولو خواوو یې وېره خوره ده ، په برخه لیک یې پردي یرغلګر لوبې کوي ، څومره دردوونکې ده چې پخپل خواره ملک کې لکه پردی بې واکه ژوند کوې؟ په حقیقت کې زه پردی نه وم ، بلکې داسې پرېښېدله چې دترکستان خاوره پردی ده، دغه خاوره لکه شړل شوی بې جلبه څاروی د مجهول هدف په لور دوژنو ، زندانونو او شوکو په لاره روانه وه ، ډېره دحیرانتیا دا وه چې زه ځنګه تردې شبې ژوندی پاتې شوی یم ؟! مګر د الله اراده وه ، څومره لږ مساجد پاته وو ، لږ شمېر زاړه عمر خوړلي سپین روبي په پټه مسجدونو ته تلل ، او هلته به یې په پټو اوښکو لمنځونه کول ، دجاسوسانو سترګو به څارل ، ښايي هغوی به له زورونې د بوډاتوب په وجه بچ وو ، خو جزا یې اولادونو او کورنۍ ته ورکول کېدله ، مونږ به پر هغو مسجدونو هم تېرېدو چې ددښمن په قبضه کې وو ، تیاترې یې پکې جوړې کړې وې ، او یا یې پوځیانو او دولتي مامورینو ته هستوګنځي ترې ساز کړي وو ،د مسجد پر دېوالونو به مو ځانونه مښل او په آرامه به مو ژړل ، څوک چې په زوره وژاړي ځان به له مرګ سره مخ کوي ، زه له یوه ښاره وبل ته تللم ، هر ځل به مې ځان په نوي نوم ونوماوه .... آه ... دا زاړه یادونه دي .. په ځان اېښودل شوي نومونه مې اوس نه یادېږي! په اور مچې کې مې دا محسوسه کړه چې یوازې دنوم بدلول کفایت نکوي ، جوالیتوب مې شروع کړ ... دجوالیانو دروند واسکټ مې واغوست ، ملا مې وتړله ښه غبرګ پړی مې پر اوږه کړ ، ږیره او برېتان مې پخپل سر پرېښوول چې پخپله خوښه روان وي ، بربنډې پښې مې چاودې ، چاودې شوې ، لکه په لسګونو کاله یې په خاورو او ختو کې تېر کړي وي ، چوپتیا مې غوره کړه، کله به مې چې له حال سره مناسب معقول کلمات په ژبه راوړل ، کلماتو به یاري نه کوله ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



شخصيت به مې څيني څرګند شو ، ماښام به مې ورې تيارې کوټې ته پناه يووړه ، خپل عبادت به مې کاوه ... دامې انګېرله چې فرښتې مې اوښکې وڅوي ... زمونږ تمدن نابودېږي ... اوبه کېږي ... په لسګونو زره روسان راروان دي ، همدارنګه چيناېان ، او چينايي ښځې ، چې دترکستانيانو او چينايي يرغلګرو ترمنځ دنسل توپير ورک شي ، چينايي حاکم "شين سي ساى" دسټالين ليدو کتو ته روانېږي، له مختلفو وسيلو کار اخلي چې دکمونست ګوند عضويت ورکړل شي ، بېرته راستنېږي دچين لوی حاکم "شانګ کای شيک" ته په پټه سرټرلي ليکونه استوي ، چې مرستې ورته راولېږي ، مونږ د ژرندې د دوو پلونو تر منځ دل کېږو ... زه جواليتوب کوم پخپله شا به مې دخپلې خاورې هر رنګه محصولات لويو لاريو او اورګاډو ته خېژول او بارول چې روسيې ته لېږل کېدل ، هر څه بارېدل ، معدني مواد ، مېوې ، دانې ، څاروي او داسې نور ... ديرغلګرو روسي او چينايي لوړ پوړو چارواکو د بنداروانو او ميلو چړچو ډير ځايونه وو .. چې هلته به يې شپې ژوندۍ سبا کولې ، شرابونه يې چښل سندرې يې ويلې ، او نڅېدل... او نور دحيرانتيا وړ کارونه به مې ليدل ... دهغو خاينانو شمېر څومره ډير دی چې خپل دين او وجدانونه يې خرڅ کړي او د يرغلګرو خوښې او ارادو ته تسليم شوي ، پدې سره توانېدلي څينې لوړې چوکۍ تر لاسه کړي ، دسهار او بېګا تر منځ دبشريت په نوي بڼه بدل شوي ، هر څو چې ورته ګورم داسې راته ښکاري چې دوی هېڅکله هم ترکستانيان نه وو ، دخوراک ، څښاک ، لباس ، دخبرو او ناستې ولاړې اسلوب ... او ټول کړه وړه يې بدل شوي، دوی په هرڅه کې دښاغليو يرغلګرو تقليد کوي ، په تيره د روسانو ، سره نښانونه په ځان ټومبي ، کمونستي شعارونه زمزمه کوي په روسي اصطلاحاتو ژبې اړوي ، هرې خواته چې دښکېل شوي هېواد نخښو نښانو ته ګورم وېره مې واخلي ، چې لکه ناوکۍ پاکې سوتره ، زړه رابښکونکې شرقي ترکستانه څه جوړ شول؟ ! نهيلي مې په زړه رادننه شي، زه غمجن پر مځکه څښېږم ، لويو ګاډو او کېنتيو ته بارونو چلولو سخت ستړی کړی يم ... له ورځو نه يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورخ په ښار کې کرخم چې مې ولیدله... هک پک شوم ... بې ارادې مې چیغه کړه:

- " نجمې !... "

لوکسه ګاډۍ چې چینایي چلوله ودرېدله ، په تروتازه مخ یې راوکتل ، زه راپه خود شوم ، بلې خواته مې مخ وګرځاوه ، په منډه شوم ، ګاډۍ یې راپسې راخوشې کړه ، تردې چې وېې نیولم ...په رډو سترګو یې راوکتل ویې ویل:

- "غواړم چې دمانۍ په لور راپسې را روان شې ..."

ورپېدم ، په کریکه مې وویل:

- "زه دې نه پېژنم ... زه نه غواړم ... "

په پرېکنده یې وویل :

- "راځه راپسې ... دښاغلي باودین یو سړی پکار دی چې مونږ ته خدمت وکړي ... هغه اوس نشته ، له اورمچي بهر دی...ضرور به راپسې راځې ..."

مخکې لدې چې دپېښې له هیبته راوینښ شم ، لوکسه ګادۍ والوتله ، او تر روانېدو مخکې مې واورېدل چې په لنډو ټکو کې دمانۍ ادرس راکوي ، خپلې تیارې کوټې ته ستون شوم، لمنځونه کوم او ژاړم... ډېر کله مرګ راته تر ژونده ډېر هوسا ښکاري ، مړي په هیڅ نه خبرېږي ... او کله مې بیا زړه له باوره ډک شي ، چې اسلام به ضرور سر لوړی کېږي ، آزادي به رادرومي ، زه دهیلو او نهیلیو ترمنځ ګېرېم ، کله مرګ غوره ګڼم او کله بیا دژوندیو کارونو ته زړه ښه کوم ، زه هغه زورول شوی خپل شوی ، له منځه تللی انسان یم چې خپله تګلاره نه پېژنم ، او د سر پنا کولو ځای نلرم ...

دښاغلي باودین مانۍ پیدا کول ستونز من کار نه وو ، مانۍ په آرام او ګوښه ځای کې وه ، لږ شمېر ساتندویان یې لرل ، نه مې شوکولای چې په زړو شلېدلو جامو کې ورشم ، دجوالیتوب جامې مې بدلې کړې ، هغه څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې په ځان کړه چې لږ تر لږه دکومُل پخواني امیر دماني ساتندوی سره مناسب وو ...

په دروازه کې چا ایسار نکړم ... دماني ساتونکي راته وکتل وبې ویل :

- "هغه لیدو ته بې ته راغلی بې ؟ ..."

په وېره مې سر وخوځاوه ... د الله شکر مې پر ځای کړ چې له نومه بې ونه پوښتم ، سره لدې چې نوم مې ډیر خطرناک نه وو ، خو بیا هم دښمن چې برې وکړي او منګولې تینګوي نو وېره بې په زړه کې پټه وي ، دځان په رابطه محتاط او د نورو په هکله بې پروا وي ، له نښکه مرغه چې کور خالي وو ...

یا الهي! ... ولې راغلم ؟ څه به ورته وایم ؟ دهغې مېرمنې جوړ ته به غاړه ږدم چې نن دپر مخ تللې تولنې درنه مېرمنه ده!؟ او پرون زما په نوم کېدو ته تیاره وه ، که دا کار وکړم معنی به بې څه وي ؟ هغه په هسکه ده او زه په، خاورو ختو پروت یم ، مرګ راپسې داسې ګرځي لکه په هر پخواني مجاهد پسې چې ګرځي ، مګر دعیشیاتو مینه مې ډیره سخته ورتیل وهي ، په سره مخملي کوچ کې ناسته وه تورې جامې بې اچولې وې چې لابې زړه راښکون پرې زیات شوی وو ، خومره ډېر توپیر پکې راغلی وو ، نجمه غمجنه خو ښکلې او باوقاره ښکارېدله ، دماشومتوب دحرکاتو او د ځوانۍ د خویونو اثر پرې نه وو ، لکه زړه راښکونکې کونډه ښکارېدله ...

- "له ډیره وخته مې غوښتل چې ودې وینم ..."

بې لدې چې ځواب ووایم ، ومخ ته مې بې وکتل ...

- "داسې مې انګېرله چې په جګړو کې به شهید شوی بې .."

غوښتل مې چې خبرې وکړم خو ونه توانېدم ...

- "مصطفی مراد حضرته! ستونزې انسان ډېرو ناښوخو کارونو ته اړباسي ..."

انتظار بې وکړ چې دی به اوس خوله پرانیزي ، مګر بې فایدې له خپله ځایه پاڅېدله ، وبې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- "هغو باتورانو ته چې په جهاد کې يې سرونه نذرانه کړل سخت احترام لرم ... تل به دې دا هيله وه چې څوک اسير نشي او په زندان کې ونه وژل شي ... دا غوره ده چې جنګيالي په ميدان شهيدان شي او نه دا چې ځانونه ژوندي دښمن ته وسپاري..."

دهغې لورته ور روان وم ، په جرأت مې وويل:

- "تا پخپله څنګه ځان ژوندی ور وسپاره!؟ ..."

درد منه خندا يې وکړه:

- "هوکې، دادی آخر په خبرو راغلې ، ډېره ښه ده ... زه خپلو کړو ته پلمې نه برابروم ، کله چې مانی دچينايانو لاسته ولوېدله، غوښتل مې اوسيدونکي يې وژغورم ، او عين وخت کې دهر يرغلګر دلاس متاع نشم ، له همدې امله مې يو سړی غوره کړ او له هغه سره مې واده وکړ ..."

په حيرانتيا مې وويل:

- "څنګه واده ؟ ..."

- "لکه په زرګونو خلک يې چې کوي ... اسلام يې راوړ اوزه يې په نکاح کړم ..."

خواشينې پاڅيدله ويې ويل:

- "ټول کار په سادګۍ تر سره شو ، کله چې پوی شوم نه مې پرېږدي خپل شرطونه مې وړاندې کړل ، ټول يې ومنل ، پوهېږم چې اسلام يې يوه ظاهري ښه ده ، تودوښه او حرارت پکې نشته ، او پدې هم پوهېږم چې هغه هم دوکه کوم، او ځان هم دوکه کوم ... نور څه درته ووايم ... دی ته تياره نه وم چې لېوان مې وداړي ، واده يې کړم ويې ساتلم اولا تر اوسه پرې ګرانه يم ...."

په حيرانتيا مې وويل:

- "دهغه چا په غېږ کې څنګه ژوند کوې چې نه دخوښېږي ؟ ..."

اوږې يې پورته واچولې ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- "لکه زما ټاټوبی ترکستان چې دیرغلګرو تر پښو لاندې ژوند کوي... لکه ته چې دچېنایانو او روسانو تر واک لاندې اورمچې کې ژوند کوې ، دلته هر څه بې روحه روان دي .... "

وغومبېدم :

- " روح؟..."

ویې ویل:

- "هوکې، په هیڅ شي کې خوند او مینه نشته آن چې خوراک کوو ، څښاک کوو ، خوب او ساعت تیري کوو ، داټول بې روحه، داسې خوځېږو لکه نانځکې ، حقیقي ژوندون خپل موجودیت له لاسه ورکړی ، مونږ خاندو ، ژاړو ، نور حرکات تر سره کوو لکه د ډرامو اداکاران ... مصطفی مراد حضرته اوس پوی شوې؟..."

په عصبانیت یې له دواړو لاسونو ټک پورته کړ ، چې دخادمانو مشره راغله، هغې ته یې وروپېژندم ، ویې ویل :

- "دی ډېر امین خادم دی ... نوم یې "تورسون" دی ... ترې غواړم چې ښکلې جامې واغوندي ... او له هغو کسانو نه یو تن وي چې دباودین مانۍ پرې ښایسته ده ..."

زما نوم اوس "تورسون" دی ، دباودین په مانۍ کې ګرځم ، داسې ګرځم لکه خوبولی .... دمانۍ مېرمن ترکستانۍ ښکلې ښځه ده ، داسې ښکاري چې زما په لیدو خوشحاله ده ... دخادمانو په لوکسه کوټه کې دڅو کلونو راهیسې د اول خل لپاره دلږ وخت لپاره آرام ویده شوم ، ملا مې خوږېدله ، مګر ترکي حمام مې دردونه ډېر کم کړل ، وروسته لدې چې ږیره او بریتان مې اصلاح کړل او هنداري ته مې وکتل ... څه ګورم چې دځوانۍ دور راستون شوی! ... یا الهي! ته رحم وکړې ، خو لدې ټولو سره سره ټول فکر او سوچ مې په غرونو کې له مجاهدینو سره وو ، دادی اوس د نجمې فکر هم راسره شو ، دهغې په وړاندې مې احساس دهغه چا دی چې مېرمن یې یرغمل شوې وي ، نجمه داسې ده ... لکه ښکېل شوی ښار چې دښمن پرې واکمن وي ، په عشق اومینه کې ذاتي معنی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر وطني تعلق بدل شوي وو ... ها ... ها ... زه خاندم .... سوچ مې دهدف په لور پاتې نه وو ، په دوهمه ورځ يې په لوکسه ګاډۍ کې له خانه سره روان کړم ، يرغلګرو قواوو پورې مربوطه ساحه کې چې له ونو ، ګلانو ، مېوو ډکه وه ، ورسېدو ، ټولو نجمه پېژندله ... سترې مه شې ته يې راغلل، لاره يې ورته پرېښودله ، ورښکته شولو ، بيا په زوړندو څانګو ، ګلانو او معطرو مېوو ورګډ شولو، دامې تر مخې روانه وه ، او زه يې تر شا چوپه خوله روان وم .... وېې ويل:

- "خلکو به زما په هکله ويل چې : شرف او عفت يې تر پښو لاندې کړل ..."

وره څانګه يې ماته کړه ، ډوبېدونکي لمر ته يې په پيکه رنګ وکتل ، ويې ويل:

- "دکومُل خلک درواغ ډير ژر سره خوله په خوله نقلوي ، ولې يې زما مسألې ته دومره ډېره پاملرنه او اهتمام وکړ؟ زه خو د امير په مانۍ کې له ناداني خدمتګارې پرته نور څه نه ووم؟..."

ماته يې راوکتل ، له لاسه يې ونيولم:

- "د واده مې درته ونه ويل ، چې تاونه منله او انکار دې وکړ؟ ..."
- "دمنډې وخت وو .... دمرګ په پوله ولاړ وو ...."

په تراخه يې وخندل:

- "لا تراوسه دمرګ په پوله يو ... پوهېږې چې ګوډاګي حکومت څومره خلک اعدام کړي؟ ... شمېر يې ... له سلو زرو نه زيات دی! ..."

په حيرانتيا مې وويل:

- "تر اوسه په مجاهدينو او شهيدانو کې فکر کوې ؟..."

په ټيټه يې راته وکتل ويې ويل:

- "خير نوڅه فکر کوې؟ ..."
- "ستا په شان خلک دامجال نلري چې پداسې مسايلو فکر وکړي..."

(c) ketabton.com: The Digital Library



- "ولې زه لکه تا غونډې مسلمان او د ترکستان نه یم ؟ ..."

چوپتیا خوره شوه ، وړمه سره وه ، لمر دډوبېدو پر مهال عجیب غونډې غمونه پاروي ، لرغوني منارونه دماښام په څپو کې داسې ویده دي لکه دبلال د آذان غږ ، او دمسجدونو ګنبڅې داسې ویدې دي لکه زوړ تمساح چې په یوه سهار مې په ژوبڼ کې لیدلی وو ، دغرونوتر هغو شنو لمنو لاندې چې مونږ پرې تېرېږو ، ودانۍ او کورونه داسې پرتې دي لکه هر څه چې ورته بې ارزښته او بې معنا وي ...

نجمې چې سور ګلاب راګوزاراوه ، وېې ویل:

- "دهغه په وژنه کې مې فکر کړی وو ..."
- "دچا ؟ ..."
- "دباودین ... زما خاوند باودین .... "
- "ولې؟ ....."
- " فکر مې کاوه ، دامې فرض دي ... مګر رښتیا راته ووایه چې : ،کومه یوه ښه ده ، وژل یې او که نازول په خپله ګټه استعمالول یې؟... "

اوږې مې پورته واچولې ومې پوښتل :

- "دلاسته راوړلو ، نازولو یې څه ګټه؟ په هرځای کې قصاب خانې ، تشدد او زورونې روانې دي..."
- "دوژنې ګټه یې څه ده؟ ... دادی زه دې پوښتم؟..."
- "هغه یو سپیځلی غچ او انتقام دی ..."
- "مګر ما یې له نازولو ډېرې لاسته راوړنې درلودې ....."

په کلک مخ ودرېدم ومې ویل:

- "آغلې ! له دښمن سره ژوند تېرول ددوکې او درواغو کاردی..."

په حیرانیتا یې راته وکتل وېې ویل:

- "همداسې ګڼې ؟ ددې معنا داده چې په پوچه فلسفه مې ځان ،دوکه کاوه چې له تباهۍ او بربادۍ ځان وژغورم ؟ ...او ددې لپاره چې ژوند وکړم؟ ... ها ... همداسې ګڼې ؟ ..."

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرمې وخوخاوه :

- "له همدې کبله خو دکومُل خلک درته په تیته ګوري ..."

اوښکې بې تر ستر ګو وبهېدې ... رانژدې شوه او په سختۍ تکانونه راکوي ، او وایې:

- " هغوی ناپوهان دي، نه پوهېږي ... دامې فرض وو چې دامیر کورنۍ وژغورم ... او اړینه وه چې بیه بې هم پرېکړم ... مونږ نول ژوند غواړو او له مر ګه کرکه کوو..."

بیا یې داوښکو په وچولو شروع وکړه ، ویې ویل:

- "او ته مصطفي مراد حضرته! په کوم نظر راته ګورې ؟ څه ګمان راباندې کوې ؟..."

- "تورسون ... نوم مې تورسون دی ... پکار ده چې پخوانی نوم هېر کړو..."

- "ستا څه خیال دی؟..."

- "زه بې په ډاګه وایم ، یوه توټه وچه ډوډۍ له مجاهدینو سره دغرونو په سر ... ماته ستا په دنګه ماڼۍ کې له سلو حلال شویو پسونو بهتره او غوره ده..."

له هسکې څاڅکې وڅڅېدل ، یخني تر مخکې زیاته شوه ، دباران دڅاڅکو آرام اواز مو اوریده ، احساس مې وکړ چې بوټان مې پښې زندۍ کوي ، او شنه نیکتایي مې پر غاړه فشار راوړي ، سره لدې چې دتودوالي احساس کوم نژدې ده ساه ورکړم، هغه احساس چې دډېرې مودې راهیسې رانه ورک وو اوس را پیدا شوی وو ...

- "مصطفی !..."

- "ستا خادم "تورسون"...."

- "چېرته ؟ کومې خواته؟..."

- "چېرته چې یوه توټه وچه ډوډۍ ده ، لوی باتوران دي دغرونو په سرونو کې..."

- "لږ وخت ماته راکړه ، په آرامه به پدې کار سوچ وکړو..."

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې دمانۍ څښتن دلږ وخت لپاره له سفره راستون شو ، زه ترې پټ شوم ، مګر کتل مې چې مانۍ ته ننووت ، په ورو ترو ستر ګو د نجمې په لټه کې وو ، په غېږ کې یې رانیوله او ویې زېښله ، په ښکلولویې پیل وکړ ، پورته کوي یې او راتاووي یې ، هغه ژبړه موسکۍ شي ، هلته دلته ستر ګې ګرځوي ، ښایې لدې وېرېدله چې زما نظر پرې ونه لوېږي . .

- "ته مې په راستېدو خوشحاله یې ؟ ..."

بې لدې چې ستر ګې ورپورته کړي وېې ویل :

- "ډېر زیات ... مګر داستخباراتو کسان هره ورځ په سلګونو کسان وژني ... "

- "دا بېله خبره ده ... ولې پداسې وخت کې پکې فکر کوې ؟ زما پکې هېڅ کار نشته ... "

- "باودېنه ! ولې ته په ژوند کې دریځ ونلرې ؟ ..."

- "بلکې یو محدود دریځ ، زما ګرانې ... "

- "هغه کوم ده ؟ ..."

- "لدېنه چې اوس خبره راغله ... زما دا دریځ دی چې خپله راسپارل شوې دنده باید پر مخ یوسم او ترسره یې کړم ..."

- "داچې خپل فرض پوره کړې او خپله درسپارل شوې دنده تر سره کړې ، د دواړو ترمنځ ډېر توپیر ده ..."

- "زما دنده هغه زما فرض دي ... "

- "زه دې غواړم چې انسان واوسې .... "

- "لکه چې بیا مو بې فایدې مناظرې پیل کړې !؟ ..."

- "حقیقي انسان هغه دی چې دنورو زورېدلیو کړېدلیو انسانانو په درد ودردېږي ..."

په ناڅاپي سر تمبګی یې وویل:

- " ته باید پدې وپوهېږې چې که دا زورېدلي کړېدلي خلک یې جلبه پرېښودل شي، په غالب ګمان چې ستا او زما دواړو ژوند ته به دپای ټکی کښېږدي ..."

c) ketabton.com: The Digital Library



په عجيبه آرامۍ يې وويل:

- "دا مهمه نده ... مهمه داده چې فرض پوره کړې ..."

بې مهاره چيغه يې وکړه:

- "او زه لاځوک يم؟ زه پدې لوی پوځ کې يو فرد يم .... پدې لوی ماشين کې يوه وړه پرزه يم ، او ته له سفر نه راستون شوی خاوند داسې استقبالوې؟! زمونږ هغه پخوانۍ مينه څه شوه؟ وزما خوږې پتاسې ، رازه چې خپلې خونې ته ځو..."

خپلې ځانګړې خونې ته ننوتل ، له ځانه سره مې وويل: دا لعنتي ما هم لوبوي او هغه هم ، که لدې زيات يې ترخنګه پاتې شم ، تول افکار به مې زهرجن شي، حقيقي سپېڅلتيا او پاکوالی دلته په ښارونو کې نشته ، بلکې هلته په غرونو کې ده ، چېرته چې خلک آزاد خپلواک اوسي ، پر اوږو يې وسلې دي ، پکار ده په نژدې مناسب فرصت کې وخوځېږم .... "باودين" راته غرمه دغرمنۍ پر مهال په خير وکتل ويې ويل:

- "دا هماغه نوی خادم دی؟..."

- هوکې ... دی چې پخپله دنده کې ښه وړتيا لري ريښتونی هم دی ..."

- "ته دکومې سيمې يې ؟..."

- "تورسون" نومېږم دآلتای له سيمې ..."

دخوړو مېز له ښو خوراکونو ډک وو ، دباندې اولس د ونو پاڼې خوړلې ، د دوړې توکړې يې تولولې، دولوږې دردونه يې زغمل ، بې وزليو ، ولوږې نيوليو ماشومانو هغو مالونو ته رنې ، رنې کتلې چې په نقليه وسايلو بارېدلې چين او مسکو ته لېږل کېدلې او يا ديرغلګرو پوځونو کورونو ته دننه کېدلې ... سر مې راباندې وګرځېد ... او ما هغو چړو ته کتل چې دخوړو پر مېز پراته وو ...

- "تورسونه ! ته کولای شې چې ولاړ شې ..."

دارانه باودين په ډيره پسته ژبه وويل، پخلنځي ته ستون شوم ، لکه مار چېچلی پورته کېږم لګېږم ، هغه تورېدلی چې سوله نه پېژني ، کرکه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



نفرت مې زړه داسې خوري لکه اور چې لرګی خوري ، زمونږ له دین او عقایدو سره ددوی دښمني مې دیته هڅوي چې څه لیونتوب ته لاس واچوم ... نه داچې دخان دپاره يې کوم ، بلکې پر الهي دين د غيرت له مخې ...

(۱۱)

زه دخپل دښمن په کور کې اوسېږم ، هغه يوازې دښمن ندی ، هغه ظالم رقيب او پوروړی هم دی چې زما معشوقه يې رانه وړې او خپله کړېده، داسې انګېرم ، که دلته راباندې يو کال واوړي نو يوه بې حسه آله به رانه سازه شي ... داسې يو بنيادم لکه نجمه ، هوسا ژوند ، دخوراک او پوښاک ډېروالی او په سوکاله ماحول کې ژوند کول لکه دا ، په انسان کې دانقلابيت او جهاد روح وژني ، بله ستونزه د نجمې په سترګو کې راته حيرانوونکې ځپانده مينه او شوق ښکاري ، تردې چې زه يې له کتنو او ليدنو شرمېږم ، آن چې اکثر وخت ترې خان ژغورم ، زه داسې حالت ته رسېدلی يم چې ډېر کله دشپې له مخې دهغې په چورتونو سر يم ، غيرت مې پرې وپارېږي برغل پرې کوم ... دا کور دتېروېستنې او غولونې له شيطانانو ډک دی ، پرون پدې کورکې نڅېدونکې غونډه وه ، له يوه سره ټول ګډېدل ، نجمه په رشتيا دغونډې نجمه وه ، سترګو ځارله ، چېنايي او روسي پوخي چارواکېو ورسره دنڅا هيله درلوده ، خاوند يې دومره څنبلي وو چې بې هوښه پروت وو ، مګر سهار ته ديوه ښېرني کار لپاره وغوښتل شو ، وروسته لدې چې وړين جاکټ يې واغوست کور ووړ له کوره و ووت ، ماته ټوله پېښه عادي او ساده ښکارېدله ، مګر ګورم چې زما کوټې خواته راروانه ده ، له ډېرې بې خوبۍ يې مخ تر پخوا لا پيکه شوی وو ، مروندونه يې رانه تاو کړل ، ګورم چې مخ يې زما مخ ته نژدې کېږي....

- "باداري ... پرېږده چې سباناری برابر کړم ...."

(c) ketabton.com: The Digital Library



- "هېڅ اشتها نلرم ، او زه دې باداره نه يم ..."
- "مانی توله سترګې سترګې ده ..."
- "زه نوره صبر نه شم کولای ...."
- "څه مطلب ؟ ..."
- "ولي ته نه پوهېږې ؟ ..."
- "خو زه له خيانته کرکه لرم...."
- "له خائن سره خيانت ګناه نده...."
- "خو زه خپل شريعت ته پابند مسلمان يم ..."

چې پدې سره يې له خپل خاونده کسات اخيسته؟ او که له ماسره يې خواخوږي او شفقت اظهارولو،او که هغه پخوانی مينه ده چې راپارېدلې او بغاوت يې کړی؟ له لاسونو يې په زاريو ونيولم ، او زه يې له کتنو او لاسوهنو خان ژغورم ، هسې نه چې مقاومت مې کمزوری شي ، په پارېدلي حالت مې وويل:

- "دغرونو په ډډوکې ډير مېړني شته چې له ولوږې او نورو عذابونو په سلګو دي ..."
- "هغوی په رشتيا مېړني دي ، خو خپل ژوند هم کوي..."
- "مګر په هغو حدودو کې چې الله روا کړي دي ... "

لکه وږي داړونکي لېوه يې راوکتل او ګواښ يې وکړ:

- "پوهېږې چې زه جزاهم درکولی شم..."
- "نو همدا مينه ده؟... "
- "هو ، همدا مينه ده ...."
- "او ته پوهېږې چې زه له جزا سخت وېرېږم ؟!... "
- "کله چې ددوی خوفناکو زندانونو ته ولوېږې ، چوپتيا او تيارې دې ونغاړي ، تر متروکو لاندې ونيول شې ، هلته به زما ارمان درشي ... "

په تول باور مې ورته وويل:

- "ما لا پخوا خان مرګ ته نذرانه کړی... "

(c) ketabton.com: The Digital Library



- "ته له اور سره لوبې کوې ... ته مې حقيقي خاوند يې ...."
- "مګر ته ديو مسلمان دنکاح په عقد کې يې ، ولو که اسلام يې يوه ظاهري بڼه لري ...."
- "خير ولې دلته راغلی يې ؟..."

پوښتنې سخت حيران کړم ، رشتيا ، ولې راغلی يم ؟ تول ژوند مې لدې ظالمانو په انتقام کې فکر کاوه ، مګر چېرې دی هغه انتقام؟ زړه ټکان وخوړ راوېښ شو ، هلته يو حقيقت شته چې دپټولو هڅه يې کوم ، زما له نجمې سره مينه وه ، مانی ته ددعوت قبلول دهمدې حقيقت يو ثبوت دی ، پر همدې خای يې پرېښودم او ولاړه ، ټوله ورځ مې بيا تر سترګو نه شوه ، په فکرونو او سوچونو کې پاتې شوم ، ولې وضعيت دومره خراب شو ، پردي مو پر ټاټوبي واکمن شول او حکومت کوي ؟ په تېرو وختونو کې په کاشغر کې ديوه مسجد خطيب راته ويلي وو:

"بچېه ! ټول عزت په اسلام کې ده ، که چا يې لمن ونيوله عزتمن شو ، او که خوشې يې کړه بې عزته او ذليل شو ، او زمونږ هيواد درانه خوب ته خان سپارلی ، راحت طلبي او بې پروايي ورباندې غالبه شوې ، خلکو پيل کړی ددين يوه يوه ريشه پرېکوي . بچېه ! مالداره شتمن سرکښه شوي ، نادار نيستمن تسليم شوي پوهه له منځه تللې ، علماء اميرانو ته په برخه قايل شوي ، فساد ، فقر او جهل خپور دی ، ګناهونو رواج موندلی ... بچېه ! دا دتباهی او بربادی پيل دی ، او زيانه يې کړه:

په ختيځ کې غليمان دي ، په لوېديځ کې غليمان دي ، هغوی پر خپلو متو او وسايلو خان ساتي ، او مونږ په تېر برم او شان وشوکت خانونه ساتو ، او لرغونی برم او عزت په يوازې توګه دخان ساتنې او ددښمن مقابلې ته کافي ندی ، همدارنګه زيانه يې کړه:

بچېه ! مسلمانان سره ټوټې ټوټې وېشل شوي دي ، ترکيه جنګونو او ظلمونو خپلې ، عربان ددښمن دآسونو تر پښو لاندې چوپه خوله دي ، کفر يو ملت دی ، او مسلمانان ډېر ملتونه ، په همدې سره کولای شې ، پدې پوی شې چې بری څنګه لاسته راخي ، او ناکامي کله پېښېږي..."

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما داخبرې ډېرې ښې یادېږي ... او همدارنګه نورې ډېرې خبرې چې حاجي خوجه نیاز، جنرال شریف خان اونورو به تکرارولې ، هغوی زړور مؤمنان ول ، دمرګ په ساحه کې بې له وېرې د الله په لوري ولاړل، پدې کې شک نشته چې دې مانې ته راتګ مې یوه شیطاني تېروتنه وه ، پکارده چې ولاړ شم .... پکارده همدا اوس روان شم .... مګر وروسته له هغې چې یو څه وکړم ... دهغه وخت په مقابل کې ـ ې دلته مې ضایع کړ ، بیا په غرونو کې دباتورانو په لور په بېړه درومم ...

ویل کېږي چې لوی باتور "عثمان باتور " زمونږ دزمریانو لوی زمری مجاهدینْ راټولوي ، نوي پاځون ته تیاری نیسي ... ولې به دلته پاته کېږم؟ نجمې غوښتل زما په زړه او دماغ کې خمېره شوي اسلامي ارزښتونه دمېره په غیاب کې په یوه شبېه کې پو پناه او لولپه کړي ، مګر مقاومت مې وکړ ... مقاومت ډېر ګران وو ، خکه نجمه ساحرانه غولونې او مکرونه لري ، پر باودین دا ټوله واکمني ، دا عجیبه واکمني ، بل مطلب نه افاده کوي غیر لدې چې ډېره پیاوړې ښخه ده، تر آخرې درجې پورې ، پس له دوه ورخو باودین راستون شو ، ډېر ستړی ستومانه وو ، ترې وامې وربدل چې وایې :

- "راته ښکاري چې دډېرو زیاتو ستومانیو او ستړتیا وو په درشل ولاړیو ..."
- "ولې ؟ ..."
- "عثمان باتور او نورو مجاهدینو چریکي جنګونه پیل کړي ... "
- ""څه زیان به در ورسوي ؟ ... ګمان کوې ستاسو دماتولو څه‌اک لري ؟ ... "
- "هغوی پر صنعتي مراکزو حملې تر سره کوي ، پوځي چارواکی ـــوي، او نورې ډېرې رنګ رنګ وژنې کوي ، که داګیزه جګړه وي نو ډېر ژربه یې له منځه یوسو..."

په سترګو کې بې دخوښۍ برېښنا پړک وهل ، مګر پټه یې کړه ، په خوراک او څښاک نښتي ول ، په سوچونو کې ډوب ول ، د ورځې په وروستیو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبر شوم ، چې له باودين سره دوه په دوه ، يوه خانګړي بڼ ته دچکر لپاره تللې ده ، ډېر وخندېدل ، مګر نيمه شپه راستنه شوه ، لويه واويلا ورسره وه ، مانۍ له چينايي پوځي چارواکو او روسي ماهرينو او مشاورينو څخه ډکه شوه د استخباراتو رئيس هم پکې وو ... څه پېښه وشوه ؟ باودين په توره شپه په وژونکي ګولۍ لګېدلی، مانۍ ته يې راووړ ، نجمه ژاړي نارې سورې وهي ، ويښتان شکوي ، او وايي :

- "قاتل مې وليد .... فير يې وکړ،پخپل آس يې پښه واړوله او د سيند خواته وتښتېد ..کولای شم دلسو زرو ترمنځ يې وپېژنم...."

نجمه تاوېږي او کوکارې وهي ، بې حوصله ګي او غوسه دچينايانو او روسانو په سترګو کې څرګنده شوه ، له غمجنې کونډې چې پخپلو اوښکو کې ډوبه وه پوښتنې ګروېژنې پيل کړې ، دآرامولو هڅه يې کوله مګر هغې کسات او انتقام ته هڅول ، او په اورمچي کې دهر مشتبه کس نيولو او زنداني کولو ته ...

داستخباراتو يوه تن وويل:

- "دا په اور مچې کې ننی دريمه پېښه ده ... دعثمان باتور سړي ګډ وډی راپاروي ... بې له تشدد نه بله چاره نشته ... لدېنه زيات تشدد ته ضرورت دی... ما وويل چې په پېښه کې هر مشتبه ترکستانی دې ووژل شي ... مګر زما نظر نه منل کېږي ، هر ترکستانی پدې پېښو کې مشتبه ګڼل کېږي ... زه پوهېږم چې دا خاينان څنګه پيدا او ونيسم ... هېڅکله به داپېښې بې جزا پرې نږدم ... په اورمچي کې مو اضطراري ( بېړنۍ ) حالت اعلان کړي ..."

نجمه دسخت غم ، درد ، ستړتيا په حالت کې مرثيه خواني کوي ... د وژل شوي باودين ملګري او دوستان تلل راتلل ، نجمې ته يې د تعزيت او تسليت مراتب وړاندې کول ، عجيبه داوه چې ما يې دڅينو په سترګو کې خوښي او هيله ليدله ، هغوی د نجمې خوبونه ليدل ، سره لدې چې دباودين وينې لا وچې نه وې! ... نجمې هوډ وکړ چې تر يوې اونۍ به

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خپلې کوټې نه راووځې او له چا سره به نه ګوري ... ګونګوسې په ښار کې دېرې شوې ، وېره خوره وه ، پردیو پوځیانو په تشویش کې شپې تېرولې ، له زمریانو او پړانګانو ګیدړان جوړ شوي وو ، زه له مانۍ نه دتلو په حال کې وم ، مګر دې پېښې زما تلل وځنډول ، هوکې، پکارده لږ نور هم انتظار وکړم ... په یوه ماښام مې ولیدله چې زما دکوټې په لور راغله ، له خایه پاڅېدم ودرېدم:

- "باداري تاسو!..."

په ږدو سترګو یې را وکتل :

- "قاتل نه پېژنې ؟..."

- "نه څوک دی؟..."

- "هوکې ... ما وژلی‌دی ..."

- "نجمې ، تاسو ؟..."

په ویاړېزه توګه یې وویل:

- "هوکې پوهېږې چې ولې؟..."

په ناکرارۍ غږېدله ، زه یې خبرو ته هک پک وم ، یوه خبره مې هم ونکړای شوه ، ویې ویل:

- "دیوه کمین مشري یې کړې وه ، چې لس تنه مجاهدین یې شهیدان کړي وو ، پدې عملیاتو کې روسانو هم برخه اخستې وه ، پخپله یې راته تولة کیسه وکړه ... پلمه یې راته داوه چې د اوامرو مخالفت نشم کولی، تر دې مخکې یې راسره ژبه کړې وه چې یواځې دخوراکي او لوژستیکي توکیو په رسولو کې به کار کوي او په جنګ جګړو کې به برخه نه اخلي ، په هغې شپه خوب نه راتلو ، زما د ویده کولو هڅه یې وکړه ... په ده باندي دغم او خفګان هېڅ اثر نه لیدل کېده ، خوشحالي او خندایې کوله لکه چې هېڅ جرم یې نه وي کړی ... تصور مې وکړ ... که دا مصطفی حضرت پدې لسو کسانو کې وای ؟ ! ... راومې نیوه ... ورته مې وویل: باودینه پکار ده چې ستا دبریالیتوبونو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



- افتخار مبله جوړه کړو او شراب خوري وکړو ... پدې ډیر خوشحاله شو ، دډېرو نورو بریالیو عملیاتو کیسې یې راته وکړې ، او همدارنګه جګړې ته دنورو تیاریو کیسې ، خکه عثمان باتور او ملګرو یې دوی ته لوی سرخوږی جوړ کړی دی...
آه ... بڼ ته ورننوتو ، ددیوال تر څنګه مو قدم واهه ... تمانچه مې پرې را ووېستله ، مخامخ ورته ودرېدم ... له شامې پرې ګوزار ندی کړی .. باودینه ! زه دې محاکمه کوم .. باودینه ! ته خاین یې ... دخیانت او دوکې جزا وژل دي ... په خنداګانو یې پیل وکړ ... ګمان یې کاوه زه ټوکې کوم ... لکه لیونی مې پرې چیغه وکړه . پخپل خاي ودرېږه ... تر ټولو لویه ګناه درواغ ویل دي ... یو درواغ دې داوو ... ماته دې وویل : زه مسلمان شوم ، خو تا یوه سجده الله ته ونه لګوله ، بل درواغ دې دا وویل چې زه له جګړې کرکه لرم ، خو له خناوره پرته نور څه نه وې ... او زه درته داسې وم لکه دشرابو جام چې پرې عادت شوی وې او خلاصیدای ترې نه شوې ... ودرېږه ... ونه خوځېږې ... رنګ یې والوت ... پخپلو زنګنو راټیټ شو ... په سترګو کې مې یې اوښکې ولیدلې ... تصور وکړه ! باودین ژړل! ... ماته یې څومره ډېر خوند راکاوه .... څه شي زمونږ ملګ ته راوستی یې ؟ سترګې یې پټې کړې په زاریو یې وویل: "نجمې زما ډېره خوښېږې ... دومره مینه چې مې لتا سره کړې له هیچا سره مې نده کړې ...په شرافت مې دې قسم وي(۱) چې داسې کارونه به بیا ونکړم ، ولوکه له پوځه وایستل شم ... ته مې دژوند ټوله سرمایه یې ... ومې خندل ، ماشه مې رانښکله ومې ویل: ... زما هم ډېر خوښ یې ... وژنه به دې له ډیرو ناپاکیو او

(۱) دا دکمونستانو خانګړی قسم دی چې په شرافت قسم یادوي ، مګر په اسلام کې له الله پرته قسم حرام او شرک دی (ژباړونکی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



چټليو پاک کړي ... درواخله ... درواخله ... درواخله .... درواخله .... درواخله .... پينځه فيره ، دهغو مجاهدينو په شمېر چې پرون يې وژلي وو ..."

دنجمې اوښکې وبهېدې ويې ويل :

- "دکومل خلک به څه ووايي ؟ که لدې ټولو پېښو خبر شي ؟..."

بيا يې بهر ته منډه کړه ... پياله په لاس راستنه شوه ...

- "بخښنه غواړم ... هغه لعنتي زه په شرابو روږدې کړې يم ... ډېر زر به سره واده وکړو ، ګرانه ... مګر څنګه؟ ..."

پياله يې دباندې ګوزاره کړه...بيا يې په جديت په خنداوو او ويناوو پيل وکړ:

- "دباودين يوه ملګري د واده غوښتنه رانه کړې ده ... چې دهغه ډېر نژدې دوست وو ... تصور وکړه ... دلته دپوځي چارواکو زړونه له کانو دي! ..."

له غمونو ډکې شپې ورځې مو تېرې کړې ، په اورمچې کې داستخباراتو رئيس بې ګناه مشتبه مشکوک کسان زندانونو ته اچول، هره ورځ به يې يو يا دوه ترې وژل چې اصلي قاتل پيدا کړي ، کله ناکله به بې نجمې ته مشکوک کسان راوستل ، هغې به ويل: نه دی نه وو ، د نيونو او زوروونو لړۍ په سختۍ روانه وه ، بېرني حالات لاپسې سخت شوي وو ، نه يوازې په اورمچي کې ، بلکې په ټولو لويو ښارونو کې ، همدارنګه دمجاهدينو فعاليتونه هم زيات شوي وو ...

يو ماښام نجمې ته ولاړم ، ومې ويل:

- "دادی دماتم موده هم پای ته ورسېدله ... زما نظر دادی چې دنځابنه لويه مېله جوړه کړې ، لوړ پوړي چارواکي راوغواړې... چې پدې توګه به پر پخوانۍ پيښې پرده واچول شي ، باودين او کيسه به يې ختمه شي ... زه لا دا وايم چې له هغه چينايي سره دې دکوژدنې اعلان هم وکړې چې ته يې غوښتې يې ... "

په غوسه يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- "باودین مې دې لپاره ووژلو چې ته مې پکار یې !..."
- "که په رښتیا دې پکاریم ، نو زما دامېله پکارده .... "
- "هغه څنګه؟ ..."

له مټه مې ونیوله ، څانته مې راکش کړه ، له خپلې سینې سره مې نژدې کړه ، ومې ویل:

- "زما ګرانې ! .... پکارده چې دبېګناه خلکو کسات واخلو ..."
- "په کومه طریقه ؟..."
- "له ماسره ډېره اندازه منفجره مواد شته چې مجاهدینو رالېږلي دي،کله چې مېله بنه ګرمه شي...مانۍ به په دوزخ بدله کړو...."

سر یې وخوځاوه :

- "او مونږ ؟ ..."
- "په شرابو، نڅاوو او سندروکې به یې ډوب پرېږدو ... ښه چې ترې لیرې شو ، چاودنه به تر سره شي ..."
- "او چېرې به خو؟ ..."
- "دغرونو په لور ... هلته عثمان باتور او نور مجاهدین دي ..."

له خوښۍ یې مخ وځلېد ، شروع یې وکړه له هرې خوا مې ښکلوي ، او زه له ځانه سره وایم :

- "هغه بوډۍ چې په پخلنځي کې کارکوي هغه به له پېښې مخکې په کومه پلمه لېرې واستوو ، او هغه ښوزلې منګولیایې بګیوان ته هم پکار ده دژغورنې ومه لاره وسنجوو ، او هغه دوه واړه ماشومان چې دلته خدمت کوي ، هغوی به هم بې ته ولېږو چې هغه کوټه ترتیب کړي چې تا او باودین پکې لوبې او ساعت تېرې کولې..."

دوعدې په شپه ، چې تکه توره تیاره وه ، په قوي آس سواره شولو دشپې په تورتم کې وتښتېدو ، چې شاته مو وکتل ګورو چې مانۍ ټوله د اور سره لمبه ده شاوخوا سیمه یې رڼاکړې ده ، چیغې ، فریادونه ، دبیداری

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټالی، او دشپېلیو آوازونه یو په بل پسې پورته کېږي یو دوه ساعته وروسته مونږ دغرونو په لمنو کې وو ...

له آسه مې راکوزوله ، ومې ویل:

- " نجمې: غر د آزادو ، اتلو مجاهدینو تلپاتې مملکت او هېواد دی ..."

هغه چې له یخنی رپېدله ویې ویل:

- "زه څومره نېکمرغه او خوشحاله یم؟..."

په خندا مې وویل:

- "اوس به د ورینو زیړو جامو غم ځانته کوې ... "

ناڅاپه یې وپوښتل :

- " ددې زړورو کامیابو عملیاتو سوچ دې خصوصاً پدې وخت کې څنګه وکړ؟ ..."

پداسې حال کې چې آس مې تنګ پېچومي ته کشاوه ، ومې ویل:

- "دامې لومړی ځل نه وو ... په اورمچي کې داوسېدو په اوږدو کې مې دې ته ورته عملیات ډېر کړي دي ... زه دعثمان باتور په لارښونه روان ووم ..."

په خلاصو سترګو او حیرانتیا یې راوکتل ... زه د دمې لپاره دکېناستو په حال کې وم چې ومې ویل:

- " کوم کار چې دې وکړ ، د باودین قتل او ددې شپې دپېښې په هکله ... که دادې نه وای کړي ستا برخلیک به هم لکه دهغو خلکو وو چې دخپل خیانت او ظلم په لمبو کې وسوځېدل ..."

په چیغه یې وویل :

- "څه ؟؟ زه دې هم وژلم؟ ..."

دچین لي او خاتون کیسه رایاده شوه ، او چیغه مې کړه:

- "زه یې پلار یم ..."

نجمه پوی نه شوه ، په نورو خبرو سر شولو ، د اوږد سفر، دعثمان باتور لیدنه اوملاقات ... چې په غرونو کې دمجاهدینومشر دی ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۲)

په لړه نه بلکې په ډېره اندازه خوښي مې محسوسوله ، دغرونو پر پوړیو اوپېچومو ورختلو ، او پر هغو څنډو چې سرې آسمان ته ورنژدې کوي ، دهسکې رونوالی لا زیاتېږي ، هوا لا زیاته سړېږي ، پوهېږم چې دسینې لیارې او ځانګې مې یو یو پرانستل کېږي ، فکر کوم مارغه یم ، خو وزرونه مې کم دي ، نجمه مې کله ترځنګه او کله تر شا په آس روانه وي ، دلمر تاو یې ښکلی مخ داغلی ، زیاته سره او غنم رنګه ښکاري ، اوس دادی هغه خپل اصلي بڼې چې دامیر په مانۍ کې وه بېرته راګرځي ، خوشحاله او خندانه ښکاري خو لومړۍ ورځې پرې سختې تېرېدې ، ځکه په ترکي سیستم دګرم حمام اخیستو امکانیات نه وو ، او پدې هم ډېره خفه وه چې دسینګار وسایل یې په څنګ کې نه وو ، ښایي دې هم ډېره دردولې وي چې دقوم له مشرانو هغه سرونه یې نه لیدل چې سهار ببګا ورته ددرناوۍ په توګه ټیټېدل ، دغرونو خلک فطري ژوند لري، ښځې له نارینه وو سره په ټولو کارونو کې برخه اخلي ، ټول چاپېریال یقیناً هغې لپاره نوی وو ، له یادو شویو سختیو سره سره بیا هم دنورو فداکاریو لپاره هوډمنه وه ، خپله خوښي یې نه پټوله ، وخت ناوخت به یې کېسې تکرارولې ، .... باودین بې څنګه وواژه ، دباودین په سترګو کې وېره ... زارۍ هیله .... هغه نرموونکي کلمات چې دباودین له شونډو څڅېدلي وو... زه پوهېدم چې هغې پدې خپل کار څومره فخر کاوه ، او مغروره وه ... پس له سختو سفرونو د (آلتای) غرونو ته ورسېدو ... هلته دعثمان باتور مرکز دی ، هغه روسانو او چینایانو ته په یو برابر سرخوږی پیدا کړی وو ، او توانېدلی وو دوطن دبچیو ځني هغه خاینان دخپلو بدواعمالو په جزا ورسوي چې د روسانو ګوډاګیتوب یې کاوه... عثمان باتور دپرېکنده کتنو خاوند وو ، اوږده برېتان ګڼه ږېره ، یوه اندازه غټه پوزه ، درونډ ، ښکلې باوقاره څېره یې لرله،دلږو خبرو او ژور فکر والا شخصیت وو ... زه بې ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه پېژنم ... همدارنګه دهغو مجاهدینو اکثریت پېژنم چې دده ترخنګ دي ... عثمان باتوردغرونو دسختې یخنی له امله درنې ، تودې جامې اچولې وې ، ځومره ایمانداره وو هغه خلک ، د ایمان په قوت دطبیعت طوفانونو او دغلیم مکرونو ته ټینګ ولاړ وو ، له مرګ او سختیو سره یې اوږده کلونه په مېړانه دغرې ووهلې ، هغه نعره یې چې غرونه خوخول د ... الله اکبر .... الله اکبر تلپاتې نعره وه ، په غرونو کې د مجاهدینو څو متعدد مرکزونه وو ، ما به کله لدې او کله له هغه مرکز سره شپې تېرولې ، د تعذیبونو او ټول وژنو اوږدې کیسې به مې ورته کولې چې غلیم پر اولس کولې ، همدارنګه هغه کیسې به مې هم وراورولې چې په خینو عملیاتو اوړ یا دترپ او خرپ په جګړو کې مې برخه اخیستې وه ، چې باید په آخر کې دعثمان باتور ترخنګ واوسم ، چېرته چې څما اصلي ډله ده ، زه ورته منسوب یم او ورسره کار کوم او هلته به له مصطفی درغا سره یوځای کېږم ...

دڅه وخت له تېرېدو وروسته آس مو له لاسه و ووت ، په غرونو کې یوه واړه کلي ته موپناه یووړه ، خیني شپانه او کروندګر پکې مېشت وو ، یخني ماته شوې وه ، پدې کلي کې څو شپې پاته شولو ....

نجمې وویل:

- "تر څو به کډه په شا ګرځو؟ ..."
- "یا به تلل وي او یا راتلل چې لدې مو خلاصی نشته ! ... "
- "داډېره ستومانوونکې ده ... "
- "همدا جهاد دی ... "
- "دامې مطلب ندی ... "
- "مطلب دې څه دی؟ ..."
- "هغه وخت رارسېدلی‌چې سره واده وکړو ... ته هېڅکله له فرصتونو کار نه اخلې ... دامیر په مانی کې ورروستی لیدنه کتنه دې په زړه کېږي؟... کاشکې منلې دې وای! ..."

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مینه مې له لاسه ونیوله ... زما لاسونه یې رانیول او پر خپل مخ یې کېښودل ، اوږده شېبه همداسې پاته شولو ، پداسې سترګو چې مینه او شفقت ترې څڅېدل را وکتل:

- "ترڅو به داسې پاته یو؟..."
- "حتماً په کلي کې عالم شته ..."
- "زه به په منډه ورشم او پوښتنه به یې وکړم ..."
- "دا کار ماته پرېږده ...."
- "زه څومره بختوره یم ؟..."
- "مونږ تېروتنه کوو ... بلکې دوه مخې لوبه کوو چې بایلات او کتاب دواړه لري ... "
- "ولې مصطفی؟ ..."
- "ته ګمان کوې ژوند به کوو ، اولادونه به کوو ، هغوی به غټېږي، پالنه به یې کوو؟..."
- "دا ټول الله تعالی ته پرېږده ..."

زمونږ واده مختصراو ښکلی وو ، دکلي خلکو راسره برخه واخیسته ، نجونو ونځل ، شپنو خپلې ښکلې سندرې راته وویلې ، طبلې او نغارې وټنګېدې کومو چې زړونه خوځول ، خوراک څښاک مو وکړ ، خوږې لس ورځې مو تېرې کړې ، لکه له زمانې مو چې غلا کړې وي ، نجمې خپل ټول زیورات وپلورل ، دوه آسونه مو پرې وپېرل ، او سفر مو له سره پیل کړ ...

- "ګرانې هلته ... چېرته چې زړور مېړنې اوسي ... ژوند به کوو ... هغه یوه بشپړه ټولنه ده له ښځو ، سړیو او ماشومانو سره ... ټول بې له جګړې نور څه نه پېژني .... جګړه دلته دژوند او آزادی په معنا ده ... جګړه د الله په لیار کې زمونږستره فریضه ده ... او کله چې غالب شولو ، دخپل ټاټوبي مالکان شولو ، خوږ او زړه راښکونکی ژوند به بیا له سره پیلوو ..."

(c) ketabton.com: The Digital Library



موسکی شوه ، دهسکې لمنو ته يې وکتل ، کوم چې وربخو پوښلي او ښايسته کړي وو ، وبې ويل:

- "آيا لدې اوسني ژوند اخوا نور زړه وړونکی ، خوږ ژوند هم شته ؟ ..."

- "هو زما گرانې ! ... کله چې آرامي راشي ، داسلام خاوره اسلام ته ستنه شي ... دښمنان وتښتي ... هغه وخت به له ژوندانه خوند واخلو ... حقيقي نيکمرغي به زمونږ وي ... پکار ده مونږدهمدې لوی هدف ، اوچت ارمان لپاره ژوند وکړو ... لدې مينې په اوچته کچه چې زما او ستا په زړه کې ده ... ټول ترکستان به دمينې تلپاتې سندره او نغمه وي ، زه او ته او زمونږ په شان نور سنگرداران به د مقدسې سپېڅلې نغمې دزړه راښکلو راز او سُريو ... اود همېشه والي راز ... هغه به دځمکې پر مخ جنت وي ..."

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۳)

دا هغه مهال دی چې لویه نړیواله جګړه تونده روانه ده ، له یوې خوا هتلر او له بلې خوا د روسانو ، انګریزانو او امریکایانو متحده جبهه وه ، هغه لوی بریالیتوبونه چې هتلر او دهغه جرمني پوځ تر لاسه کړي وو ، ټوله نړۍ یې لړزه ولې وه ، او په هستۍ کې یې دقوتونو بیلانس ګډ وډ کړی وو ، مونږ دغرونو په سرونو کې اوریدل چې جرمنیان دغرب له خوا دروسیې خاورې ته ورننوتي دي ، او روسي پوځونه له سیمې په شا شوي دي ، عثمان باتور د آلتای په غرونو کې په یوه لویه غونډه کې وویل:

- "ای میړنیو ورونو :

اوسنی وخت ډیر ستونزمن او حساس پړاو دی ، زمونږ دهیواد برخلیک ټاکي ، بنایي دراتلونکیو څو نسلونو لپاره ، او جګړه مو پردې ټاټوبي اوړده ده ، له هغې زمانې را شروع شوی چې په روسي قیصرانو کې داروپایي، بنسټپالو او دمسیحیت دپرکټیانو په لمسون زمونږ په اړه طمعې پیدا شوې ، او له هغه وخته چې دچینایانو وړي سترګې دلسګونو کلونو راهیسې زمونږ سترې خاورې ته غځیدلي دي .... داتلولیو خاوره ... دعزت او کرامت خاوره .... داسلامي تلپاتې جګړو راهیسې ، له هغه وخته چې هر دښمن زمونږ دخاورې یوه ټوټه پریکړې وه ، دامیرانو او واکمنو دغفلت او خر مستیو په نتیجه کې! ... نه غواړم له تیرو وختونو زیات وغږیږم ... غوښتل مې دا ووایم ، زمونږ خاوره بل څوک راته نه آزادوي ، یوازې زمونږ پر اوږو د آزادۍ مانۍ ودریږي ، تیر ځل روسان دمرستو په وړاندیز کې ریښتوني نه وو ، همدارنګه چینایانو چې کله دآزادۍ او خپلواکۍ خوږې وعدې راکولې ، پخپلو ویناوو کې رښتیني نه وو ... تر هغې وړاندې ستالین او قیصرانو هم درواغ ویلي وو ، شانګ کای شیک دچین مشر هم درواغ ویلي وو ، او تر هغه مخکې ( چن یان چن ) هم کذاب وو ، دادی تاسو وینئ چې پر هیواد مو اور او اوسپنه حکومت کوي ، په زرګونو خلک پولیګونونو او وژنتونونو ته او سلګونو زره نور

c) ketabton.com: The Digital Library



زندانونو ته بيول کېږي ، ترکستاني کورنۍ په ټوليزه توګه بربادې شوې او ژوندۍ تر خاورولاندې شوې ، زمونږ دآزادۍ له سترو مشرانو سره چې کله ددښمن لاسته ولوېدل دجګړې دبندي په څېر چلند ونشو ، بلکې په ډېره بې رحمۍ ووژل شول ، عزت ، حيثيت او نيک نوم پورې بې ملندې ووهل شوې ، پداسې حال کې چې هغوی زمونږ دخاورې سپېڅلي اصلي بچي وو ، دښمن اوس زمونږ پر سيمو کليو او ښارونو کې د دوکه شوي ، بې ارزښته نسل په رامنځته کولو او روزلو اخته دی ، پدې نوم چې په هېواد کې مو پوهه او پر مختګ راولو ، دا حيرانوونکې نده چې روسان دنړۍ د عامې آزادۍ لپاره د نازي هتلر سره جنګېږي او په عين وخت کې زمونږ آزادي سلبوي ؟! همدارنګه چينايان له جاپانيانو سره ... لکه جنګي غويان ښکر په ښکر دي ... تر ټولو غمونکې داده چې دمسلمانانو دبچيو لوېې لښکرې له قفقازه نيولې دغربي ترکستان تر نورو جمهوريتونو پورې ټول له روسانو سره په يوه صف کې دجرمنيانو په خلاف ولاړ دي !...

اي اتلانو:! مونږ دخپلې خاورې آزادۍ لپاره جنګېږو ، تيری او ظلم چې په هره ښه وي نفرت ترې لرو له خپل اسلامي حنيف دين او لرغونو مدني ميراثونو څخه په کلکه دفاع کوو ، روسيه دا اوس خپل نوم او نښان دشرق په روانه جګړه کې دبايللو په حال کې ده ، نژدې ده جرمنيان مسکو ته ورننوځي ، چينايان له جاپانيانو سره په جګړه کې له سختو ستونزو سره مخ دي ...

زمونږ جګړه د الله په لیار کې جهاد دی ، پکار ده داسې ګوزار وکړو چې ددښمن ملا پرې ماته کړو ، کله چې برى زمونږ شو ، خپلواکي مو واخيستله، بيا به دټولو دوستان يو ، زمونږ هيواد نه پر چا تېری کوي او نه په چا کې طمعې لري ، زمونږ خاوره چې له ډول ډول خيراتونو اوشتمنيو مالامال ده واک او اختيار يې بايد زمونږ وي ، آيا مونږ د آزادۍ وړ اولس نه يو؟! روسان زمونږ دچريکي جګړو په مخنيوي کې پاتې راغلي، اوس يې داولسونو په ټوليزه وژنه لاس پورې کړی او له عام اولسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې غچ او کسات اخلي ... نن یې له هیواد شموله عمومي جګړې پرته بله لار نشته .....

دحاضرینو دتکبیر نارې پورته شوې او په راتلونکیو ورخو کې د مجاهدینو لېږدول پیل شول ، روسي قواوې په وېره په شا کېدې داورمچې شاوخوا لس کیلو متری ته ورسېدو ، پدې وخت کې روسانو خپلې ډېرې لښکرې له جرمنیانو څخه د ستالینګراد دفاع او ژغورنې لپاره لېږدولې وې ، په شرقي ترکستان کې د روسي پاتې شویو پوځونو په ټکولو اولسي جنګیالیو پیل وکړ ، تردې چې غربي ترکستان ته یې واړول ، چې پدې سر ه پر عام اولس باندې دروسانو ظلمونه او وحشتونه بربنډ شول ، کوم چې دښکېلاک تر پردې لاندې پټ وو ، ځیني ترکستانی کورنی تری‌تم شوې وې ، روسانو په زندانونو او پوځي بارکونو کې درې لکه بندیان ساتلي وو، خینو راخلاص شویو زندانیانو به دوحشي تعذیب عجیبې وېرووونکې کیسې کولې ، دشهیدانو مبارک جسدونه اولاشونه به په لاس نه راتلل ، خکه روسانو پټ تر خاورو لاندې کول او په حیرانونکو وحشیانه طریقو به یې وژل ، دتصادف له مخې د خفه کوونکي ګازونو په زېرمتون کې دوه لاشونه پیدا شوي وو ، چې وروسته معلومه شوه ، د اولسمشر خوجه نیازاوپیاوړي قوماندان جنرال شریف خان لاشونه وو ، همدارنګه داستخباراتو هغه ودانی چې روسانو به دمخالفینو دځپلو عمده کار ترې اخیست دسختو اوربښتونو په وجه ونړېدله ، ددې ودانی تر خاورو لاندې بشري هیکلونه لاسته راغلل چې شمېر یې درې زرو ته ورسېد ، چې تر ودانی لاندې دلوی زندان د موجودیت ګواهي یې ورکوله ، او ټولو زندانیانو پداسې حال کې ساه ورکړې وه چې یوه هم د دروازې دخلاصېدو سوچ قدرې هم نه وو کړی ، دا خو لا پرېږده چې څوک بې دبرخلیک په اړه پوښتنه وکړي ، دترکستاني اولس د مختلفو پرګنو بچي ددې لوبې غمیزې ننداره ته راووتل ...

نجمې چې اوښکې یې بهېدلې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- " دا څنګه مړه شوي دي ؟ مصطفی زه ددې تصور هم نشم کولای ، آیا دا دبې رحمی انتها نده؟ آه ... دا تیارې کوټې ... دمرستو هغه کوکارې چې بې خوابه پاته کېدل ... ولوږې ... تندې ... ځیرونکې ګوزارونه ... په دوی کې به هغه هم ول چې دخپلو مېرمنو په سوچونو کې وو ... او ماشومانو په فکرونو کې ... او همدارنګه هغه چې دنکاح لپاره خوښې کړې پېغلې په سوچ کې ... یا الهي! ... دا ممکنه ده چې په نړۍ کې دې داسې پېښه وشي؟! د الله لعنت دې وي پر روسانو ...دنړیوال انقلاب بلونکي له مونږ څه غواړي ؟!... له هغه قوم نه به څه دخیر هیله وشي چې بې ګناه خلک پداسې غمیزو اړوي ؟! یو له بل سره غاړه غړۍ هیکلونه وګوره ... پداسې حال کې مړه شوي چې یو دبل په غېږ کې وو حتماً یخني ډېره وه ... په سخته خواشینۍ کې الله ته په زارۍ وو ، هغوی چې دګران هېواد په غرونو او ځنګلونو کې آزاد اوسېدل ، پدې دردوونکې توګه وژل کېدل؟! د الله لعنت دې زمونږ پر ذلیلو پریوتو دښمنانو وي ..."

له لاسه مې ونیوله ، ومې ویل:

- "پس له مرګه انسان دتکلیف احساس نه کوي ... خان دې پرې مه خوره ..."
- "تکلیف مونږ لپاره دی ... مونږ باید ودردېږو ... تر هغې چې په رګونو کې مو خواک پیدا شي ، دهر ظالم ستمکر په خلاف تلپاتې کرکه او نفرت را وپارېږي ..."
- "ګرانې ! ته مه خفه کېږه دښمنان مو په هرګوټ کې ترمحاصرې او بربېدونو لاندې دي ... "

نجمې اوښکې وچې کړې وبې ویل:

- "مصطفی : نوره درسره نشم ګرځېدلی ... "
- "ولې؟..."

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورو يې وويل:

- "داسې ښكاري چې په پوست مې ماشوم دی ..."

تر اوبو ، او اوربښت لاندې خورو ورو هيكلونو ته مې وكتل ، او بيا مې نجمې او الوتي دردېدلي رنګ ته نظر وكړ ، په غوړ كې مې ورته ورو وويل:

- "كه الله تعالى زوی راكړ ، خوجه نياز به يې ونوموو ..."

په ترخه موسكى شوه ، هغه كور ته چې پكې اوسېدو ، ورمې وستله ، ومې ويل:

- "يوه اونۍ وروسته به ستون شم ، د "ايلي" او "آلتای" دوه له معدنونو او شتمنيو دكې سيمې بايد له روسانو آزادې كړو ..."

سختې جګړې روانې وې ، روسان په تېښته وو ، عثمان باتور په يوه خانګړې غونډه كې چې ښه ډېر قوماندانان ورته راغلي وو و ويل :

- "مېړنيو اتلانو ! : تاسو خبر ياست چې دتركستان چينايي حاكم (شين سي سای ) څه وكړل؟..."

مونږ ټولو سترګې ور واړولې ، پخپله همېشنی آرامتيا يې وويل:

- "هغه اوس روسان رانيسي او زندان ته يې اچوي ..."

دا يوه ناڅاپي حيرانتيا وه . ټولو په يوه چيغه وويل:

- "داڅنګه؟..."

- "دسياست او مصلحت لوبه ډيره كرغېړنه لوبه ده "

- " مګر هغوی يې مرستندويان وو ، او هماغوی ول ، چې دوی يې وژغورل..."

- "هو ، هغوی(شين سی) وژغوره ، چې خپل يې كړي ، ترلاسه يې كړي او هېواد ترلاسه كړي هغه په نوم واكمن وو ، له "شانګ كای شيک" سره يې اړيكې نيولې وې ، چې باور يې ترلاسه كړي او مرسته ترې وغواړي ..."

او دا څرګنده وه چې "شين سي سای" له روسانو سخت په تنګ وو ، او نه يې شو كولای چې دهغو له پوخي ماهرينو او سلا كارانو له څارنې ځان

) ketabton.com: The Digital Library



وژغوري،، مګر دیو لوی شمیر تر ستنیدوو وروسته چې له جرمنیانو سره توندې جګړې پر مهال ولاړل ، او وروسته له هغې چې دعثمان باتور مجاهدینو بنه ډېره مرګ ژوبله ور واړوله او لوی شمیر یې وتښتېدل ، ایله شین سي فرصت په لاس راوړ ، او ځینې روسي اتباع یې زندان ته واچول، دچین ستر مشر "شانګ کای شیک" ته یې هیأت ولیږلو ، چې معذرت ترې وغواړي ، دتېرو نیمګړتیا وو په هکله دخواشینۍ څرګندونه وکړي ، او دمجاهدینو په خلاف ترې مرسته وغواړي .... دا راسره ومنئ چې "شین سي" اصول نه لري ... مونږ ته پکار ده چې دروسانو تر ماتې وروسته له چینایانو سره دنوي جګړې لپاره تیاری ونیسو ...

بالآخره زمونږ سر مشریزې غونډې د عمومي پاڅون اعلان وکړ ، چې داولس هر وګړی دې له خپلې وسې سره له چینایي ځناورو دهیواد ژوغورنې په جګړه کې برخه واخلي ، بیا عثمان باتور دچین حاکم "شین سي" ته یوه اعلامیه ولېږله چې له خپلو پوځونو سره له هیواده د وتلو نیـتـه ور په ګــوته شــوې وه ، او کـه نـه نـو دټولو برخلیک به باوري مــرګ وي ...

(شین سی) حیران وو چې څه وکړي ؟ زمونږ دپوځونو په کلابندۍکې وو، (شانګ کای شیک) ته دلېږل شوي هیأت – دده ورور هم پکې وو – خبر هم درک نلري ، زمونږ اولس دخاورې ژغورلو په موخه دیوه افتخار بخونکي پاڅون په لور غوټې وهي ... د الله اکبر ... له نارو پورته هسکه ډکه ده ...

- "مصطفی حضرته ! دادی ، دریم خل لپاره بیا سره وینو .."

ګورم چې دټول ژوند ملګری ، منصور درغا دی ...

- " آه ... منصوره ! ... څومره تغیر شوی یې! دسپین وینښتانو تارونه دې په سر کې وینم .... را له غاړې ووزه ..."

ګورم چې کېن مروند یې نه ښوري ، ټوپک یې په ښي لاس کې دی ، په ډېره مینه مې په غېږ کې رانیو ... له سره مې وروکتل ، دمخ ښکلا او تازګي یې تر ډېره تللې وه، دتندي وېښتان یې یو یو پاتې او نور تللي ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر ړیره یې شنه بخنه پاتې وه ، چې دسرتمبکی ښکارندویه وه ، او په سترګو کې یې ژورغم له ورایه څرګند وو ...

- "منصوره ! څه حال احوال ده ؟ ...

- "روسان مو وشړل ..."

ومې خندل ، هر څوک پدې حقیقت پوهېږي ، احساس یې کړه پوی شو چې خواب یې کافي نه وو .

- "ګرانه غجری مې مړه شوه ... روسانو حلاله کړه ، لکه په لویه مېلمستیا کې چې پسه حلالېږي ... لکه دځنګل وحشي ځناورو ټوټې ټوټې یې کړه ... چیغې یې وهلې ، لاس او پښې یې اچولې ، داړونکي ځناور به ترحم او شفقت وپېژني ... نه روسان..."

خبرې یې اوږدې شوې او د شهادت په ګوته یې اشارې کولې:

- " نه ... نه له زندانه زما دوتلو او تېښتې خبر خپور شو ... کاش نه وای تښتېدلی.... دا راته غوره وه چې له هغو هیکلونو څخه یو وای چې داستخباراتو د ودانی په تل کې له لوېدو وروسته ولیدل شول ، ته نه پوښتې چې ولې؟ ټول ځایونه یې راپسې وپلټل ، کله چې په لاسته راوړنه کې مې ناکام شول ، تورسرې ، نارینه ، ماشومان ، ټوله کورنی یې راته یوړه ، اوس به وپوښتې چې برخلیک یې ؟ په ټوله خواشینی به ووایم چې ... چې لاړل!..."

اوښکي یې و بهېدې:

- "هغه ذات ته ورغلي چې پر هیچا تیری نه کوي ..."

سترګې یې وچې کړې ویې ویل:

- "ګمان کوې چې زما حالت دهغو تللیو له حالته ښه دی ؟ ..."

له لاسه مې ونیو ، ومې ویل:

- "راځه چې ځو ... نجمې غوښتل چې ودې ویني ..."

راته وې کتل ، لکه هغه زړه کېسه چې وریاده شوې وي ....

(c) ketabton.com: The Digital Library



- " نجمه ؟..."
- "هو ... زما مېرمن..."
- " مېرمن دې؟ ... دا ناممکنه ده ... ته پوهېږې چې ولې ؟... "

باوري مې وخندل او ومې ویل:

- "له ماسره یې په ډېرو ښوعملیاتو کې برخه واخیستله ..."

ترڅنګ مو ټپي خبریال چې تازه راستون شوی وو ، ناست وو وبې پوښتل:

- "ته مصطفی مراد حضرت یې؟..."
- "هو ..."

خبر یال وخندل وبې ویل:

- "په اورمچي ، آلتای ، کاشغر او کومُل کې ، ستاسو په اړه اعلامیه خوره شوې ده..."
- "پوی نه شوم؟ ..."
- "ستا او د نجمې په سر انعامونه ټړل شوي دي ، چې هر څوک یې مړه یا ژوندي وسپاري لوی انعام به ترلاسه کړي ... ګورم چې ته دلته یې ؟ ... ستاسو کېسه دورځپاڼو او اونیزو دلچسپه موضوع ده ..."

خپلې اوربې ته مې وکتل ، خبر یال ته مې چې په قهقهې خندل اشاره وکړه وګوره :

- "دویاړونې لومړی درجه مډال!..."
- "هو ملګریه : دعثمان باتور له خوا ..."

د سپوږمۍ رڼا خوره وه ، منصور درغا مې تر څنګه وو ، منصور وغومبېد وبې ویل:

- "دکومُل امیر مړ شو ، ګمان کوم وژلی به یې وي ، امیران ټول ولاړل ، کورنۍ او تور سرې یې هرې خواته خواره واره شول ، دنیا له بې انتها ځپاندو پېښو فوارې وهي، لکه داسې چې مونږ ته ټول عمر جګړه لیکل شوې وي."

(c) ketabton.com: The Digital Library



- "منصوره د الله تعالی په لیار کې له جهاده پرته بل عزتمن شی نشته ..."
- "پوهېږم .. مگر کله ناکله ځانته متوجه شم ... ښکلې ورځې را یادې کړم دوړ کتوب معصوموالی ... کورنۍ او چم ګاونډ ... زرغونه ځمکه ... ښکلی سهار ... خندانه دنیا ، داټول څنگه ولاړل؟! نېکمرغیو ته درسېدو لپاره ددې ټولو ترخو څکل اړین دي؟ او بیا لا کومه ده هغه نېکمرغي ؟ دادی مونږ وګټله ... مگر لدینه چې زیان او ګټات موڅو څله تکرار شو ، داهم ډېر ووړ ښکاري ... کله کله همداسې احساس راپیدا کېږي ... ډېره بخښنه غواړم ، دانسان په حیث په انسان وردردېږم ... مېرمن مې ولې مړه شوه ؟ بوډا پلار مې څنگه مړ شو ؟ او دمور ، ورونو او کورنۍ وینې مې څنگه توېې شوې ؟ داسې راته ووېل شول ، چې هغوی دقرآن آیاتونه زمزمه کول ... او بوډا پلار مې آیت کرسي په لوړ آواز ویلې .... پدې حالت کې جلادانو خندل ... ولې بې خندل ؟! مصطفی! غواړم چې نجمه ووینم ، پوښتنه ترې وکړم چې لدې ځناورو سره یې څنگه شپې سبا کړې ؟ څنگه بې ورسره خوراک څښاک ناسته ولاړه کوله آیا هغوی بشر وو ؟ ..."

پوی شوم چې منصور درغا په هغه څه چې ده ته او دده کورنۍ ته پېښ شوي دي ، ډېر زیات دردېدلی دی ، او دغم هغه څپې چې ورباندې راځي دده احساسات راپاروي ، نژدې ده حواس ترې یوسي ، په شفقت مې پر اوږه لاس ورکش کړ ، ورو مې ووېل:

- "پر الله دې باور شته ؟ ..."
- "هو ولې نه ..."

اوښکې یې وبهېدې او دا آیت یې زمزمه کړ :

- " الذین اذا اصابتهم مصیبة قالوا انا لله وانا الیه راجعون... "

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه : "هغوی ته ( زېری ورکړه ) چې دمصیبت پر وخت وایي : مونږ دالله یو ، او الله ته ستنېږو"

(۱۴)

لاس یې موټی کړ ، شونډې یې وچیچلې ، په لېونتوب یې چیغه کړه:

- "نامرادي اومایوسي مې نژدې ده ستونی راخفه کړي ..."

دا دشین سي سای دلوی ترکستان د سترحاکم وینا ده او همدا رنګه له غم او غوسې ډک حالت کې یې وویل :

- "ددې لپاره چې دترکستاني اولس له شره ځان وژغورم ، زما فرض دا وو چې یا پر روسانو بروسه وساتم او یا پر چینایي مرستو، په یوازې ځان مې هېڅ نشوای کولی... ددې معنی څه ده ؟ ددي معنی داده چې ټول عمر باید پر روسي یا چینایي متو بروسه ولرم؟ له همدې کبله مې هېڅکله د آرامۍ ساه وانه خیسته او سوکالي مې تر سترګو نه شوه ..."

یوه چینایي جنرال ځواب ورکړ:

- "پدې مو هېڅکله سوچ ونکړ چې دشرقي ترکستان له خلکو دوستان ونیسو..."

شین سی وغړمبېده ، وېې ویل:

- "دا ناممکنه ده ، یرغلګر او ښکېل شوي سره نه دوستان کېږي ... په هر ځل مې هڅه کړې چې مقاومت او پاڅون په تشدد او سختۍ غلی کړم ، ځکه بله لیاره مې نه درلوده ... ساده نه یم ، زه هغه کوم چې عقیده لرم تر هغې بله ښه نشته ... وګوره ... شاوخوا غرونه لکه باران راباندې سرې ګولۍ اوروي ، دروسي مرستې تر ختمېدو وروسته ... که "شانګ کای شیک" پخپله ژمنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وفا ونکړي ، نو اورمچې به ډېر ژر له لاسه ووځي ، او په میاشتو
کې به داسې قصابي شو چې دترکستان تاریخ نه وي لیدلې..."
(شین سئ) د آرام خونې ته ولاړ ، وارخطا او عصباني وو ، خانته یوازې
په سوچونو کېناست ، په خان نه پوهېده چې لږ وخت پرې تېر شو او که
ډېر ، مګر کله یې چې سر راپورته کړ ، ګوري چې خادمه یې ولاړه ده ،
او په لاس کې یې د اوبو جک او ګیلاسونه دي ، په حیرانتیا یې وویل:

- "له څه وخته ته همداسې ولاړه یې؟..."
- "له شاوخوا نیم ساعته ..."
- "خیر ولې دې خبرې نه کولې؟ چوپتیا دې کله ناکله پر ما درنه شي ..."

دا جینۍ دخوښۍ په خلاف مجبوره وه له چینایي حاکم (شین سی) سره
واوسي ، پدې سره یې خان او خپله کورنۍ ساتله ، دا یوازینۍ پېغله نه
وه ، مګر دا د څو لږو میاشتو راهیسې دلته وه ، د (شین سی) ترې بد نه
وو راغلي ، هغه تل چوپه خوله وه ، همدې چوپتیا یې ډېر خوند ورکاوه،
ښځې عموما ډېرې غړېږي مګر دا یوازې دپوښتنې ځواب ته خوله
پرانیزي او کوښښ کوي په لږ نه لږو کلماتو بسنه وکړي،(شین سی) ورته
وویل:

- "که مونږ لدې خایه ولاړ شو ، ته پاته کېږې او که له ماسره ځې؟..."
- "زما باداره! زه ستا د امر تابعداره ..."

ښکاري چې په مطلب ونه رسېدله ...

- "درسته ده ... که ترکستانیان راباندې غالب شي ، نوبیا؟ ..

هغه خپله خبره لانه وه پوره کړې ، چې ور وېې کتل ، په ټوله سادګۍ یې
وویل:

- "هغه وخت به دخان ژغورنې په فکر کې یې ، نه لکه زما په شان خلکو په فکر کې ..."
- "هغه څنګه؟..."

(c) ketabton.com: The Digital Library



- "دلیارې په اوږدو کې ښځې ډېرې دي ... او زه لا ځوک یم؟ ..."

سر یې وخوځاوه ، وېې ویل:

- "نو ته همدلته پاته کېږې؟ ..."

په ټول سکون یې وویل:

- "هو ، تر هغې چې کورنۍ مې راشي ، او یو مې سي..."

جک او ګلاسونه یې په یوه ګوزار مات کړل ، چیغه یې کړه :

- "تاسو یو هم د زړه په مینه راسره نه اوسئ..."

- "زه ستا د خبرو په مطلب ونه رسېدم ، لکه چې خپل فرض مې درست ندي ترسره کړي؟... "

- "ناپوهې! زه له فرض او دندې نه غړېږم..."

- "باداره! خیر له څه شي غړېږې؟..."

- "دزړه له مینې..."

په وېره یې ور وکتل ، څه یې ونه ویل چوپه وه...

شین سي د شونډو لاندې وویل :

" په ټول ژوند وېره خوره ده ، دلته خلک ټول له وېرې خوځېږي ، او یا په مصلحت ، آن تر چینایي پوځیانو پورې ، کله چې په جګړه کې پوی شي ژوند یې په خطر کې ده ، بیا پر مخکه سجدې لګوي دژغورنې آوازونه اوچتوي ، له ترکستانیانو سپارښت غواړي، او ځینې خو اسلام راوړي ... او ددښمنو ترکستانیانو دین قبلوي ، روسان راسره مرسته کوي او پوځیان رالېږي خو دقیمت په بدل کې ... یا به حکومت نیسي او یا به د اومو موادو پر زېرمو قبضه لګوي ، او یابه دکمونستو ملګرو په لټه کې وي ، او پخپله ماته یې هغه وخت مرسته راولېږله چې له ستالین سره په لیدو کې مې باوري کړل چې زه ستاسو مخلص یم ..."

یو ځل بیایې خادمې ته مخ کړ:

- "لاړه شه ، دوزخ ته..."

- "له مانې و ووځم؟..."

- "دوزخ نه پېژنې ؟..."

(c) ketabton.com: The Digital Library



- "دوزخ ... دوزخ ... ځای یې سبې راته معلوم ندی ، خو کولای شم پوښتنه یې وکړم ..."

په کړس کړس یې وخندل او په لوړ آواز یې وویل:

- "درځه ، لیونی ، ولاړه شه ..."

کله چې په وتو شوله ، بېرته وګرځېدله ویې ویل:

- "باداره رایاد شول ، دوزخ هلته ده ... په آخرت کې ، چې بدان ، کافران او دالله دښمنان ور اچول کېږي ..."

پر کوچ ډډه شو ، ورته ویې کتل ، ویې ویل:

- "هملته ولاړه شه..."

- "زه لا تر اوسه ژوندۍ یم..."

نور نو په ژور خوب ولاړ ، له خرېدو داسې معلومېده چې دوه ، درې شپو راهیسې یې خوب ندی کړی ، خادمه ولاړه پاتې شوه ، بیا په څه شور وینښ شو، ګوري چې ولاړه ده :

- "ته له کومې راغلې یې؟... "

- "زه له لېرې شماله راغلې یم ... دسایبیریا له اطرافه ، هېردې کړه چې دیوه سفر په یوه مېلمستیا کې مې ګیلاسونه او مېوې در وړاندې کولې ... زه دې خوښه شوم ... چې نوره کیسه تاته پخپله معلومه ده ... کله چې ته لدې ځایه ولاړ شې ، زه به شمال ته ولاړه شم ، خپل مور او پلار به لټوم او پیداکوم..."

ډېره ښکلې ، زړه راښکونکې خو ساده انېړه وه ، ځانته یې راکش کړه پخپلو ورنو یې کېښنوله ، او پروینښتانو ، نرۍ پوزې ، غوړو شونډو ، غټو سترګو به یې لاس راکاږه، بیا به یې ښکل کړه ، لکه ګلابي خوب چې ویني ، ویې ویل:

- "رئیس نور دهېڅ کار نده ... لدېنه چې حکومت او نفوذ ولاړ خواني او مینه هم ولاړل ... نوم مې دې هېر کړی ، له ماسره غیر له تشو خیالونو نور څه نشته ، کوم چې ماضي پخپله غېږه

c) ketabton.com: The Digital Library



کې له موسکا وو او اوښکو سره ساتلې ... تل جګړه ... نور څه نشته بې له جګړې ..."

په زور زوره دروازه وټکول شوه ، خادمه په تیټېدو ووتله ، پوځي لوړ پوړی چارواکی ننووت:

- "صیب ! مرسته را ونه رسېدله، او مسلمانو ترکستانیانو اورمچي کلابند کړی ... له ښاره بهر خونړۍ جګړې روانې دي ... هېڅ پر مختګ نه کېږي ... "

- "نور اضافي لښکر واستوئ ..."

- "په شا تګ کې خو به فکر نه کوئ ؟... "

- "په شا تګ لېونتوب دی ، که شا تګ مو وکړ پوهېږئ ، پایله به بې څه وي ؟..."

- "څه به وي ؟..."

- "مسلمانان به مو له هرې خوا وتښتوي ... له هرې خوا به راباندې غوپې وهي ، په ټول باور ویلای شم چې جګړه به بایلو... ټول به مړه کېږو ، اورمچي محفوظه کلا ده ، کولای شي تر ډېره مقاومت وکړي ، بې لدې چې تر مرګه مقاومت وکړو بله لاره نشته ... او یا دا چې مرسته راشي .... ولاړشه او ټولو قوماندانو ته بې اعلان کړه ...."

پوځي چارواکي زړه نازړه وویل:

- "عثمان باتور په رالېږلي اعلامیه کې زمونږ د وتلو په صورت کې زمونږ دسلامتیا پوره باور راکړی دی ..."

شین سی وخندل ، وبې ویل:

- "زه دجنګیالیو په ژمنو باور نلرم... "

- "مګر صیب ! هغوی درواغ نه وایي... "

شین سي قهقه وکړه ، وبې ویل:

- "مونږ په زرګونو ځله غولولي دي ..."

- "مګر، هغوی..."

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاکم خبرې ورباندې قطع کړې ويې ويل :

- "خه ، درومه... تر وروستۍ شېبې مقاومت ...نه تسليمي او نه په شا تګ ..."

ضابط ولاړ ، حاکم خانته پاته شو ، زړه تنګوالي ، او بې اندازې وسوسو سخت زوراوه :

" کله چې سر لښکر نهيلۍ ته ورسېږي ، پکار ده خان وژنه وکړي خو تسليم نشي ، او ښه خان وژنه هغه ده چې د جګړې ډګر ته ودانګي ... زه په همدې کې فکر کوم ... ورور مې د چين پلازمينې ( شون کين ) ته ولېږه ... چې تش لاس به نه را ستنېږي ... دا اوس د چين او جاپان تر منځ جګړه روانه ده ، دچين مشر تابه د جاپانيانو له فشارونو او ډېرو ستونزو سره مخ ده ، مګر ( شانګ کای شيک ) به پرېنږدي چې شرقي ترکستان مو له لاسه ووځي ،ددې معنی به دا وي چې روسان به بې تر ستونې تېر کړي ، مرسته ضرور رارسېږي ..."

په همدې مهال کې چې دی په خپلو افکارو کې ډوب دی ، چوپه خوله خادمه بيا راغله ، څه خوراک او د شرابو بوتل يې ورته راوړل ، وروسته تر هغې چې خوراک يې په مخکې کېښود ، وويل :

- "صيب ! زه غواړم چې ولاړه شم ... "

په حيرانتيا يې ور وکتل ويې ويل :

- " ولې؟..."

- " زه دلته سخته بېرېږم ...جګړه وار په وار رانژدې کېږي ... "

قهقه يې وکړه ويې ويل :

- "له مرګه وېرېږې؟..."

- "هوکې..."

- "ستا مرګ او ژوند څه ارزښت لري ؟ ..."

- "نه غواړم، چې مړه شم ..."

- "دادې بس نه ده چې زما تر څنګ واوسې ..."

- "ته مشرصيب يې او زه يوه چوپړه خادمه ..."

(c) ketabton.com: The Digital Library



تراوه يې، ورته وکتل ، ورباندې ګرانه وه ، د مخ ښکلا ، څوپتيا او ساده ګي يې خوند ورکاوه ، له ډېرو نورو ښځو په تنګ راغلی وو ، تعليم يافته ګانې يې ډېرې تجربه کړې وې همدا رنګه هنرمندانې يې ازمويلې وې او له کمونستو رفيقاتو سره يې ژوند تېر کړی وو کومې چې اکثر د ستالين جاسوسانې وې ، همدا رنګه هغه چينايي پېغلې چې د ده نوي ټاټوبي ته راکډه شوې وې خوندېې هم ځکلی وو ... له ټولو سترې او خوا بدی وو مګر په زړه کې يې ددې ساده ګۍ مينه لا پر ځای وه دا ولې ؟ په دې باندې دی پخپله هم نه پوهېده ... د زړه ځانته خپل اصول دي ...

ترهغې وروسته چې غوسه يې سره شوه ، بيا يې ور وکتل:

- "په ژوند کې څه هيله لرې ؟..."

- " چې خپلې کورنۍ ته ستنه شم ... چېرته چې څرڅايونه او ورشو ګانې دي..."

خبرې يې ور پرېکړې وېي ويل:

- " نه غواړې له ماسره پاته شې ؟ تاته به هرڅه ډېر وي ، لکه خوراکونه ، جامې ، سره او سپين ، حمايت او ساتنه او داسې نور ...."

جينۍ په ژړا ، نارو سورو پيل وکړ چې ده پرې چيغه کړه:

- "په اور به دې کباب کړم ، سر کښېږ ..."

اوښکې يې له ويرې پاکې کړې ، وېي ويل:

- "ما تاسو ته دتکليف رسولو سوچ هم ندی کړی ..."

- "او کورنۍ به دې ، تور زندان ته ولېږم ، چې بيا ترې وتلای نشي ..."

پښو ته يې په ژړا ولوېدله ، وېي ويل:

- "بخښنه راته وکړه ... رحم راباندې وکړه ... زه دخپلې تېروتنې معافي غواړم ...."

- "څه درومه ..."

(c) ketabton.com: The Digital Library



ووتله ، داسې رپېدله ، لکه مارغه چې په توره ، یخه شپه باران لند ه کړې وي او له یخه رپېږي...

(۱۵)

تر ډېر انتظار وروسته د (شانگ کای شیک) مرسته راورسېدله ، په ترکیب کې یې شپږ ځان وژونکي کندکونه هم وو ، چې په نویو وسلو سمبال وو ، او د چینایي ، جاپاني جګړې له ډګر نه را ایستل شوي وو ، پداسې حالت کی دغه چینایي قواوې راورسېدې چې (شانگ کای شیک) دانګرېزانو پښو ته په ژړا لوېده چې په ( برما ) کی دجاپان په خلاف نوی جبهه پرانېزي ، او پدی توګه وتوانېږي ، دجاپاني پرمخ تلونکي غالب پوځ پښه له خپلې غاړې اوچته کړي، کله چې داشپږ کندکونه دترکستان له سرحده را اوښتل ، دسرحد قواوو یې مخه ونیوله ، خو چینایي قواوو غوښتل له دوکې کار واخلي او بې له مقاومته له سرحده واوړی ، دچینایي قواوو قومندان ، ترکستاني قوماندان ته ورغی ، وېې ویل:

- "مونږ بل هدف نلرو ، یواځې د(شین سی) تادیب او داعمالو په سزا رسولو پسې راغلي یو، ځکه هغه بی لارې شوی ، او روسانو سره ملګری شوی ، بل هدف نلرو بې لدې چې خاوره مو درته له کمونستانو پاکه کړو ..."

ترکستاني قوماندان وویل:

- "لومړی خپله خاوره له کمونستانو پاکه کړئ او بیا زمونږ ..."
- "ټوله همدا یوه پروسه ده ... او مونږ سره دوستان یو ..."
- "صیبانو! تاسو پدې پوه شئ چې مونږ پخپله کولای شو خپله خاوره له کمونستانو پاکه کړو ، او همدارنګه ستاسو له خاین حاکم نه ... مونږ (شین سی) ډېر ښه پېژنو ... مونږ مسلمانان یو او هغه مونږ ته دکمونستي جریان مقابلې لپاره ډېره ښه پلمه ده ...."

(c) ketabton.com: The Digital Library



چینایي قوماندان وویل:

- "زمونږ په مقابل کې ستاسو مقاومت شین سي ته لا ډېر فرصت په لاس ورکوي ...."
- "تاسو هم دښمنان یاست ..."
- "شین سی به مو جرړې وباسي ..."
- "هغه په اورمچي کې کلابند دی او تښتېدلی نشي ..."
- "ښه ده ... مونږ به پخپله لاره بېرته ستانه شو ، دا لوی خطر به تاسوته پرېږدو چې پخپله یې علاج وکړئ ..."

لا ډېرې ورځی نه وې تېرې ، چی دوکه رسوا شوه ، چینایي خان وژونکي کندړکونه په ناخبری کې را وړاندې او دسرحد له ساتونکیو راتاو شول ، دچینایي یرغلګرو لښکرو په نسبت یې شمېر ډېر کم وو ، دا یوه نا برابره جګړه وه، چینایانو ته داوښتو لاره خلاصه شوه ، دوی دسیمې دخلکو له مقاومت سره مخ شول ، ډېر تلفات یې ورکړل ، له ډېرو کړاوونو وروسته اورمچی ته ورسېدل ، هلته چی (شین سی) په کلابندی کې شپې تېرولې خکه چې ښار دعثمان باتور پوځیانو کلابند کړی وو ، سمدستی (شین سی) له روسانو سره اړیکو پرېکولو او(شانګ کای شیک) سره دیوځای کېدو اعلان وکړ ، دادی چینایي لښکرې دعثمان باتور مقابلې ته لکه مېږیان راخوشې دي او راورسېدل...

عثمان باتور وویل:

- "ای اتلانو! ... زه لا تر اوسه مایوس او نا امېده نه یم ..."
- "جنرال صیب! ... لدې چینایي لښکرو سره چې اول او آخر یې نه معلومېږي مقابله ډېره ګرانه ده ..."

عثمان باتور په باوري توګه په مسکا وویل:

- "دمهربان زړه په لور ... دغره په لور ..."
- "څنګه؟ ..."
- "مصطفی حضرته! له هغه ځایه به یې بیا شروع کوو ..."
- "صیب ! .."

(c) ketabton.com: The Digital Library



- "پوهېږم چې څه وایې ، ته غواړې جګړه د اورمچې پر شاوخوا روانه وي ... شونې ده ، ترمرګه مقاومت وکړو ... دا مهمه خبره ده ... خو تردې مهمه داده چې ژوندي پاته شو او داسلام خاوره ترې پاکه کړو ... "

غرونو ته دپناه وړلو اعلان يې وکړ ...

غرونو ته 'ور روان یو ، زخمیان ، جنازې ، او غمونه مو له خان سره بار کړي، نا امېده نه یو ، مونږ خوشحاله وو ، ځکه دښمن ته مو ډېر تراخه خوندونه ورڅکلي وو ، ډېره مرګ ژوبله مو ور اړولې وه ، ډېره غټه بیه يې پرېکړې وه ، زمونږ مورال جګ وو ، هوډونه او ژمنې مو تازه وې ، غر یوځل بیا داتلو باتورانو په موجودیت رنګین شو ، دتکبیرونو ، لمنځونو او تلاوت لوړ آوازونه یوځل بیا پیل شول ، همدارنګه پوځي مانورې او تمرینونه شروع شول ... خندونکې داوه چې ,شانګ کای شیک، د (شین سي) هغه ملګری چې مرسته يې ترې غوښتې وه دبرطرفی فرمان صادر کړ ، پر ځای يې بل چینایي حاکم د "اوجون شین" په نوم مقرر کړ ، عثمان باتور موسکی شو ويې ویل:

- "پر نا اهله دتش لاسي سخاوت همدې ته وایي ، لکه زمونږ هېواد چی ددوی شخصي ملکیت وي! ..."

نوی حاکم "اوجون" ډېر سرسخت زړی او عصباني وو ، ددې لپاره چې خپله وړتیا يې ښودلې وي، دجرړې ویستو ډېر سخت او کرغېړن پلانونه يې تر کار لاندې ونیول ، ډېره بده پکې داوه ، چې دمثقفې فرهنګي طبقې دنیولو او زنداني کولو امر يې صادر کړ ، خصوصا دعلماوو لیکوالانو ، او شاعرانو ... ولو که وسله يې نه وي پر اوږه کړې ، لویه قصابي يې پیل کړه ،دردونکې کیسې يې دهېواد په هرګوټ کې کېدې... یوه ورځ غمجنه فضا په ټول غره خوره وه ، منصور درغا وویل:

- "دا کرغېړن هڅه کوي دامت روح ووژني ..."

په خواشینی يې وویل:

- "دفکر خاوندان (فرهنګیان) داسې حلالېږي لکه پسونه! ..."

ketabton.com: The Digital Library



- "هو ، دین او اصیل فکر داولس وجدان وي ... همدې لوی مجرم دنخښې په منځ کاري ګوزارونه پیل کړي ..."

منصور دږغا په ژړغوني حالت وویل:

- "داسې شاعر پېژنم چې همېش دبریاوو او راتلونکیو سبانیو هیلو اشعار او ترانې بې ویلې ..."
- "او زه داسې عالم پېژنم چې دخوانانو تر فکري بې لارۍ وروسته بې داسې اسلامي درسونه له منطقي استدلال او تحلیل سره وړاندې کول چې عقل به ورته حیران شو ..."
- "آن د مکتبونو شاګردانو چې په کوم مظاهره او لاریون کې بې ترانه ویلې یا شعار بې ورکړی دی ، دټول وژنې سیمو ته بیول کېږي! ..."

نجمه راغله ، ماشوم بې پر اوږو ده ، چغېږي ، هغه بې غلی‌کوي ، وبې ویل:

- "دافرهنګیان ولې تر اوسه هلته پاته دي؟ هغه فرهنګي چې وسله نه اخلي ، د جګړې لپاره غره ته پناه نه راوړي، رېښتونی حقیقي فرهنګي ندی ..."

په خواشینی مې وویل:

- "دا فرهنګیان خپلې ستونزې لري... زمونږ اولس په هرځای کې دوی ته ددوی وینا وو ، خبرو ته اړ دي ، ضرورت لري ، دوی هماغه د وسلوالو رول لوبوي کوم چې په غرونو کې دي، کېدای شي رول بې تر دوی هم ښه وي ... له همدې وجې خو ګورې چې غلیم بې تر نورو دمخه د مرګ ډګر ته روانوي .... خکه هغوی بې په خطر پوی دي ..."

چریکي جګړه له سره پیل شوه ، چینایانو درک کړه چې جګړه نده تمامه شوې ، په هر ساعت کې یو کس له غرونو څخه دبرید لپاره سیمې ته راکوزېږي ، یا یرغلګر تښتوي ، یا تأسیسات له منځه وړي او یا هغه امنیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګواښـوي چې غـلیم یو ریښتونی واقـعیت ګڼلی وو ، چـینایي بـری پر دردونو ، بربادیو او همېشنیو عذابونو واوښت ...
په همدې وخت کې د (ایلي) په سیمه کې د یوه مخلص هېواد وال تر مشری لاندې یو بل اولسي پاڅون پیل شو ، هغه لوی اسلامي عالم وو ، شېخ علي خان نومېده ، هغه له سختو خونړیو جګړو وروسته د (ایلي) ولایت ونیو ، او په (۱۹۴۵) م کال کې یې خپلواکي اعلان کړه ، شېخ علي خان دشرقي ترکستان اولسمشر شو ، عثمان باتور او نور مجاهدین ورسره یوځای شول ، دهمدې باتور جنرال عثمان د تجربو په رڼا کې د (آلتای) او (شوشک) ولایتونه هم آزاد شول ، چینایي دښمن ته ډېر سخت مالي او ځاني زیانونه واوښتل ، دشېخ علي خان ولسمشر په فرمان جنرال عثمان باتور د (آلتای) ولایت والي تعین شو ...
شېخ علي خان دا برى دهغو روسي وسلو په زور تر لاسه کړ چې یوازې دیوه شرط په منلو یې تر لاسه کړي وو ، هغه دا چې ترکستان به له چینایي وجوده پاکوي ، دا ممکنه نه وه چې چینایان دې په یوه ورځ کې تسلیم شي بلکې هغوی تر مرګه مقاومت وکړ ، دترکستان اسلامي پوځ شمېر زیات شو ، دهېوادوالو هیلې تر سختې اوږدې مبارزې وروسته بیا راژوندۍ شوې ...
مګر منصور درغا وویل:

- "دادی مونږ جګړه ګټو ، خو زه وېرېږم ..."

باوري مې وویل:

- "وېره هیڅ معنی نلري ، ازمویلې مو ده ، چې بری مو پر متو ترلاسه کېږي ..."

منصور درغا وویل:

- "بې وسلې متې څه ارزښت لري؟ ..."

پوی شوم ، له شېخ علي خان سره دروسانو دوسلو مرستو ته یې اشاره کوله ، منصور د روسانو پر ارادو شکمن دی ، خصوصاً پر جرمنیانو تر بري وروسته چې وړوکی هیواد مو له بلې غموونکې لوبې سره مخ نشي ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغه پنړوس لوبه چې د زورورو قدمـونـه يې يـوه او بـل لـــور تـه شـوټ کوي! ...

- "منصوره! نړۍ په بدلون کې ده ، دوهمې نړيوالې جګړې ټولو ته نه هېرېدونکي درسونه ورکړل ..."

اوړې يې وخوځولې وېې ويل:

- "بلکې بريمنې خواوې له کبر او غروره لاډک شوي دي ..."
- "کېدای شي دهېواد ښکيلاک مو په بل څه بدل شي ..."
- "مصطفی ! مطلب دې څه ده ؟..."
- "مطلب دا دی چې ښکېلاک به په دوستی واوړي ، يعنې سبا به له مرستندويه روسانو سره دوستان يو او د اوږدې مودې قرباني به مو عبث تللې وي! ..."

منصور واړه ماشوم ته وکتل وېې ويل:

- " زه ستا واړه ماشوم ته ګورم ... پوهېږې زه ددې لپاره هم غمجن يم ..."
- "هغه څنګه ؟..."
- "ته ګمان کوې يوازې مونږ دخطرونو او غميزو ډک ژوند تېر کړ؟... مګر په ټول باور درته ويلای شم چې دی او دده نسل به تر مونږ زيات بد مرغه وي ..."

نجمې خپل ماشوم په مورنۍ مينه تاوولو او سينې ته يې نژدې کولو ، وويل:

- "زما د زوی په اړه داسې مه وايه ..."

ما وخندل ، منصور هم وخندل ، خو خپله خبره يې له سره ونيوله :

- "مغلوبو چينايانو دسولې وړانديز وکړ ..."
- "وړانديز مو ونه منلو ..."

ما ته يې مخ کړ ، وېې ويل:

- "پدې خبر يې : روسانو پر ولسمشر زور اچولی ، چې د چينايانو د سولې وړانديز ومني! ..."

(c) ketabton.com: The Digital Library



په عصبانیت مې وویل:

- "په کوم اساس؟..."

منصور اوږې وخورولې ، وویل:

- "دچینایانو دوتلو او زمونږ دذاتي خپلواکۍ په اساس او پدې اساس چې په وظایفو کې دهغو پر ځای ناست یو!..."

- "تر دې نور څه غواړې؟..."

- "زه پوره خپلواکي غواړم او غواړم دا ووایم چې د روسانو شوق زمونږ د اولس تر شوقه هم ډېر وو ... مونږ دچینایانو پوره ماتې او بې قید و شرطه وتل غوښتل ... خو روسانو نور څه غوښتل چې په مطلب پخپله پوهېږې..."

نجمې ماشوم کړارولو ، وویل:

- "دکوم آرام ژوند خوبونه مو چې لیدل هغه ژوند راستون شوی دادی اوس خپلو کلیو او کورونو ته ستنېږو څه ناڅه هوساینه مو په برخه شوې ... راتلونکی راته ښکمرغه ښکاري ..."

منصور په لاس دنه منلو اشاره وکړه ، وویل:

- "دتور سرو خبرې همېش په نیک نیتی او خوشباورۍ بنا وي ..."

بیا مې غوږ ته رانژدې شو ، ورو بې وویل

- "عثمان باتور دروسانو ټول وړاندیزونه رد کړي وو ... او په زغرده بې پوی کړي وو چې زمونږ خپلواکي ذاتي ده او پخپلومنو موکتلې ده . لدې امله د چا فرمایشونو منلوته تیار نه بو ..."

له ډېر زړه تنګوالي مې وویل

- "چینایان به دروغې ... او مهمه همداده"

بیا بې اوږې وخوځولې ، وویل:

- "څوک خبر دي ؟ پدې څوک پوهېږي ؟ ..."

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (۱٦)

هغه مهال چې د هېواد دبرخليک په هکله دعام اولس نظر غوښتنې (ريفرينډم) ته تياری نيول کېده ټول ملک انګازو نيولی وو ، دمفکرينو او سياسي ډلو ترمنځ اساسي اختلافات ليدل کيدل ، لېکن د روسانو فشارونو داخلي تغيراتو ته خاص لوری ورکړ ، هغو خلکو په صحنه کې زيات تبارز وکړ چې دروسانو دمرستو او دريغ ستاينه يې کوله ، دجګړې د دوران وحدت اويو والي راز پدې کې وو چې جګړه مو دآزادۍ ، خپلواکۍ او اسلامي دائرې ته دوطن راګرځولو لپاره کوله... مګر د جنګ د ختمېدو وروسته اختلافات پيدا شول دمذاکراتو په پايله کې فيصله وشوه چې : "خانجي" د شمال غربي چين لوی حاکم به دشرقي ترکستان ستر واکمن وي ، درې ترکستانيان به يې مرسته کوي،هريو:احمدجان اوبرهان شهيدي مرستيالان او(ليومون شون) به يې منشي وي ، ددې موقتي ادارې کار به دمعاهدې په اساس لويو ټولټاکنو ته لاره برابرول وی. خلک يو بل ته غوږ غوږ شول ،دواړه مرستيالان او منشي دريواړه د روسانو وفادار ملا تړي دي ، کمونستان دي ، خانونه يې پر لوی شيطان پلورلي ، مګر مغرضو خپرونو هڅه کوله دا عيبونه ترې لېرې کړي ، او دقومي اتلانو رنګ ورکړي ، پدې نوم چې په مقاومت کې يې مهم رول لوبولی . جنګياليو ته يې روسی وسلې برابرې کړي چې اولسي پاڅون يې دبرې تر پړاوه رسولی دی . لدې سره سره هېواد دټولټاکنو په تياريو کې وو . خکه داولس رايه هر څه ټاکي هېڅوک نشي کولای هغه جنګيالي دوکه کړي کوم چې د اوږدو کلونو راهيسې له دښمن سره دغړې وهې . د وطن او خپلواکۍ دله منځه وړلو هڅې شنډوي ، په همدې دوران کې مو دا خبره تر غوږ شوه چې روسان غواړي د (ايلی ، آلتای ، شوشک) درې ولايتونه تر خپل واک لاندې راولي ، مګر رئيس علي خان په ډاګه اعلان وکړ چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- "مونږ به د وطن یوه لویشت خاوره چاته ورنکړو ، او هېچا ته به په دې دريو ولايتونو کې دلاسوهنې اجازه ورنکړو ، او که روسان په شا نشي مونږ دهمدوی پر ضد دجګړې بیا پیلولو ته تیار یو ..."

هېواد مو یو ځل بیا د روسانو په فتنو او دسیسو کې ډوب شو ، عثمان باتور د شونډو لاندې وویل:

- "دروسانو غوښتنې حد او حدود نلري ...."

رئیس علي خان ځواب ورکړ:

- "نړیوال له مونږ نه دخپلو جګړو دپرهارونو پر ګنډلو مصروف دي ... او ستالین سخت زړی رحم نلري ..."
- "جګړه مو پای ته ورسېدله ، خو ... پایلې ته ونه رسېدله ..."

رئیس علي خان ، عثمان باتور ته نژدې شو ، وبې ویل:

- "جنرال صیب ! خپل پوځ ته ورشه ... او تیارئ ونیسه ..."

پدې ورسېدم چې په سیاسي افق کې څومره وېروونکي خوځښتونه روان دي ، خپلې مېرمنې ته مې وویل:

- "نجمې : بیا دکډې بارولو وخت رارسېدلی دی ... داورمچي په لور به ځو ..."

په وېره یې چیغه وکړه :

- " هلته نه ځم ... یادونه یې دردوونکې دي ..."
- "خیر (کومل) ته به ځو ..."
- "هلته هم پخواني تهمتونه دي چې ما او تاته سَتونزې او ناخوالې را ولاړولای شي ..."
- "کاشغر ته دې خوښه ده؟ ..."
- "هو ، درسته ده ..."
- "هلته به له ماشوم سره یوځای ژوند کوو ... او زه به غرونو ته ځم ... ترخې ورځې یوځل بیا راستنېږي ، روسان خپله بیه غواړي ..."

(c) ketabton.com: The Digital Library



رئیس علي خان له خپلې کورنۍ سره د ولسمشر په ماڼۍ کې ناست دی ، له ماڼۍ بهر شپه آرامه ده ، خلک پخپلو کورونو کې په مرکو اخته دي ، له ټولټاکنو او نوې راتلونکې دورې غږیږي....

ماڼۍ ته یوه ډله کمونست ځوانان وسله په لاس ورننوتل ، دغدر او خیانت نښانې یې پر څېره او سترګو څرګندې وې :

- "څه غواړئ ..."
- "راځه له موږ سره ..."
- "زه رئیس یم ... تاسو لکه چې هېر کړم ؟..."
- "موږ پوهېږو ... یا به درومې ، او یا به دې همدلته وژنو ، بله لاره نشته ..."

شېخ علي خان له سترګو فنا شو ، خلک سره بونګېدل : ولې لکه د پخوا په څېر دجمعې لمانځه ته نه راووځي؟ ولې له هغو ملګرو سره نه لیدل کېږي چې دچینایانو په خلاف مقاومت کې یې ورسره تینګه ملا تړلې وه ؟... دشېخ په هکله دخلکو تر منځ انګازې او مناقشې ډېرې شوې ، مګر ددولت له خوا رسمي بیان خپور شو چې : رئیس علي خان مسکو ته دعلاج لپاره تللی دی! ...

خلک یو ځل بیا له استخباراتي کړو وړو سره مخ شول ... ددې بد نامې اداري کارمندان یوځل بیا په لارو ،کوڅو ، بازارونو ، کارخانو او کروندو کې خپاره شول ، په هغو دریو ولایتونو کې چې ستالین یې نیول غوښتل دروسي سیاست مخالفینو په نیولو یې پیل وکړ ، پدې دریو ولایتونو (ایلی ، آلتای ، شوشک) دمشهور ترکستاني کمونست ګوند د واکمنۍ فرمان صادر شو . کله چې روسي قواوې دآلتای نیولو ته راغلې ، عثمان باتور له خپلو سړیو سره څرګند شو ، د روسي قواو مخه یې ونیوله ، جګړه پیل شوه ، روسان هم په سړیو او هم په وسله ډېر وو ، له همدې کبله عثمان باتور د (غوجن) سیمې ته ولاړ ، په لوړو غرونو کې یې سنګرونه ونیول ، تر جګړې وروسته منصور درغا ګوډ ګوډ راغی ، ور ومې کتل او په ژړا شوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



- "څه وشول؟ ..."

په ترخه ملنډه بې وویل:

- "په هره جگړه کې یو گران څیز له لاسه ورکوم !... یوه ورځ مې لاس له لاسه ورکړ ، بله ورځ مې مېرمن له لاسه ورکړه ... په آلتای کې مې د آرامۍ په ورځو کې کونډه په نکاح کړه ... نه پوهېږم څه حال به بې وي ؟ اوس مې دادی بنۍ پښه په روسي مردکي ولگېده ، سره لدې چې لاتر اوسه مې د روسي مرستو وسله پر اوږه ده ، دا څه عجایب وینو پدې خپل عجیب ژوند کې! ... څنگ ته مې ولوېد ، زگېروي بې کول ، اوبه بې داسې غړپولې لکه په اونیو بې نه وي چښلې ، بیا د پښې په پټۍ ولگېد ، رغوله بې خاورې او ختې یې ترې پاکولې ..."

بیا بې لوېدیځ لورته دماښام پر مهال دهسکې خونړۍ لمنې ته کتل ، وویل:

- "هر کله چې شفق ته گورم ، آخرت رایادېږي ... شفق راته پای او انتها رایادوي ..."
- منصوره! ولې دادومره غمونه ؟ ..."
- "کولای شې په همدې شیبه او لدې وروسته نور راته ناکام او مغلوب ووابې ..."

بیا بې دلرغونو ترکستاني سندرو په ویلو پیل وکړ ، چه مفهوم بې داسې وو:

( گرانې هسک په ستورو ښکلی دی
مکرجانان دې ، غمونو شپېلولی دی
نرۍ غاړه هسکه ده
را روانه سرمسته ده
دغلامانو له ساحله
زېور بې ده ارزانه
خو دا یکې روښانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوډاګیان او کمونست خاینان وتښتېدل ، جنرال باتور خپل تسلط یوځل بیا پر ولایت ټینګ کړ...

په همدې ورځ منصور درغا وخندل وېې ویل:

- "دا مې دکونډې نېکمرغي ده ... نژدې وه ، دوهم ځل بیا کونډه شي ..."

ښار ته ننوتلو با حجابه ښځې راووتې ، غازیان یې په سندرو استقبالول ، نارینه وو دخوشحالۍ غږونه پورته کول ، همدارنګه ماشومانو حماسي ترانې ویلې ... هر کله چې بري ته رسېدلي یو ، زمونږ دملک حقیقي څېره څرګنده شوې ، رونې ، خوشحاله مخ ، دمسجدونو منارې ، دتکبیرونو او تسبېحونو آوازونه ترې پورته کېږي ، داسې محسوسوم چې نیکونه مو ، لکه : امام بخاري ، امام ترمذي ، البیروني ، فارابي او ابن سینا ، له خپلو غټو پګړیو سره دلیارې پر جګو څنډو ولاړ دي ، زمونږ جهاد ته هر کلی او مونږ ته ښه راغلاست وایې ...

داسې محسوسوم چې تېربرم بیا راژوندی شوی ، زړه مې ډاډه دی او روح مې ډېرې هیلې له ځان سره لري ...

(۱۷)

منصور درغا په ویرجن حالت وویل:

- "زمونږ مثال دهغه چا دی چې سمندر لاهو کړی وي ... هلته پخپلو متو د مرګ له ښکرو سره دغرې وهي ، ګوزارونه کوي ، کمزوری کیږي ، له څپو سره لاس او ګریوان شي ... بیا ډوب شي ، هلته دسمندر په تل کې په تورو تیارو کې له ژوند سره په غمجن حالت چوپه خوله مخه ښه کوي ... آه ... ای مصطفی حضرته! مونږ همداسې یو ، ایا ګمان کوې ، پس له مرګه به موځوک یاد کړي ؟ ...."

(c) ketabton.com: The Digital Library



منصور درغا خبرې کولې ، هڅه یې کوله دډوب شوي کس تمثیل وکړي، زما په څنګ کې ناست وو ، په ټول جدیت یې تسبیح اړولې ، بیا یې پداسې حال کې خپله هماغه وروستۍ پوښتنه واچوله چې سینه یې الوتله، لکه په ربښتیا چې دسمندر له څپو سره په ډغره وي... خواب مې ورکړ:

- "له مرګه وروسته دیادولو او نه یادولو ګټه او تاوان څه دی ؟ ..."

په ټول جدیت یې وویل:

- "دالوی ارزښت لري ...."

- "څه ارزښت لري ؟ ...."

- "که چا یاد نکړو او هېر شولو ، معنا یې داده هغه درنه قضیه چې مونږ هغې لپاره قرباني ورکوو ، مړه شوې ده ..."

اوږې مې واچولې ومې ویل:

- ،"سري مړه کېږي ... قضیه نه مړه کېږي ..."

منصور درغا په ملنډنۍ خندا وویل:

- "خو زه وایم قضیه له اشخاصو سره تړلې وي ... که اشخاص وي قضیه به هم وي او که نه نو قضیه به هم نه وي

- " خوجه نیاز او جنرال شریف خان شهیدان شول ، دکومُل امیر وفات شو ... مونږ نه امیران یو او نه جنرالان ... مګر قضیه لا هماغسې ژوندۍ ده ... "

- "مګر وا اسفاه! ... مونږ لا اوس هم له طوفاني څپو سره ډغرې وهو ، ګمان کوې ساحل ته به ورسېږو ؟ یا به دنجات کښتۍ راشي ؟ او که به په خوفناک تورتل کي په چوپه خوله د مرګ کومي ته ورځو ؟ .... "

تردې دمه (آلتای) زمونږ په لاس کې وو، عثمان باتور وسلې او مهمات برابرول ، پوځیان یې تیارول ، مجاهدین به له هغو لوریو چې دښمن به پرې تازه قبضه کوله زمونږ خواته را روان وو ، مفلس شوي سودا ګر به راسره یوځای کېدل ، همدارنګه هغه شتمن چې نادارو او فقیرانو به ترې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مالونه اخیستي او لوټ کړي وو، او همدارنګه هغه بې وزلي چې بې مزده فقط په یوه خېټه ډوډۍ سختو کارونو ته لکه دسرکونو او اورګاډي پټلۍ جوړولو ته په زور بېول کېدل، او هغه علماء چې له رنګ رنګ عذابونو او کړاوونو سره مخ ول، دا ټول مونږ ته راتلل او له مونږ سره ملګري کېدل... عثمان باتور دهمدې ورځې په راتلو پوهېده، روسان داخل په ډېر لوی شمېر راغلي وو، لکه دسره سېلاب په آلتای ورګډ شول، دنړیوالې لویې جګړې وسایل او جنګیالي ورسره وو، جګړه ډېره سخته او خونړۍ وه، آلتای بې ددوهم ځل لپاره بیا ونیو، مونږ یو ځل بیا غرونو او سمڅو ته وختو... دا ځل مو "باریکول" دمرکز په توګه غوره کړ، عثمان باتور به ویل:

- "ترمرګ پورې ددښمن مقابله...."

منصور درغا موسکی شو، وینې مې له سرنه بهېدې، زما زخمونه بې پټې کول وویل:

- "داسې بریښي چې په تدریجي مرګ وژل کېږو...."

اوښکې مې روانې وې، ومې ویل:

- "په دوهم ژوندون باور نلرې؟..."

منصور دآسمان په سرې چوپتیا مزین شویو لمنو ته وکتل، وویل:

- "زه په دوهم ژوند باور لرم... مګر په آخرت کې ژوند له کینې پاک وي... د زړه کینه مو په دنیا کې رانه پاته شي... زه له چینایانو او روسانو سره سخته کینه لرم... که دا کینه رانه ورکه شي، دژوند حقیقي خوند به مې له لاسه ورکړی وي زه له الله نه غواړم چې له کینې سره مې را ژوندی کړي... دې ابلیسانو هغه لوی جنایتونه کړي چې دمنلو ندي... آه... مصطفی!... په خینو جګړو کې مو مجاهد ورونه بندیان ددوی لاسونو ته ولوېدل... ما ته یاد شي... شوبلو پورې بې وتړل!... بیا به بې دسترګو او غوږونو په نښه ویشتلو پخپل منځ کې مسابقې کولې... ماته ښه یاد شي!.... په ملنډو به بې ویل: وروستی

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنګیالی دوروستي پوځي په کولمو زندی کړئ ... او عملاً بې زمونږ ځینې علماء دبعضو جنرالانو په کولمو زندی کړل ... ممکنه نده ، دوی بشر ونومول شي...."

دماتې فشار پر مونږ ډېر سخت تمامېده ، روسانو نوي چینایي حاکم سره لاس یو کړی وو ، دی هم لکه دهغو په شان کمونست وو ، زمونږ جرړې ویستل بې غوښتل ، مونږ به ښي او کیڼ لور ته سترګې غړولې ، خو کوم دوست او ملګری مونه لیده...

عثمان باټور آسمان ته کتل او په ګوته بې اشاره کوله :

- "الله له مونږ سره دی ..."

ستړیو ، ستومانه مجاهدینو چې په وینو ککړ ول دتکبیر غږونه پورته کړل:

- "الله اکبر ..."

په همدې ورځ منصور درغا راته وویل:

- "جګو دنګوغرونو ته روان یو ، کېدای شي بیا ښارته راشو او کېدای شي رانشو ، په یوه لنډ چکر څه نظر لرې ؟ زه غواړم له خپلې مېرمنې ډاډه شم ... ته نه غواړې خپل ځوی او مېرمنووینې ؟ ...."

په رښتیا ، زه دنجمې او ماشوم چې اوس به غټ شوی وي دلیدو سخت شوقمن وم ، مګر مونږ مجاهدین یو ددښمن تر تعقیب لاندې یو ، که د دښمن لاسته ولوېږو دحتمي مرګ په معنا ده ، په لوړ آواز مې ورته وویل :

- "ښار راته داسې ښکارې لکه دمرګ کنده ..."

- "مصطفی : له مرګه وېرېږې؟ .... راځه چې ځو ... یوه خوا بله خوا به پټېږو ... د روسانو په لاس جوړه شوې نوې دنیا به وګورو، په ښار کې به سره بیرغونه ووینو ... او دحزب شعارونه ... دښار د رثاء او مځه ښې ترانې به واورو ، مصطفی ! ښارونه لکه بشر داسې دي ، دردېږي او غمېږي ، مترنم اشعار وایي ، او خپل سر مځ وهي ... ښار ژوندی موجود دی ... بشري موجود دی ... رښتیا درته وایم ..."

(c) ketabton.com: The Digital Library



داوړدې لارې سفر مو بې تذکرې او بې له کومې پېژند پاڼې پيل کړ ، کله دشپنو په جامه او کله بيا دسوداګرو په جامه يوه مرۍ ډوډۍ له خلکو غواړو او کله بيا له جواليانو او مزدورانو سره په کار ورګډ شو ، او کله بيا په مظاهرو کې برخه واخلو چې دکمونيزم په ګټه او دارتجاع او مرتجعينو په خلاف شعارونه ورکوو ! آن چې کله دخاين جنګيالي "شريف خان" ! په لور دتيرو په ويشتلو کې هم برخه واخلو ، مګر دربنتياوو ګوزار به مو نه کاوه ، دلوبې ګنې ګونې په منځ کې به وو ، تيره به مو دسرو لښکرو سرونو ته برابروله ، که روسان وو او که ترکستاني کمونستان ، هر څه ګډ وډ شوي وو ، په هېواد کې مو عجيب غوبل روان وو ، قرآنکريمونه ، تفاسير ، دحديثو کتابونه ، خصوصاً زمونږ دلوی نيکه امام بخاري کتاب ، او داسې نور دفقهې او توحيد کتابونه ، ډېر زيات شمېر يې پرچې پرچې په لارو او سرکونو پراته وو ، پوځيانو به دځان ګرمولو لپاره اور ورته کړ ...

آخر تردېرو سختو سفرونو وروسته هغه کورته ورسېدو چې دمنصور درغا مېرمن پکې اوسېدله ، تر ماښام لږ مخکې وو ، منصور لومړی ننووت ... ګورم چې په لوړ آواز خاندي ، آن چې نژدې په شا پرېوزي ...

- "مصطفی ! راشه وګوره ... ښځې دحياء پړونی غورزولی دی ..."

وامې ورېدل چې په ژړا کې ورته وايي :

- "منصوره ! راغلې ؟ ما په مړو کې شمېرلی وې ..."

- "دادې څه اغوستي دی ؟ !..."

ورته رانژدې کېدله ، وېې ويل:

- "دالله لعنت دې پر سرو شيطانانو وي ، هغوی مې پړونی دسرک په سرڅيرې کړ ... يواځې زمانه ، له ټولو باحجابو سره يې همدا کار وکړ ، بورقه يې رانه وتښتوله ، اور يې ورته کړ ... په کميس يې قيچي ګډه کړه ، رالنډ يې کړ ، او لستوني يې هم قيچي کړل ، هغوي مونږ لپاره مدنيت او پر مختګ غواړي! ..."

په لنډو ، تورو جامو لنډ لستونو چې نژدې تخرګونه ترې ښکارېدل ، لوڅ سر ، دکونډې دا منظر زما دذهن نه هېرېدونکی تصوير دی ، چې په يوه

ketabton.com: The Digital Library



وخت کې هم خندوونکی وو او هم ژړوونکی ... او تر ټولو لویه بلا همدا وي چې په یوه وخت کې دواړه حالته ولري، دژړا هم او د خندا هم!...
منصور خپله ښځه راونیوله ، وېې ویل:

- "دغه نوی ترکستان دادی ..."

ښځه سخته شرمېدله ، سخت یې ژړل ، مګر منصور ځانته رانژدې کړه ، وېې ویل :

- "زما ګرانې ! مه خفه کېږه ... دلته به ډېره موده نه پاته کېږو ... هغه لورته به ځو چې ښځې هلته دخپلې خوښې اغوندي ... او په غرونو کې ټوټې شوي قرانکریمونه نه ترسترګو کېږي ، او څوک نشي کولای بخاري شریف تر پښو لاندې کړي ..."

منصور مې دسبانې لیدنې په هیله پرېښود ، نجمې ته ډېر خوشحاله وم ماشوم راباندې ډېر ګران شوی وو ، کوم چې اوس به منډې وهې ، لوبې به کوي ، پلار به راته وایي ... سبحان الله دې ښکلي خندان ماشوم مې څومره د،زړه په تل کې ځای نیولی؟!...

دښار شپه څومره له خوف او خطره ډکه ده ، خصوصاً ګر روسي حکم لاندې ... تر سهاره پر ګرځیدا بندیز دی ، ښار له هغو څیرو ډک دی چې پخوا یکې نه ول ، ښځې ، نر ، ماشومان ټول نوي وو ، باور وکړه مونږ تردې مخکې دا نه وو اورېدلي چې روسان او چینایان په دومره لوی شمېر کې ترکستان ته راروان دي ، په عین وخت کې په سلګونو زره دترکستان اصلي وګړي دسایبېریا په څېر لېرې ځایونو ته لېږدوي ، دوی په ترکستان کې تاسیسات مارکیټونه او دکروندې مځکې تر لاسه کوي او خپلوي یې، نویو راغلیو کډوالو ته کورونه ، شرکتونه ، او دفحشاء ځایونه جوړوي... دآزادی او دیموکراسی ترعنوان لاندې ټول ملک له چینایي نجونو ډک وو ، په مختلفو ژبو وړو کتابونو ټول کلبونه او سرکونه ډک کړي وو ، دا کتابونه په ځانګړې توګه زمونږ هېواد لپاره وو ، دې کتابونو له نړیوال سوسیالستي انقلابه خبرې کولې ، همدارنګه دبرخلیک په ټاکلو کې دوګرو له ونډې څخه ، داسې اتلان به یې یادول چې مونږ نه وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوربدلي، عثمان باتور ، خوجه نیاز ، او رئیس علي خان به بې په بدو نومونو یادول ، لکه لار وهونکي ، داړه ماران ، غله او داسې نور ... له تیاري کډوال "برهان شهیدي" څوک چې درئیس علي خان پر ځای ناست وو ، او دکمونستانو او نړیوال انقلاب او د روسانو دبرم او عظمت ترانې بې ویلې ، لوی ملي اتل جوړ کړی وو ، او د اولس ځورونکی ، دپرمختک مخکښ ، د آزادیو پلار او داسې نور القاب یې ورکړي وو !...

دا هغه ښارونه وو چې پخوا ما لیدلي وو او ښه پکې بلد وم ، نه بې وکړي هغه پخواني وکړي ، نه بې ماشومان هغه پخواني ماشومان وو ، او نه بې نیم بربنډې ، او په جامو کې بربنډې ښځې ! خپلې ښځې وې!... آخر هغه لور ته وخوځېدم چې زما مېرمن پکې هستوګنه درلوده ... غمجن زړه مې دمور او زوی لیدو ته له خوشحالۍ توپونه وهل ... کله چې دنجمې دمخ تصویر راپه زړه شي ، ډېره خوشحالي زړه ته راشي ... دروازه مې ورو ، ورو وټکوله ... دپښو درونډ آواز مې تر غوږه شو ... کله بې چې دروازه پرانستله ، نژدې وو بې هوښه شم ...

- "ته څوک بې ؟ ..."

په دواړو غټو سرو سترګو ، نري سور مخ ، ببر سر ډک وېښتان چې يو نيم سپين تارونه پکې ښکارېدل او غټو برېتونو چې دسوپ څاڅکې پرې زوړند وو ، راوکتل ، وبې ویل :

- "ته نه پوهېږې چې زه څوک یم ؟ ټول مې پېژني ... زه د کارګرانو هغه رئیس یم چې لوی لوی جاګیرداران او پانګوال مې نیولي او دقانون منګولو ته مې سپارلي ....."

ښکاره وه چې جاهل انپر وو ، سره لدې چې په محلي ژبه غږېده ، خو له څېرې ، ظاهري شکل ، هغه سخت چلن چې پکې وو ، دنفرتونو او کرکو له هغو کتنو چې له سترګو بې اوربدلې معلومېده چې پردی دی...

- "ملګریه! داسې ښکاري چې لاره دې غلطه کړې..."

(c) ketabton.com: The Digital Library



داېې وویل: ، نور بې دروازه وتړله ، آه ... که کور خبرې کولای‌شوای ، څه حقایق به بې ویلي واي ، او ښکاره ده چې دا یو ووړ ښکېلاک وو ... په زړه کې مې مبهمه وېره ننوتله ، مېرمن اوزوی مې چېرې ولاړل ؟... باید په سوچ او فکر سره قدم واخلم ، که نه نو وبه نیول شم ، او که زندان ته واچول شوم ، بیا به تر عمره پکې پروت یم ... له هغې پرېشانۍ سره چې زما پر روح حاکمه وه ، او له هغه داخلي پاخون سره چې زړه یې راسوځاوه ، بیا مې هم له صبر او زغم څخه کار واخیست ... په هغه پخواني کلي کې چې تقریباً ټول وران شوی وو ، په ګرځېدو مې پیل وکړ، دکلي خینې بې وزلي خلک مې پېژني ، زوی او مېرمن مې هم پېژني ، هلته یو سپین روبی خپلوان مې په مسجد کې خادم دی ، هغه نایي هم پېژنم چې دسرک پر غاړه یې دکان دی ، هغه مې د زوی طلایي وېښتان جوړول ، کاش چې یو موټی وېښته بې ورته ساتلي وي!... مګر مسجد بند وو ، له هغو خلکو چې ما پېژندل یو مې هم ونه موند ، نابې ته ولاړم ، دیوه سړي وېښتان بې جوړول ، په یوه خوا بې راوکتل چې سترګه په سترګه شولو ، غوښتل مې په پخوانۍ مینه روغبړ ورسره وکړم ، مګر ډېر ژر بې سترګې واړولې ، او زما راتګ بې بې ارزښته وباله ، داسې مې وانګېرل چې نه غواړي له ماسره خبرې وکړي ... سوچ مې وکړ ... اوس څه وکړم؟... درسته ده ... نه ... دلته دلرګي پر زاړه چوکۍ باید کېنېنم ... څه چې کېږي هغه به کېږي ... ومې لیدل چې نایي پخپل کار کې تېز شو ، آخر بې خپله اجوره واخیستله ، سړی ولاړ ، ماته بې اشاره وکړه ... مخکې شوم ... دتللي سړي پر ځای کېناستم ...

- "عبد الحق خانه! څه تېر شول ؟ ..."

پداسې حال کې چې زما په ګڼو اوږدو وېښتانو بې کار شروع کولو وویل:

- "دلته دې څه کول؟ ... دعثمان باتور کسان چې ونیول شي سمدستي وژل کېږي ، ښار ته څنګه داخل شوې؟ پکار ده ډېر ژر له ښاره و ووځې ، که نه نو ژوند به له لاسه ورکړې ..."

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهندارۍ له مخې مې لیدل چې د خونړي ستالین عکس پردېوال ځړېدلی وو ، له هغه وړوکی بل عکس دملګري! لینن وو ، او تر هغه وړوکی بل دبرهان شهیدي عکس وو ...

په ملنده مې وویل:

- "ملګریه ! څه مو ولیدل او څه درباندې تېر شول؟..."
- "ملګری نه یم ... مګر یو ناېې یم چې غواړم ژوند وکړم ..."
- "نجمه کومې خواته ولاړه؟ ..."
- "هغه وتښتېدله ..."

په حیرانتیا مې و روکتل :

- ."ماشوم بې ورسره واخیست ، نوره غیبه شوه ، پوی نه شوم په کومه خوا ولاړه ..."

ځمکه راباندې وګرځېدله ، قیچي بیړني غړونه وباسي ، عصبانیت مې لازیاتوي ، عبد الحق مې په دردونو او لیونی غوسه پوی شو ....

- "مصطفی له حکمت نه کار واخله ... مونږ پداسې شرایطو کې واقع یو چې ترحم نلري او الله نه پېژني ..."

په ورو مې وویل:

- "ښځه مې چېرته ولاړه ؟ ..."
- "داسې ښکاري چې کومل ته تللې وي ..."
- "کومل ته ولې ولاړه ؟ ... دا هم که کومل ته روغه رسېدلې وي ... ډېرې کورنی هر لورته خورې ورې او پرچې پرچې شوې ... هېواد ته مو افسانوي لوی لاسونه غځېدلي ، په لوی‌اکثریت لوېې کوي، یو پر بل بې ګډوي او زېښني بې ، ښې او کېڼ لور ته بې ګوزاروي ... نه پوهېږم څه ووایم ...څنګه تعبیر وکړم ..."
- "دا درته غوره ده چې لدې ولایت نه ولاړ شې ، دا ولایت د وروستي ځل لپاره دروسانو لاسونو ته لوېدلی دی ..."
- "دا ناممکن دی ..."

دنابې مخ سور شو ، وارخطا شو وبې ویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



- "مصطفی ! غږ دې مه اوچتوه ... ته له هتلر او جرمنیانو پیاوړی نه یې ... مونږ یو وړوکی اولس یو چې له هرې خوا بلا ورباندې راتلای شي او وېره یې له څلورو خواوو کلابندولای شي ..."

ږ وخت مې دعبد الحق تر لاس لاندې تېر کړ ، مخکې له دې چې له دکانه یې ووځم زما په سینه یې دکمونست ګوند نښان وځړاوه ویې ویل:

- "دا نښان به دې له ډېرو ستونزو او کړاونو وژغوري ..."

دسینې له سره مې وشکولو ، په قیچي شویو خورو ورو وینتانو کې مې وویشت ، لاړې مې ورتو کړې او په پښه ورباندې وختم ، له دوکانه و وتلم... نه پوهېدم ، چې چېرې ولاړ شم ؟

زه په خپل هېواد کې لکه پردئ ، خپله خاوره راته پردی برېښي ، دوستان مې په تېښته دي ، ښځه مې د لویو پښو په تل کې ډوبه شوه ... راخه چې منصور درغا ته ستون شم او شپه له هغه سره وکړم ... کله چې دمنصور کورته ننوتم ، ګورم چې په یوه ګوټ کې ناست دي مخامخ ورته ښځه ناسته وه ، ددواړو ترمنځ ډوډی ایښې ده چې یوه هم لاس ندی ور وړی ... زما په ناڅاپي ورتګ حیران شول ، منصور په غمجنه راوکتل ، ما ورته کړه:

- "هېڅوک مې ونه موندل! ..."

سر یې وخوځاوه ، ویې ویل :

- "هغه او ماشوم به دواړه تللي وي؟ ..."

- "هوکې ... هېڅوک نه پوهېږي چې په کومه خوا! ..."

منصور پداسې حال کې چې رنګ یې الوتی او برېتونه یې رېږدل وویل:

- "دا ښه کار شوی..."

زه یې په مقصد ونه رسېدم ، مګر هغه چې حسرت یې زړه ځیراوه وویل :

- "خبر یې؟ ښځه مې له ضایع کېدو او مرګه ژغورل شوېده ، خو په لویه بیه !! ..."

- "کومه بیه ؟..."

(c) ketabton.com: The Digital Library



- "هغې به روسي بلشویکان مېلمانه کول ... پوی شوې ؟ کورته را ننوتل ... ومې لیدل چې شراب یې څښلي وو ، نېشه ول ، راننوتل ... پوی شوې؟ زه لکه وېرېدلی مورک پټ شوم چې ومې نه وژني ، هغې ... هغې... (زما ښځې) لوبې ورسره شروع کړې او ښکلول یې!..."

زما په خاطر یې مېرمنې ته وویل:

- "را وړاندې شه! خبرې وکړه ..."

هغې چې ستونی یې نیول شوی وو ، په لوړ آواز وویل:

- "غوښتل مې ومرم ، خو بې غیرته شوم ... په زوره یې ونیولم دتېښتې او پټېدو ځای مې ونه موند ... یا الله ولې دې ځانته ونه غوښتم! ... چې دهغو لاسونه نه وای راغځېدلي ... منصوره! په ما رحم وکړه ... هغو د تهونو مشرانو او علماوو لونو او مېرمنو سره ورته عملونه کړي دي ... فکر نکوم حقیقت مې لیدلی وي، همېش په خیال کې یم ، داسې برېښي چې خوب وینم ..."

منصور دڅغا چې اوښکو یې مخ لوند کړی وو ، مگر دخوفناکو تهوکو زیار یې وېستلو ، و یې ویل:

- "درسته ده ! ... دا شپه به دلته تېره کړو ... سبا به درنه څو ... ته نوره طلاقه یې ... او .... نور نو څه ووایم ؟ او څوک ملامت کړم ؟!..."

بیا یې مخکې ، پورته آسمان او ماته وکتل ... او نور یې په قهقهه او بې ځایه خندا ګانو پیل وکړ ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (۱۸)

مونږ پر عمومي سرک روان وو چې منصور درغا دشوندو لاندې وويل:

- "غوښتل مې خپل ژوند ته دپای ټکی کېږدم ، مگر فکرمې وکړ چې خان وژنه هم بزدلي ده او هم دتېښتې او میدان پرېښودو یوه بڼه ده ، او زمونږ دگران دین له اصولو سره هم مخالف کار دی ... مصطفی ! دې وضعې ډېر وردردوله ، چې په یوه وخت کې مو جگړه هم وبایلله ... شرف او عزت هم ... خپل ځان راته ډېر کوچنی او سخت مظلوم ښکاره شو ... داسې راته برېښي چې مستقیماً زه پخپله ددې ټولو پېښو مسئولیت پر غاړه لرم ... یوازې زه مسئول یم ، یوازې زه ... همداسې راته ښکاري ...."

منصور دسختې وژونکې مایوسی ښکار وو ، پوهېدم چې هغه څومره د روحي مشکل تر فشار لاندې دی ، هر څه يې په نظر کې دهلاکت او نابودۍ خواته روان وو ، لکه: جهاد... دعزت خلک ... کنبڅې ، منارې ، اسلامي ارزښتونه چې دهغو تر سیوري لاندې يې ټول عمر ژوند کړی وو او داسې نور ... تر ټولو دردوونکې دا وه چې مېرمن يې فاحشه شوې وه. پداسې حال کې چې زما غم او درد ترې کم نه وو ، ومې ویل:

- "ته ځانته له وسې پورته تکلیف ورکوې ... ته لا څوک يې چې پدې سختو شرایطو کې ددې ټولو پېښو مسئولیت پر غاړه ولرې؟! ته لاڅوک يې چې له لوېدیځه د روسانو او له ختیځه دچینایانو مخه ډپ کړې؟ منصوره ! ته یو کمزوری فرد يې ... او خپل فرض دې تر سره کړي دي..."

دزړه له تل نه يې آهونه وایستل ، دلېرې اوږدې لیارې په لور يې کتل ، وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- "فرض مې؟ فرض به مې تر مرګه پر اوږو وي ... تر هغې چې ژوندی یې باید یوځه وکړې او کله چې دې مایوسي په فکر کې ځای ونیو ، او کارکول یې ګټې دروبرېښېدل ، په هماغه شیبه دې پدې امانت کې خیانت کړی ...."

پوی شوم چې دمېرمنې غمیزې ورباندې ډېر ژور اثر کړی چې له هر څه یې زړه ورمات کړی ، نو ومې ویل:

- "ښځې ډېرې دي..."

دلیونو په څېر یې وخندل او وویل:

- "زمونږ دهېواد وقار او عزت تر پښو لاندې شو ... نه پوهېږم څنګه به ژوند کوو؟ څنګه به خوراک څښاک او اولاد پالنه کوو؟..."

له لېرې مو لویه ډله خلک ولیدل چې بیلونه او تبرونه یې په لاسو کې دي ، پولیس لاندې باندې کیږي ، له یوه لاروي مو وپوښتل :

- "دا خلک څه کوي؟ ..."

- "کمونستان غواړي مسجد تصرف کړي او د اومو موادو زېرمتون یې کړي ... مګـر دمسجـد امام اجازه نه ورکوي او مخالفت کوي ... کمونستانو دمسجد امام ونیو مسجد ته په مخامخ ونه کې یې وتړلو ، ملنډې پرې وهي لاړې ورتو کوي او په لښتو یې وهي ... وینې یې له بدنه روانې دي ..."

ددې خبرې په اوریدو پخپل ځای ودرېدم ، منصور وویل:

- "ولې ودرېدې ؟ ..."

- "پکار ده له بلې لارې ولاړ شو ..."

منصور په وېروونکې توګه وخندل ، وویل:

- "توپک او کارتوس لرم هېڅ خواک به مې دتلو لاره ډپ نکړای شي ..."

خپل لنډی توپک یې تخرګ لاندې پټ نیولی وو ، مخکې لدې چې په مقصد یې پوی شم ، ګورم چه په منډو دی ، مسجد ته د شا له لوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتاوېږي ، هلته موضع نیسي او پټېږي ، زه بې ځارم چې ورسره ملګری شم ، مګر رانه ورک شو ، پیدا مې نکړ ، په همدې ترځ کې چې کمونست خوانان دمسجد امام په تیږو ولي ، خندا ګانې کوي او ملنډې وروباندې وهي ، څو دزې وشوې چې له امله بې درې کمونستان دامام ترڅنګه پر مځکه ولوېدل ، وینې ترې روانې وې ، مظلوم امام چیغه کړه:

- "الله اکبر ... دا د الله انتقام وو ..."

خلک دمسجد بام ته په کتو شول ، منصور درغا دمسجد پر چت باندې دګنبځې او منارې تر منځ ولاړ وو ، ماته بې یوازې سر او ټوپک ښکارېدل، وامې ورېدل چې په لوړ آواز بې وویل:

- "ای‌دبیزو بچیانو !... دا دالله کور دی ... ستاسو پلیت قدمونه به پرېنږدم چې وردننه شي .."

زړه مې په بدن کې ډوب شوی وو ، سختې وېرې نیولی وم ، منصور دمرګ کومې ته نژدې شوی وو ، نه پوهېدم څه وکړم ، ډزو بې دوام وموند ، ډېر شمېر کمونستان ولګېدل ، ځینو پولیسو او حزبي کمونستانو دی ولید او شور بې جوړ کړ:

- "خائن ، خائن هلته دی ، مرتجع هاغه دی ..."

ګنبځه او مناره دمردکیو تر باران لاندې ونیول شوه ، چوپتیا خوره شوه ننداړچیان هر لور ته وتښتېدل ، څو دقیقې وروسته دمنصور سر یوځل بیا رابښکاره شو په جګه بې ویل:

- "ای‌دماوو اولینن بچیانو ! دا دالله کور دی ، څو ژوندی یم رانه به داخل نشی ..."

دډزو تبادله له سره پیل شوه ، یو شمېر نور کمونستان هم پر مځکه ولوېدل ، ځینو بې لاسي بمونه اچول... دمسجد له سره لوخړې پورته شوې ، چاودنې روانې وې ، منصور به هرو مرو شهید شوی وي لږ وروسته به مسندوی پوخ هم راشي ، هغه پر بایللي جګړه ښکېل شو ، نه پوهېږم ولې بې دا کار وکړ ؟ کمونستانو په سلګونو مسجدونه قبضه کړي دي ، دده مقاومت به دلته دتراخه واقعیت په بدلون کې څه ونډه ولري؟! پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمومي سرک ولاړو خلکو په سترګو کې مې خوښي محسوسوله ، پر هغه سړي وياړېدل چې دمنارې تر شا ولاړ او دالله له کوره دفاع کوي ، په څو دقیقو کې بیا خلک ډېر شول ، نندارچیانو پر کمونستانو دتیږو ، ډبرو ګوزارونه پیل کړل ، دالله دکور په حمایت کې وړوکی غونډې انقلاب او پاڅون شروع شو ...

کمونستانو بې له تېښتې بله لاره ونه موندله ، منصور د منارې څنډې ته ودرېد او په لوړ غږ بې وويل:

- "الله اکبر ... الله اکبر ... الصلاة جامعة ... الصلاة جامعة..."
( لمانځه ته راشئ ... لمانځه ته راشئ ...)

دبې وزلو مظلومانو له سترګو اوښکې روانې وې ، ګورم چې په ونه ترل شوی امام له ډېرو خوشې شوی ، خپلې جامې اغوندي ، داوبو لور ته روان دی چې اودس وکړي ، منصور دمنبر وخواته راغی وې وويل:

- "ای ورونو! ... کبدای شی دامې دژوند وروستی لمونځ وي ... تاسو به دالله کور بې دفاع نه پرېږدئ ... له هر څېک به دفاع کوئ ... دا هره تيږه او ډبره چې پکې ده ... دلوی مفهوم ترجماني کوي ... دلوي الهي مفهوم او کلام ترجماني چې په سلګونو کلونه بې دعقیدی تر سیوري لاندې پاتې شوي يو ... راځئ چې الله ته دوه رکعته لمونځ وکړو ..."

دوژل شویو ، ژوبل شویو او تښتېدليو کمونستانو وسلې دځينو مسلمانانو لاسونو ته ورغلې وې ، ماته هم اوتومات ماشينداره له يوه اندازه مرميو سره لاسته راغلې وه ، له لېرې مې وليدل چې دروسي نښان درلودنکي شوبلې او ګاډي راروان دي ، مسجد او د مسجد خلک بې تر اور لاندې ونيول ، دکمونستانو او مسلمانو مبارزينو تر منځ نا انډوله جګړه پيل شوه ، له خان سره مې وويل:

"عثمان باتور مې هلته په "باريکول" کې انتظار باسي ، پکار ده خان وباسم ، دمنصور درغا په لټه کې شوم ، ګورم چې دمسجد په دروازه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پروت دی ، ټوپک یې په ښي لاس کې دی او کیڼ لاس یې تر څنګ دوینو ډنډوکي کې ډوب دی ... ورنژدې شوم ... روح یې الله ته سپارلی وو ... شاوخوا نور هم ډېر پراته وو چې په وژونکیو مرمیو لګېدلي وو ، دمسجد امام هم یوله پرتو خلکو څخه وو ، سپینه ږیره یې په وینو سره وه... ډېر ژر د وتلو او سفر په تکل کې شوم ... هغه _ رحمه الله _ پدې عقیده وو چې ترمرګه مسئولیت لري... "

هغه خپلې موخې ته ورسېد ، دمسجد په پاکه خاوره شهید شو ، خاینان یې په رڼا ورځ دهغو په مرکز کې مردار کړل ، شاوخوا خلک یې له ځان سره وخوځول ، هغه یقیناً په نیکمرغۍ له دنیا ولاړ ...

تر کومُل پورې ټوله لار له خطرونو ډکه وه ، خلکو دمسجد له پېښې ، د روسانو له خیانتونو او له تش په نامه انتخاباتو خبرې او حکایتونه کول ، هغه انتخابات چې له ټولو درغلیو سره سره د اولس په ګټه تمام شول ، خو له زوره یې کار واخیست ، ترور او اختطاف ته یې شروع وکړه ، خلک یې زندان ته واچول ، اولس پدې ټولو پوهېده ، ورځپاڼې او جراید ټول له درواغو ډک وو ، دا وضعه له هېچا پټه نه وه ، دلمانځنې کومې غونډې چې کېدې ، خوله ورو دولتي خطیبانو چې څه ویل ، پر دیوالونو لیکل شویو شعارونو ، دا ټول دهغه چل او دوکې ښکارندوی ووچې دروسي اوچینایي کمونستانو له خوابرابرشوي او جوړ شوي وو ...

د(ایلي ، آلتای ، شوشک) درې ولایتونه دکمونستانو تر ولکې لاندې راغلل ، پاتې نور اوه ولایتونه چې کمونست (برهان شهیدي) پرې واکمني کوله ، دې وطن پلورونکي خاین د شرقي ترکستان پیوستون له چینایي کمونست رژیم سره اعلان کړل چې ددې په اورېدو سره په خلکو کې وېره ترهه خوره شوه، په هر کور کې دماتم ټغر وغوړېد او ټول خلک دوېروونکي ، تور او خونړۍ مستقبل په ویر کې ډوب شول... دکمونست چینایي پوځ په بیا راتلو خلک پدې فکر شول چې دابه روسانو ته دلا زور زیاتي فرصت په لاس ورکړي ، پخواني بوږنوونکي یادونه یې لا یه سر

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوذهن کې وو چې د مستقبل وېرې هم ونیول ، باید هم وېرېدلي وای ، څکه دوه داړونکیو لیوانو یو بل ته سره لاسونه ورکړي وو...
مجاهدینو فیصله وکړه چې جهاد به دعثمان باتور تر مشرۍ لاندې جاري ساتي او یو پلاوی به د پخواني اولسمشر مرستیال(محمد امین بغرا) تر مشرۍ لاندې بهرنی نړۍ ته استوي چې دچینایې او روسي کمونستانو ظلمونه دنړیوالو غوږونو ته ورسوي او مرستې ترې وغواړي ، پلاوی په (۱۹۴۸/۱۲/۱۲م) تاریخ روان شو ، دخوځېدلي پلاوي څلورمه برخه هم کشمیر پورې روغ ونه رسېدل ، په سلو کې (۷۵) یې دلارې په اوږدو کې په شهادت رسېدلي وو ، چې ځیني یې د سرحدي سیمو په خونړیو جګړو کې او ځیني نور یې د ولوږې او یخنۍ له امله په حق رسېدلي وو ، دځینو ژوندي پاته کسانو ، لاسونو ، پښو او ګوتو په واورو کې دکنګل کېدو له وجې کار پرې اینبي وو ، څکه دې سفر دوه میاشتې وخت نیولی وو ، په اوږدو کې یې له لوړو غرونو ، واورینو لارو او لویو سیندونو اوښتي وو ، دنابلدۍ او مستقیمې لارې دنه موجودیت په وجه له پنځو سیندونو دوه سوه ځله تېر راتېر شوي وو ، دلوړو غرونو په هغو څوکو هم اوښتي وو چې اکسیجن پکې ډېر کم وو او له امله یې له پوزې وینو دارې وهلې ، په آخره کې ډېر کم شمېر دکشمیر پلازمېنې (سرینګر) ته ورسېدل ... دا اوږد او ستونزمن سفر زمونږ د اولس یې مثاله کړاو انځوروي ، هغه کړاو چې زمونږ مسلمانو خلکو ددین ساتنې او خپلواکۍ په لار کې وګاله ...
مګر ما په کومُل کې هم نجمه او ماشوم ونه موندل! ... کومُل دهغې کندې په څېر راته وبرېښېد چې یې له غمونو ، دردونو ، ترخو یادونو ، نور څه پکې نه وو ، خلک د وېرې او تېښتې په حال کې وو ، ډېرې کورنۍ غرونو او سرحدونو ته تللې وې ، چې دچینایانو له ظلمونو ځانونه خوندي کړي... ما دباریکول لاره ونیوله ، هلته عثمان باتور له شلو زرو مجاهدینو سره اوسېده په خورو ورو دنګو غرونو کې دمجاهدینو مرکزونه وو ، دادی زه یوازې ستون شوم ، منصور درغا مې دمسجد په دره په ابدي خوب ویده پرېښود ، چې خپل وروستی تم خای پخپلو پاکو وینو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خړوب کاندي، په رښتیا هغه دلوی سره لښکر په وړاندې په ډېره مېړانه وجنګېد او لویه قرباني يې ورکړه ....
هوکې ، په ګران هېواد کې داوږده او ستونزمن سفر نه وروسته دلومړي خل لپاره څه ناڅه ډاډینه محسوسوم ، دغرونو ډېرې خوښي او سکون رابخښي ، دلته پاکه خوږه هوا تنفس کوم ، او د زړه له تل نه لوی الله ته په دعا او تسبیح ویلو اخته یم ، په نوي غنیمت شوي وسله تمرین کوو ، هغه وسله چې خپل مؤثریت يې په نړیواله جګړه کې ثابت کړ او دنړۍ انډول یې بدل کړ ، مګر بیا هم لاسي سپکه وسله ده ، چې ددښمن له مرګنیو وسلو لکه شوبلو او جازونو سره هېڅ سمون نه خوري ...
څومره ډېر دنجمې لیدو ته لېوال وم ؟!... دخپل ګران خوی لیدو ته چې اوس به څخړ شوی وي ، کاش ورسره وای ، خبرې موکولای ، نخښه ویشتل مې ورښودلای ، آه ... زما بې وسه زړګیه ! ما دکانې لوی ګټ ګټلی وې چې ددوستانو او خوږمنو یادونه به دې ونه رېږوي ، دمینې او خوږو ورخو خاطرو ته به سرټیټ نکړې مګر اې زړګیه! ته هم وینه او غوښه یې ، زما ګناه څه ده ؟! او ستا ګناه څه ده؟!...
زه ډېر وړاندې نظر اچوم ، دآسمان لمنو ته ګورم ، په ملیونونو انسانان ذهن ته راولم چې په کروندو ، ځنګلونو ، ځړ ځایونو ، فابریکو او پوځي مرکزونو کې په کارونو بوخت دي ، او دهغو ترمنځه خپل یوازینی زوی لټوم ... زویه ته به چېرته یې ؟ اوښکې مې وبهېږې ، زړګی مې چې دژوند په اړدو کې له سختو ناخوالو نور څه ندي لیدلي ، په چاود راغلی ... هر کله چې کوم ماشوم وینم ، په ډېره مینه ورته ګورم ، ځکلوم یې ، آن تر ډېره یې ځارم ، کله خو ورپسې روان شم ، او ځیني تازه مېوې ورکړم ...
او له هغه نه د واړه زلمي چې نیاز مصطفی مراد حضرت نومیږي پوښتم ، اودنجمې پوښتنه ترې کوم ... آه ... زما زړګیه ! ستا خیالونه او یادونه مې دردوي ، پخوانی مینه مې ډېر دردوي ، هغه سرکښه مینه چې واورو سره نکړه ، دژوند کړاوونو لاندې نکړه ، او خونړیو جګړو محوه نکړای شوه هماغه مینه مې په زړه اور لګوي...

(c) ketabton.com: The Digital Library



عثمان باتور ساده سړی نه وو چې له پېښو اوپایلو بې بې خبره وي ، هغه خیرک ، اتل مشر وو ، پدې پوهېده چې لده سره شل زره کسیز پوځ دملیونونو چینایانو مخې ته نشي ټینګېدلای او نه دروسانو سور سېلاب په مخ کې ودرېدلای شي، مګر هغه څو مهم هدفونه درلودل ، تر ټولو لوی هدف بې داوو چې جهاد باید ژوندی پاتې شي ، نور شاوخوا مظلوم اولسونه ددوی دجهاد غږ په دوامداره توګه واوري، چې دا به لوی پاڅون ته لاره هواره کړي ، پدې توګه به د ښکېلاکګرو ترپښو لاندې مځکه سره تبې شي ، او همدارنګه دجهاد دوام به ټوله نړۍ وینبه او دمظلومو اولسونو مرستې ته وهڅوې ... او تر ټولو مهمه داوه چې غلامۍ ته تسلیمېدل دعثمان باتور او دهغه دملګرو په ذهنونو کې کله هم نه وه ګرځېدلې ، هغه به هر وخت په هر مناسبت کې دا ویل:

- "زمونږ تقدیر به همداسې وي ... او دا هم راته لیکل شوي چې څو ژوندي یو ، وسله به نه غورزوو ، شهادت تردې ډېر ښه دی چې دچینایانو یا روسي کمونستانو تر ولکې لاندې ژوند وکړو ... الله اکبر ، ولا حول ولا قوه الا بالله ..."

چینایي ښکېلاکګرو له مجاهدینو وېره احساس کړه ، چینایي حکومت دخپلو خاینو مزدورانو یو پلاوی د (احمد تایجي) او (نظر افندي) په مشرۍ (باریکول) ته ولېږه چې خپل مجاهد وطنوال دحکومت پر خلاف له پاڅون نه منع کړي او ترې وغواړي دهېواد پلازمینې "اورمچي" ته راشي او خپلې غوښتنې له چینایي مسئولینو سره مطرح کړي.

عثمان باتور وویل:

- "اورمچي ته دجهاد دمشرانو تلل ډېرې خطرناکې پایلې لرلای شي... هوکې ... مونږ پر کمونستانو باور نشو کولای ، ورور (قانبای او شاه مردان) دې ورشي ، او زمونږ غوښتنې دې ور واوروي ...او هغه په دې توګه دي : زمونږ خپلواکي دې باوري کړای شي ، مونږ دې خپلو نظریاتو او عباداتو ته آزاد پرېښودل شو ... له نیولو او زنداني کولو مو لاس واخلي ... زمونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دشخصي شتمنيو مصادره دې بنده شي ، او زمونږ اولس دې پرېښودل شي چې خپل برخليک دنورو له لاسوهنې پرته پخپله وټاکي ..."

جنرال عثمان باتور داسې نه وو چې ددښمنانو په مکر ، چل او دوکه نه پوهېده او له پلانونو خبر نه وو ، له همدې امله مونږ شپه او ورځ جګړې لپاره په تياريو بوخت وو ، اورمچي ته تللی پلاوی بې له کومې لاسته راوړنې ستون شو ، زه له جنرال سره په يوه وړه او لنډه ليدنه کتنه چې د غره له څو سنګرونو بې لرله مل ووم. وامې ورېدل چې دشوندېو لاندې بې ويل:

- "پر اندلس دې سلام وي ..."
- "دالله اراده به همداسې وه ..."
- "دېر فکر او سوچ پدې کې کوم چې بشريت ولې په سوله ، آرامۍ او سوکالۍ کې ژوند نه کوي؟!..."

عثمان باتور غمجنه غوندې خندا وکړه ، وبې ويل:

- "دچينايانو خپله څمکه پراخه ده ... انسانان پکې دومره ډېر دي لکه مېږيان ... هغوی ولې زمونږ د خاورې خوبونهويني ؟ دانګرېزانو او جاپانيانو له خوا ورپېښ شوي دردونه او رنځونه بې هېر کړل ؟ ... انسان هېڅکله عبرت نه اخلي! ..."

له لږې چوپتيا وروسته بې بيا وويل:

- "دقرآن له تعليماتو مو دا زده کړي چې : يا به آزاد ژوند کوو ، او يا به له عزت او عقيدې نه ددفاع په لار کې تر مرګپورې جنګېږو ..."

بيا بې مخکه پرېښه وډېرله ، وويل:

- "ژوندون پدې دنيا کې لنډ مهاله او بې ارزښته دی ... دآخرت ژوند څومره ښکلی او خوندور دی ، له همدې وجې الله تعالی دآخرت ژوند يوتلپاتې ژوند ګرځولی دی ، هغو هيوادونو او وګړو ته بې تعجب کوم چې ددې لنډ مهالې دنيا دبې ارزښته

(c) ketabton.com: The Digital Library



مال او متاع دلاسته راوړلو لپاره یو دبل سره منګولې لګوي ، او وینې تویوي! ... له همدې امله دالله په لیاره کې مرګ راته ښکلی ژوند ښکاري ... "

هغه په ښکلې ږېره او برېتانو لاس راکاږلو ، شاوخواته یې وکتل او وویل:

- "په الله ایمان لرم ... نړیوالو دالله له عبادت نه مخ ګرځولی او استعماري زور او ځواک ته یې سرټیټ کړی ... دادمریانو او غلامانو دنیا ده ... هغو چې په برلین کې ماتې خوړلې او هغو چې په لندن، پاریس او امریکا کې سوبه کړې ، ټول غلامان او مریان دي..."

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۹)

زمونږ په چاپېريال کې هر څه په توندۍ سره دتغير او تبديل په حال کې وو ، وګړو ، دريځونو ، وسلو ،اقتصاد ، سياست ، دنړۍ نقشې او داسې نورو... د ادلون بدلون په ډګر ګرندي ګامونه وهل ... او همدارنګه زمونږ ډېرو اولادونو دماتې له امله خپل شخصيتونه بايللي وو ، په نويو اصطلاحاتو يې ژبې ماتولې ، تازه راوتلي شعارونه يې زمزمه کول ، جنوکۍ ، ياالـــهي !... سرکونو ته مخ لوڅې راوتلې ، د اخلاقي انحرافاتو، پرېوتو کارونو طوفاني څپو هرڅه دتمدن او پرمختګ په نوم دتباهۍ او بربادۍ په لور وړل ، آيا شونې نه وه چې انساني ټولنه دآزادۍ له تروړل کېدو پرته او په فحشاوو له روږدي کېدو پرته دپرمختګ لوړ مقام ته ورسېږي؟! آيا د علم او فن لپاره کافر کېدل اړين دي ؟! ولې تمدن او پرمختګ له آزادۍ او عدالت سره غاړه په غاړه نه درومي ؟! ولې نړيوال دټول کاينات په خالق دايمان په درلودلو ، لاس په لاس ژوند نه کوي ؟! دښځو له بربنډېدو او فاحشو دزياتېدو بغير ولې ترقي نه راځي ؟! ولې اولسونه يې لدې چې يو پر بل دبرلاسۍ زيار وباسي ددوستۍ لاسونه نه ورکوي؟! پدې ورځو کې مې چې څه وليدل ، ټول راته دشيطان کړه وړه برېښي ... ما به ملګرو ته همېش ويل: غيرت ، عفت او پاکي ټوله دغرونو سرونو ته راټوله شوې .... او کله به مې چې په الله او دين مين جنرال عثمان باتور ته کتل ، دسلف صالح له پاتې شونو به راته ښکارېده ، پدې سړي کې لرغوني نايابه لوړ اسلامي ارزښتونه او معيارونه راټول شوي وو... په زړه کې به مې ورته له ډېرې مينې کلک هوډ وکړ چې زه به تر مرګه ورسره يم ...

له چينايانو سره مو چې په نويو وسلو سمبال ول ، خونړۍ جګړې وکړې، په خينو جګړو کې برۍ هم زمونږ په برخه شو ، مګر ايا دا برۍ څه آسانه کار وو ؟ نه هېڅکله نه...دغليم مرستندويه کاروانونه يې شمېره زيات ول ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



او زمونږ مجاهدین ورځ تر ورځې کمېدل ، زمونږ برې په الهي فضل زمونږ دبې مثاله قربانیو او اتلولیو ثمره کېدای شوه او بس ، عثمان باتور دشونډو لاندې ووېل:

- "زمونږ مجاهدین پر مخنګ کوي ، او د شهادت په لور خغلي ..."
- محترم جنرال صیب ! هغو خپل مسئولیت ښه پېژندلی ..."
- "مصطفی حضرته ! دجګړو د تاریخ کوم زرین بابونه چې دوی پخپلو وینو لیکلي ، ږا به دتاریخ نه هېرېدونکي جګړې او بابونه وي ، پدې وروستیو کې دجګړې له لومړیو کرښو اطلاع راغلې ده چې دښمن د یو لږ پراخو عملیاتو تیارئ نیسي ..."

خو روځې لاتېرې نه وې چې دعثمان باتور له وړاندوینې سره سم په ناځاپي توګه دچینایانو له لوی لښکر سره چې په درنو وسلو سمبال ول مخامخ شولو ، خونړۍ جګړې مو ترمنځ پېښې شوې چې پوره درې میاشتې بې دوام وکړ ، آخر دې فیصلې ته ورسېدو چې دافرادو راټولولو او ځان تیارولو لپاره به چینایي ولایت "شینهای" ته شاتګ وکړو ، هلته به مرکزونه پرانیزو او پر کمونستانو به له هغه ځایه بریدونه تر سره کوو ، مګر (شینهای) ته درسېدو لاره ډېره ستونزمنه وه ، مرګ راته په هر لوري مورچه نیولې وه ، کفارو زمونږ دماتې شېبې شمېرلې ، دښمن له هرې خوا نه کلابند کړي وو ، دلسو زرو (۱۰,۰۰۰) نه زیات پوځیان د (آن سی شا) له ښار نه چې د (ګانزو) ولایت پورې تړلی وو ، زمونږ لورته خوځېدلي وو ، دماتې او نابودۍ احساس راباندې غالب شوی وو ، داسې معلومېدله چې پخپله ځانونه دمرګ کومې ته ورنژدې کوو ، آخر د(شینهای) مربوط ښار ګوتې (ماخای) ته ورسېدو ، دا نولس سوه پنځوسم (۱۹۵۰) میلادي کال داګست میاشت وه ... غوښتل مو پدې ځای کې لږه دمه وکړو ، او دآرامۍ ساه واخلو ، زه دلته دنجمې او خپل زوی په لټه کې شوم ، زما ارمان دا وو چې هغه دواړه له شهادت نه مخکې یو ځل ووینم ... کېدای شي ځینې خلک فکر وکړي پدې سختو او ناسمو شرایطو کې دا یو ووړ او بې ارزښته آرمان دی ، او ځینې نور مې شاید په ځان غوښتنه او خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



پالنه تورن کړي ، پدې حالاتو کې چې اسلامي ملک مود له منځه تلو په حال کې دی او دی دښځې او بچي په فکر او غم کې ! خوزه دخلکو لدې خبرو نه وېرېږم ، ځکه په ټول ژوند کې له ځان او نورو سره رښتونی وم ، زه هم انسان یم ، اوښکې هم سترګو ته خپلې لارې پېژني ، او همدارنګه غم او خفګان ته هم دزړونو لارې ور معلومې دي ...

دچینایانو له خوانه زمونږ تعقیب او څارنه لا هماغسې روانه وه ، په زرګونو نور پوځیان د (ګانزو) ولایت پورې اړوند ښار ګوټې (دون خان) له خوانه زمونږ په لور راخو ځېدلي وو ... همدارنګه په زرګونو تنه نور له چین سره دسرحدي ترکستاني ښار (شر خلق) له لوري هم را روان ول ...

عثمان باتور وویل:

- "ای عزیزانو! ای مېړنیو چې شهادت ته مو پر ژوند ترجېح ورکړی ! نن شپه دښمن د (ماخای) پر ښار لوی برید کوي ، ای د الحاد دعصر شهیدانو! سرېخورو لیوانو ټولې لارې تړلې دي...تاسو ګورئ چې ټول وطن سرو بیرغونو نیولی دی ... هره ورځ قصابان یوه ډله انسانان لکه رمه دحلالولو لپاره په مخه کوي ... هغوي د رمي او بشر ترمنځ توپیر نکوی ... ورونو ! له (باریکول) نه تردې ځایه مو چې کومه ستونزمنه لاره وهلې ده دا ټوله لار دشهیدانو په پاکو وینو سره ده ، آه ... څومره اوږده او سخته لاره وه ! ډېرې میندې ماشومان او بوډاګان ، کورونو پرېښودو ته اړشوي ، مونږ لټوي او یا هم خپل خپلوان ... د اورمچي راډیو شپه او ورځ کمونستي سرې ترانې خپروي ، او دآسمان لمنې يې په الحادي مفاهیمو زهرجنې کړې دي ، او زمونږ دخاورې بچیان یا دفحشاوو په تالارونو کې زندانیان دي ، او یا هم لېرې سرحدي سیمو ته تبعید شوي او شړل شوي ، او یا هم د دار تر ستنې لاندې دمرګ په انتظار شپې اړوي او پخپل غمجن کمزوري آواز له الله نه مرسته غواړي ، لدې ژوندیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهیدانو نه هغه ډېر نیکمرغه دي چې مخامخ په جګړه کې شهیدان کېږي ...
ورونو! دجګړې ډګر ته به درومو ټولي ټول شهیدان شو ... خو که څوک له تاسو نه ژوندی پاته شو ، باید زمونږ د برحقې مبارزې او ربښتوني جهاد چې اوږده کلونه بې دوام وکړ ټولې تاریخي حماسې څلورو خواووته په زور خوب ویدو مسلمانانو ته ورسوي ، د عربو ، پاکستان ، هند ، او افغانستان مسلمانانو ته وواياست چې دوهم اندلس دالله او دبشریت د دښمنانو تر ستونې تېر شوا ... څوک پوهېږي؟ ښايي مسلمانان یوه ورځ له خوبه راویښ شي ، په یوه صف سره راټول شي ، د (لا اله الا الله محمد رسول الله) تر بیرغ لاندې دهمت ملاوې وتړي ، له کفر سره درنې جګړې پیل کړي ، پر الله تعالی غیرت وکړي ، په دین ، مقدساتو او په مظلومو مسلمانانو غیرت او ننګ وکړي ...
او دا هم زما لخوا دنړۍ د مسلمانانو غوږونو ته ورسوئ چې ددښمن په ویناوو او تبلیغاتو باور مکوئ ، او د هغوی په تاریخ ، فلسفه او دعوت مه دوکه کېږئ ، دهغوی ټولې خبرې درواغ دي ترهغې چې خپل دین درباندې ونه مني نه مو پرېږدي ..."
عثمان باتور آسمان ته وکتل ... مخ په قبلې شو ، او لمانځه ته بې وبللو... سبا ته له هر لوري دښمن پر مونږ یر غل راووړ ...
درنه جګړه پیل شوه ... پخپل ټول توان او وسایلو په جګړه ښکېل شولو ، خو هرڅه مو ختم شول ... جنرال عثمان باتور ددښمن لاسته ولوېد ... ماله جګې غونډۍ ورته کتل ، هسکه غاړه روان وو ، کمونستانو هغه له لستونو ، پټکي او څادر نه راښکلو ، خو هغه آرام او غلی وو په سپکه سترګه او حقارت بې دښمنانو ته کتل ... له مجاهدینو چې څوک ژوندي پاتې وو، هر لوري ته خواره شول ، هر یوه سرحد خوا ته دځان رسولو کوښښ کاوه ، چې کشمیر ته واوړي، د (۱۹۵۱) م کال داپرېل په(۲۴) جنرال عثمان باتورداعدام ډګر ته یووړل شو ، اونوي زره(۹۰,۰۰۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترکستانیان او چینایان داعدام ننداري لپاره په زور او جبر سره صحنې ته ولېږدول شول ، چې دلوی اتل پای ووینې ، پدې توګه دجهاد لوی اتل جنرال عثمان باتور دشهادت لوړ مقام ته ورسېد...

دنندارچیانو په ډله کې مې ځان وهلی وو، دې لپاره چې څوک مې ونه پېژني د(دون خان) دښار د ملېشو جامې مې په ځان کړې وې، شهید جنرال ته مې کتل ، بې ځایه مې خندل ، له سترګو مې او ښکې روانې وې لکه لیونو مې چیغې وهلې: "ژوندی دې وي عدالت"

زړه مې په تکه توره وژونکې شپه دسفر په لاره درواڼېدو اراده وکړه ... له دوزخه دتېښتې په لاره! ... له ډېرو دردونکو شپو وروسته دکشمیر سرحد ته ورسېدم . هلته مې خپل ملګري وموندل ، له شلو زرو مجاهدینو نه یوازې درې سوه پاتې وو ، څکه دلارې په اوږدو کې د دښمن له برېدونو سره مخ شوي وو ، او په جګړو اوښتي وو ، لکه د(تبت) په خاوره کې د (سینکرس او کوساو) جګړه چې دښمن ته هم پکې لوی زیانونه ور اړول شوي وو... آخر کشمیر ته ورسېدو چې شمېر مو درې سوه تنو ته رسېده ، اکثره ښځې او ماشومان ول ، چې پلرونه یې په جګړو کې شهیدان شوي وو ...

کله چې دکشمیر پلازمینې (سرینګر) ته ورسېدو ، دترکستاني مهاجرینو ډلې زمونږ لیدو او استقبال ته راغلې ... ټولو یو او بل سره په غېږ کې ونیول... خوب ته سخت اړین وم ... چې نور مې ځان نشو ټینګولای ... بې ارادې په خوب تللی وم ... پوی نه شوم څومره وخت راباندې تېر شوی وو ، خو د لمر له ډوبېدو لږ مخکې زړه سواندو ، پستو لاسونو په ورو غوندې وخوځوله ... سترګې مې پرانستلې ... یا الهي ! زه په ویښه یم او که په خوب کې؟ دا خو نجمه ده ، دکشمیریانو شانته جامې یې اچولې وې .... دسترګو تور زوی (نیاز) هم ورسره ولاړ وو ... زه یې ښه پېژنم ... سره لدې چې دلمر تودوخې او وړانګو یې دپوستکي رنګ بدل کړی، هغه چې پخوا سور سپین وو ، اوس غنم رنګ وو ... دماشوم په ښکلولو ولګېدم ، سر او مخ مې ښکل کړل ، دنجمې پر مخ مې لاس راښکلو ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترګې مې له اوښکو ډکې شوې ، ستوني مې بند شو ، غاړه مې وپړسېدله،دخبرو ځواک راکې نه وو ، نجمې هم لکه ما غوندې خپلې اوښکې او سلګۍ نه شوې بندولای ، هنې زه خپله غېږه کې کلک نيولی وم ، ماشوم راته دواړه لاسونه په غاړه کې اچولي وو ...

- "مصطفی ! ګمان مې نه کاوه په ژوندون بې سره وګورو!... دبوډاتوب واورې دې پر سر پرېوتي دي ... مخ دې د دردونو او کړاوونو ګونځو نيولی دی ، داسې برېښې ګویا سل کاله مو پر بېلتانه تېر شوې وې ..."

ماشوم مې ښکل کړ ، په نيولي او رپېدلي غږ مې وويل:

- "څومره دردوونکې ده ، چې زه را وتښتېدم او خپل مسلمان زنداني اولس مې دسرحد شاته پرېښود ، او چينايي او روسي وحشيان بې پخپلو کې سره وېشي؟!..."

نجمه چې زما په ليدو خوشحاله او د اولس له غمه بې رنګ ژېړ وو، وويل:

- "زما خوښه داده چې نور دبيت الله په لور مخه کړو .... هلته به په مکه مکرمه يا مدينه منوره کې پاتې ژوند تېرکړو ..."

تر شا پاتې شويو تيارو هسکو ته مې نظر واچولو ... دټول ژوند ملګری منصور درغا راپه زړه شو ، چې دالله په کور کې په شهادت را نه بېل شو ، ددرانه مشر حاجي خوجه نياز او جنرال شريف خان په شمول هغه ټول مؤمن ورونه راپه زړه شول چې په تورو زندانونو کې بې له الله سره کړې وعده تر سره کړه ، بيا هغه سپېڅلي شهيدان چې له عثمان باتور سره بې ځنګ په ځنګ جهاد وکړ او سرونه بې قربان کړل ، او بيا مې دعثمان باتور داعدام زړه څيرونکې صحنه راپه زړه شوه ... دشونډو لاندې مې وويل:

- "ډېر ژر به دبيت الله په لوري وخوځېږو ... ښايي د زمزم داوبو څاڅکي خپل شوی او مړ ژواندی روح بېر ته تازه او راژوندی کړي ... دحج ورځې راپه زړه کوم ، او خيال وينم چې په عرفات کې دجبل رحمت په غره دحاجيانو تر منځ په جګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای ولاړ یم ، په چین او روسیه کې داوسپنیزو دېوالونو تر شا دزنداني مسلمانانو د آزادی زیری ورکوم ... او بیا ځان د هغو ملیونونو مسلمانانو په منظمو صفونو کې وینم چې کفنونه يې تر ملا دي ، دتوحید تر بیرغ لاندې راټول شوي ، د کفارو له منګولو نه دملیونونو زنداني او مظلومو مسلمانانو دخلاصون په اراده په ځپاندو ډلو د تکبیر له نارو سره روان دي.

"دامې دژوند قصه وه"

- نجیب ګیلاني -

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**